پښتو ادب کښې

تحقیق او تنقید

صاحب شاه صابر

په پښتو ژبه او پښتون اولس
مئن حبیب الله رفیع صاحب ته
په ډېره مینه.
صاحب شاه صابر.
۱۲-۱۱-۹۵

پښتو ادب کښې تحقیق او تنقید

●

صاحب شاه صابر

حقوق محفوظ دي

کتاب نوم ———— په پښتو ادب کښې تحقیق او تنقید

لیکوال ———— صاحب شاه صابر

کتابت ———— لطف الله

د چاپ ځائے ————

د چاپ کال ———— سنه ۱۹۹۵ء

د چاپ شمیر ———— ۱۰۰۰

اهتمام ———— عثمان اولس یار

خورونکي

پښتو ادبي جرگه ملاکنډ

وړومبۍ هڅه

د تحقیق او تنقید لارې ډیرې اوږدې او پیچیده هم وي او ډیرې مشکلاتو ډکې او زړه‌ښکونکې هم وي - د ژوند ژواک، علم او ادراک تجربې او تجزیې په دغو لارو د سوونو او زرګونو کالو د قافلو پلونه لګول او په دغو پلونو د فکرونظر د خاوندانو رائې، تحقیق او تنقید ته په تنقیدي نظر کتل او بیا پرې خپل فکرونظر وړاندې کول ګران کار دے دومره ګران چې اظهار ئې په لفظونو کښې نهٔ شي کیدے - څو چې دیو عمر د ټولنې تجربې سره ددې عمل نه تېرنهٔ شي خصوصًا د عملي تنقید تقاضې پوره کول خو داسې دي لکه د سوونو او زرګونو کلونو د عقایدو په آباده بناریه کښې چې څوک د نوې تجربې او انکشاف دهماکه کوي - تنقید چې په څهٔ نهٔ څهٔ شکل کښې د مختلفو نظریاتو نه د پیدا شوې اصولو او روایاتو بنیادونه هم لري - او په دغه بنیادونو د عقیدو ترحده رسیدلي لوړ لوړ دیوالونه هم - دغه دیوالونه د بیخه غورزول خو د هیچا د وس خبره نهٔ ده خو کهٔ څوک پرې د علم و ادراک د رڼا نوې رنګ خپرول غواړي نو داهم هر هغه څوک کولې شي چې د فکرونظر زورهم لري او د مطالعې او مشاهدې بلاشته‌مني هم - په اصل کښې انسان چې څومره ماضي پرست دے دومره جدت پسند هم دے - خو پښتون کهٔ هر څو د نوي د علم وادراک په لمن کښې د شعور اخستو دپاره مجبور

دے. بیا هم دې د خپل ثقافت او نفسیاتو له مخه د نورو ټولنیزو انسانانو نه یو "بیلتون" یا انفرادیت لري. د دغه انفرادیت په وجه مونږ دېیلې شو چې دے ماضي پرست زیات دے او جدت پسند کم واقع شوے دے او دا د پښتون المیه هم ده چې دې یو داسې لنډ پارے روایت پسند دے چې نه د دومره اوږد ماضي سره د روابطو په حق کښې دے. او نه یې غوښته دومره د جدیدو تجربو او انکشافاتو سره بلد کړې دې. چې کښې څه نوې تجربه به اووینې یا څه نوې انکشاف به واورې او په دې به حیران نه شي او شک به پرې اونه کړي. پښتون په اصل کښې د خپلو عقائدو سره د مینې یې دریغه عقیدت د خپلو "حالاتو" او د خپل ذات او قامي عرفان نه شوکولې او بېګانه کړي څه چې یې نیازه کړې دې.

دے د خپل انساني او قامي نوغي په زړګونو کالو تاریخ ویاړ هم کوي. خو خپل د زړګونو کالو تهذیب، ثقافت او تاریخ ته د کړکې په نظر هم ګوري. او دغه ژوندي ژواک او ماضي د جهل د دور یادګارونه هم ګڼي. دې عمل دے په اجتماعي ډول، ذهني طور شنډ کړے او بدني طور شل ګوډ کړے دے. ځکه نو یو طرفته د خپل ماضي نه شرمیږي او بل طرفته جدیدو افکارو او نظریاتو ته سترګې نه شي غړولے. زمونږ په ټولنه کښې د ښځې غونډې سخت عمل شوید ے نو د جرنډې مخالفت موکړید ے. دغسې که د "یوې" په ځائې ټریکټر راغلی دې که د ښځې په ځائې بوټ راغلي دے. که د پړونې په ځائې برقع راغلې ده. مونږ د هر نوي څیز مخالفت کړید ے. دا بیله خبره ده چې د ژوند په یوه مرحله کښې مو د هر نوي څیز نه بنه په خلاص مټ استفاده کړېده.

د اعمل په مونږ دا خبره واضحه کوي چې مونږ په مجموعي ډول د محنت په کور کښې تخلیقي توان بایللې دې او په تعلیمي سطح موسل مفعولي قسم رول لوبولې دې . په دغسې ټولنه کښې او په دغسې حالاتو کښې که یو طرفته د محقق او نقاد رویه لرل یا پیدا کول ګران کار دے . نو بل طرفته په خلقو کښې دغه رویه عام کول هم د اوسپنې نینې چیچل دي . په دې لارو کښې هر کار چې د لرې نه اسان ښکاري د کولو په وخت کښې ډېر ګران محسوس کیږي خو ملګري صابر یو لوستې روڼلې شوې باصلاحیته او محنتي لیکوونکې دے . هرڅو که دده د تحقیق او تنقید تجربه نوې نهٔ ده خو د "عملي تنقید" په وخت به دې د موجوده روایاتو عقائدو او نظریاتو او دهغې نه د پیدا شوو نفسیاتو د پیچیدګیو او الجهنونو نه ضرور تېر شوې وي او د خپل ماحول او چاپېرچل د ننه به یئې د پېژندګلوټے . یارئ دوستئ قامي پت او مروت په ګرفت کښې ځان ضرور محسوس کړې وي .

خو د دې هرڅهٔ باوجود بیا هم د ښاغلي صابر د دغې اغاز او تجربې جرأت د ستاینې وړ دے . ملګری صابر چې کوم نکات د قلم لاندې راوستي دي او بحث ته ئې سم کړی دي . د هغې د پاره هغه ښهٔ ډېره مطالعه کړېده . هر څو که ورسره د اتفاق او اختلاف ښهٔ ډېر ګنجائش شته خو دغه کار یې د ستائنې وړ دے . چې مونږ ته ئې ډېر ګران څیزونه د غور او فکر کولو دپاره اسان کړي دي . ملګري صابر زمونږ توجه داسې مسئلو ته راګرځولې ده کومې چې زمونږ د ژوند ژواک او علم و ادراک بنیادونه دي .
مونږ د ملګري صابر د دغه نیک په ذریعه نهٔ یوازې د خپلو پښتنو

ليکوالو د تحقيق مطالعه کولے شو بلکې د عالمي مفکرانو د نظرياتي او عملي تنقيد د فکر انګيزو رويو نه هم استفاده کولے شو - ملګرې صابر که هر څو د تنقيد د دوارو لارو دپاره د عالمي مفکرينو د افکارو نه اثر اخلي خو د خپلې ټولنې کره وړه او ضرورتونه هم په نظر کښې لري - او هره خبره او هره نکته چې راپورته کوي نو په زړه کښې يې د خپلې ټولنې د علم و ادب د روزنې او پالنې او پرمخ تګ ارمان په ټوپونو وي او غالباً هم دغه نکته ده چې ملګرې صابر يې په دې مجبور کړې دے - چې خپله مطالعه او د هغې نچوړ خلقو ته اوسپاري او هم په دغه ذريعه په خپل ټولنيز ژوند کښې د علم و ادراک دپاره خلق تيار کړي - چې هم دغه يوازينۍ لار ده چې قامونه او اولسونه په دې لار د ترقۍ بام ته رسي -

که څوک د ملګري صابر د انداز نوې او نه کښې نو روايتي به هم ورته اونه وائي او که څوک يئې دومره هم اوکښي نو دا به ددۀ کمال هم وي او کاميابي هم -

منم چې د خپلې موضوع دپاره چې ملګري صابر څومره ډېره تياري کړې ده - د هغې نه په نتائجو اختو کښې به ورسره شايد څوک اختلاف اولري چې اختلاف پخپله د تحقيق او تنقيد يا د علم او ادراک سرچينه ده. نو د دې باوجود هم ملګري صابر په مونږ احسان کړې دے - چې مونږ ته ئې ډېر مشکل موضوعات ، مشکلې نکتې او مشکل بحث ډېر اسان کړې دے. چې مونږ نه يوازې د هغه سره د هغۀ په مطالعه کښې شريکېدې شو بلکې ډېر څۀ ترې زده کولے هم شو -

ددې کتاب د مطالعې نه پس ددې خبرې بلا امکانات شته چې مونږ

د پهٔ خپل تحقیق او تنقید کښې نوي سوال جواب ته هم نوې لارې پرانیزو.

بائد چې مونږ ددې کتاب د مطالعې پهٔ رڼا کښې د تنقید د روایت د نوي سر

جاج واخلو چې د "مجهلو" او بے "معنې" بحثونو او ټیکونو نه ځانونه بچ کړو ولې خپل خلق او خپل ټیکوالان د خپلې ټولنې د نوو ضرورتونو او غوښتنو دپاره او پارو او پهٔ دغسې کولو کښې به د ملکري صابر دا کتاب د بنیاد کار او کړي. ځکه چې زمونږ د علم و ادراک تقاضې یوازې پهٔ ستائنې ټیکونو نهٔ پوره کیږي. مونږ هم یو قام قبیله لرو بائد چې دیو بل د فادانئ د احترام سره سره د رائې د احترام چل هم زده کړو. هسې نه چې د موجوده روایت برقرار ساتلو پهٔ غم کښې او د یارئ دوستئ او خوشامندو پهٔ بیابان کښې رانه دغه شته چینې هم اوچې شي. او هر تحقیق مو د نقل نقل او د سیوري سیوري شي. دې هر څهٔ ته فکر او نظر راګرځول که د نن وخت یوازینې ضرورت دے نو د ملګري صابر دغه کتاب ددې هر څهٔ روښانه ثبوت او ملسون دے.

که زما سره څوک اتفاق کوي او کنه. دا کتاب د یو ګټور علمي بحث اغاز کولې شي او د علمي بحث نه چرې هم غیر علمي او غلطې نتیجې نهٔ راوځي.

پهٔ درناوي

رحمت شاه سائل

۲ اګست ۱۹۹۴ء

د صابر زيار

د يو قوم د ذهني پياوړتيا او پرمختګ پته د هغه قوم د ادب په ائينه کښې ليدل کيږي . او د دغه ادب د هيئت او علمي څېړنې درک موږ ته د دغه ژبې په تنقيدي ليکونو کښې معلوميدې شي . د پښتو ادب اوس د يو څو کلونو نه د نوې تجربو او نوي صفتونو سره اشنائي حاصله کړېده او په دې لړکښې ډېرې د قدر وړ اضافې اوشوې او د نوي غوښتنو (جديدو تقاضو) تر مخه دا ضروري هم ده چې داسې ليکونه اوشي چې د ژور علميت ژوندې روح پکښې په پوره ډول موجود وي . او د ادبي او تنقيدي تندې ماتېدو سره سره لوستونکي او خپله نقد کوونکي هم دا محسوس کړي چې د روايتي مطالعې او څېړنې د چوکاټ نه ځان بهر کړي او د ژوندي حقيقتونو په رڼا نظر بر څېړه طرفداري او څېړنه اوکړي . د اوسني علمي نړۍ د غوښتنو معيار د خالص عقل په بنياد ولاړ دې . او د دې حالاتو د دغه تقاضو تر مخه پکار ده چې د نن نقاد خپل فکرونه او صلاحيتونه د مصلحتونو ښکار نهٔ کړي او د مستقبل په ائينه خپله څېره رڼه او صفا ښکاره کړي . په دې لړکښې د ګران صاحب شاه صابر دا زيار يقيناً چې د ډېر قدر او

ویاړ وړ دی . تراوسه خو په پښتو ادب کښې هر کتاب داد ب په بولئی کښې دیوې درنې اضافې سبب ګڼلې شوې دې . نو که دیارې دوستۍ د خاطرنه پرته ددې کتابونو څېړنه اوشي نو یقیناً چې د مقدار په لحاظ ډېره اضافه شوې ده . خو د معیار په لحاظ دا اضافه په اوړو کښې د مالګې برابر ده او که زه د صابر صاحب دا کتاب د معیار په لحاظ په دې یکونو کښې د ټولو نه درنه اضافه اوګڼم نو مبالغه به نه وي . صابر صاحب د خپلو موضوعاتو سره پوره پوره انصاف کړېدې او د تنقیدي څېړنې ئې پوره حق ادا کړې دے .

" په پښتو ادب کښې تحقیق او تنقید " یقیناً چې ډېر کراو او زیار نه پس یکلې شوې ده . دا مقاله به د پښتو ادب د طالبعلمانو او لوستونکو دپاره د یو ګائډ کار هم اوکړي کوم کتابونه چې اوس زمونږ په لاس نه راځي د هغې متعلق دا مقاله مونږ ته دومره معلومات راکولې شي چې د غه کتاب په څه موضوع څه قسمه یکونه لري .

په دې مقاله کښې بناغلي صابر صاحب د ډېرو معتبرو یکوالو او ادیبانو ډېرې غټې تېروتنې او غلطۍ په ګوته کړي دي . او د یو نوی بحث لاره ئې پرانستې ده . صابر صاحب په ډېر علمي او مهذب انداز کښې د ادبي مشرانو په ادبي ، علمي تاریخي او تنقیدي تېروتنو داسې نیوکې کړې دي چې هر څوک به ورسره اتفاق اوکړي . په دې کتاب کښې د تنقیدي اصولو ترڅنګه زیات کار د عقلي او علمي تجربې نه اغستې شوې دے .

دکتاب اکثره برخه په اساسي او ژور فلسفیانه شعور او منطقي استدلال مشتمله ده او صابر صاحب د خپلو تنقیدي نظریاتو په رڼا کښې د خپل رسا ذهنیت او وسیعې مطالعې تر څخه یو داسې کار تر سره کړي دي چې دهغې صفت به بې ځایه نه وي او دا په پښتو ادب کښې د تنقید په اصولو ورمبې د قدر وړ کوشش دی ۔

عثمان اولسیار

۱۸ ستمبر ۱۹۹۲ء

څه خبرې . څه تجويزونه

"اے مومنانو که څوک فاسق تاسو له د شر خبر راوړي نو پوره تحقيق کوئ . هسې نه چرته په ناپوهۍ کښې يو قام ته زيان اورسوئ او بيا پخپلو کړو پښيمانه نه شئ ."

(سورة الحجرات)

"اے خدايه په موږ څيزونه داسې اوښيه څنګه چې هغه وی ." (دعا)

خدائے او د خدائے رسول حضرت محمّد صلّی الله عليه وآله وسلم د کائناتي مظاهرو ، انساني دښتو ، تعلقاتو ، رويو ، تاثراتو ، خبرو او خبرې د حقيقت معلومولو دپاره انسان ته بيا بيا د تحقيق کولو تاکيد کړے دے . ځکه چې د انسان بقا ، بناسُت ، سمون او سوکالي په تحقيق ده . تاريخ ګواه دې چې کوم قام د تحقيق په ميدان کښې څومره پرمخ تګ کړے دے . په دنيا کښې ئې دومره واک اختيار لرلے دے . نو ! د تحقيقي رويو درستولو دپاره د تنقيدي شعور ضرورت وي . د دغه کبله تحقيق او تنقيد څنګ په څنګ

سفر کړے دے .

د تحقیق او تنقید په خوږو مرږ پټې ژبې سترګه ورې او زور ورې پاتې شوي دي .

د پښتو دیوانکي او لیکونکي په دې خبره اتفاق لري چې زمونږ په ژبه کښې نثر ډېر کم دے او په نثر کښې د تحقیق او تنقید برخه ډېره کمه ده . د علم نور اړخونه خو پرېږده چې په خالص ادبي مېدان کښې هم ډېرې نيمګړتياګانے لرو .

د پښتو ادب د طالبعلم په حېثيت ما د دغه نيمګړتيا د احساس د مخه اکثرو پښتو ليکونکو ته په دغه حقله د خپل ليکلو لمسون کړے دے . د خپلې کم علمۍ باوجود مې هم په يره يره يو څو ليکونه کړي دي ولې د کتابي شکل ورکولو اراده مې نه وه .

خو! چې په هغه سيمينار کښې مې په پښتو ادب کښې تحقيق او تنقيد " تر عنوان لاندې خپله مقاله واوروله کوم چې د ډاکټر محمد اعظم اعظم په مشرۍ کښې د پښتو څانګې پېښور پوهنتون له اړخه د پښتو نثر په حقله په باړه ګلۍ کښې شوے وو . نوکې شمېره ليکوالو داد راکړو . اګرچې په دغه سيمينار کښې ما د ځينو مشرانو خاصکر مياں تقويم الحق کاکاخيل صاحب په مشوره د خپلې مقالې خلاصه اوروله وه خو چې د ځينو پوهانو نه مې د دغه خلاصې ستائنه واورېده . نو زړه مې اوموند او پوره مقاله مې د ځه کسانو د نظره تېره کړه . د هغوئي په داد او مشوره مې د چاپ کولو اراده اوکړه

د کتابت په غرض فضل ربي راهي نه

حواله کړه . د املا او پروف ذمه واري ملګري عثمان اولسيار قبوله کړه. څه د راتلونکي ناوزګارتيا او څه زما نالاستي خبره ده او څنګه دوله - په دغه ورځو کښې ما څه داسې کتابونه او مقالې اولوستې. چې دهغې د يادونې نه بغير راته ددې کتاب بنيادي مقاله په پښتو ادب کښې تحقيق او تنقيد نيمګړې ښکاريده.

ولې ! يو خو ددغه مقالې کتابت شوې وو او بل په يو خاص وخت کښې ليکلې شوې او خاص ځايې کښې اوروېلې شوې وه .

ددغه مشکل نه د وتو په خاطر مې دا فيصله اوکړه چې ددغه کتابونو او مقالو په حقله څه اوليکم او "په پښتو ادب کښې تحقيق او تنقيد" تر عنوان لاندې يې هم په دې کتاب کښې شامل کړم. هم دغسې مې وکړه . هغه مقاله هم په خپل ځائې پاتې شوه او هغه کتابونه هم ياد شو د کومو يادونه چې ضروري وه .

د افغانستان په نوو چاپ شوو پښتو کتابونو کښې د "ى" او "ه" مسئله لږه کنفوژ ده . په ځينو کتابونو کښې د "ى" لاندې ټکې ليکلې شوي او په ځينو کښې نه دي کړے شوي . په څو کښې د مفرد په آخر کښې "ه" ليکلے شوے او په ځينو کښې نه ده ليکلے شوے د احتياط باوجود هم ددغه کتابونو په حقله د څه ليکلو په وخت زما په قلم دغه اثر شوے دے.

ددې نه علاوه په دے کتاب کښې د املا ځينې نورې غلطۍ هم شته ځکه چې د پښتو د نوې املا سره لا تراوسه زما هغسې شناخت نه لرې. په پروف کښې د امکان تر حده کوشش اوشو او چې څه پاتې شو د

هغې د بخښنې غوښتو سره سره دا وضاحت کوم چې زۀ د هغه پښتو رسم
سره اتفاق لرم کوم چې په هغه سمپوزیم کښې د سمپوزیم د مندوبینو په
اتفاق سره فیصله کړے شوے دے ۔ کوم چې د پښتو اکېډیمي پېښور په اهتمام
د ۱۹۹۰ء د کال د جولائ د لسمې نه د ولسمې نېټې د پښتو رسم الخط په حقله
باره ګلی کښې شوې وو ۔ څکه چې د پښتو يک دود په لر کښې د راپورته
شوي انتشار او افراتفرۍ د خ ینوي او نوي علمي ضرورتونو ترسره کولو
د پاره د غه فیصله منل مناسب دي ۔

د د غه وضاحت سره سره زۀ د خپلو لوستونکو او خاصکر پښتنو پوهانو
طمع لرم چې ماته به زما کېے او کوتاهۍ په نخښنه کړي څکه چې د تحقیق
اصول ، ضابطې او طریقې په ځائې کول ګران کار دے او بیا د اقتباساتو او حوالو
خبره خو ډېره پیچیده دي ۔

په هره موضوع د تحقیقي يک په وخت يکوال په هغه حقله د نورو
لیکونکو د لیکونو (کۀ وي) او نظریاتو نمونې وړاندے کوي څۀ اعداد رانقل
کوي ۔ د تحقیق د استاذانو په خیال د غه نمونې ضروري ، نمائنده او لنډې
پکار دي ۔ اوږدۀ ، ګڼ او غیر ضروري اقتباسات په تحقیق کښې ډېر والی
راولي ۔ د نورو د وینا ګانو په ډنګ ډونګ کښې د محقق د خپلې خبرې جنازه
ووځي ۔

لوستونکي دا فکر واخلي چې اخر د څۀ نوې او تازه معلوماتو د پاره
په ما د غه يک ولوستي شو ۔ عالمان په دے اتفاق لري چې کۀ اقتباس لنډ
وي نو د متن د ننه په انتها کامو کښې بند ځایول پکار دي ۔ او کۀ اوږد وي
د خو تر ممکنه حده اوږدول نۀ دي پکار) نو بیا د متن نه بهر د کامو نه

بغیر را نقل کول پکار دي .

د حوالو / ببلګو خبره لا نوره زیاته پېچیده ده . په دغه حقله د مغربي دنیا تر اثر لاندې د نورې دنیا په ځینو برخو کښې دوه طریقې پېژندلې شوي دي چې یوه د هارورډ یونیورسټي او بله د شکاګو یونیورسټي پورې سره منسوب ده .

د هارورډ د طریقې تر مخه د حوالې / ببلګې یوه لنډه غونډې برخه په متن کښې د بریکټ دننه راوړې شي . په دې کښې د لیکوال خانداني نوم یا د نوم څه برخه د تصنیف نوم ، د چاپ کال او د کتاب متعلقه مخ یادولې شي بله برخه د کتاب / مقالې په اخري مخونو لیکلې شي . په دغه برخه کښې د لیکوال د پوره نوم سره سره د کتاب د چاپ کال - د کتاب / مقالې پوره نوم او د اشاعت په حقله نور معلومات راوړې شي . د شکاګو د طریقې د مخه د متن لاندې هم په دغه مخ د دغه مخ حوالې راوړې شي . مغرب د تحقیق چېل روایات او حالات لري . د دغه روایاتو حالاتو د نظره ئې دغه طریقې خپلې کړې دي . هغلته د لیکوالو او چاپ کېد ونکو کتابونو / مقالو او ریسرچ پېپرو شمېر ډېر زیات وي . د لیکوالو د نومونو اکثر برخې یو شان وي . اکثر خانداني نوم یا د خانداني نوم څه برخه د مختلفو لیکوالو تر منځه شناخت کوي . په دغه مشکل د قابو موندو د پاره هغوئ دغه طریقې خپلې کړې دي . او لوستونکي ېې ورسره بلد شوي .

دغه طریقې د کمو خوبو سره څه خالي هم لري لکه د ورومبي مطابق لوستونکي د حوالو / ببلګو په حقله څه معلومات هم په هغه مخ اولولي او که نور معلومات ضروري کښي نو د تفصیلي معلوماتو د پاره د کتاب اخري مخونه

راوړوي. ولې مشکل دا دی چې اول خو په هغه ځای د حوالې لوستل د لوستونکي نه د متن تسلسل ماتوي او په تفصيلي لوسته پسې بيا بيا اخري مخونه راړول د متن د تسلسل ماتېدو سره سره وخت هم خرابوي.

په دويمه طريقه کښې د متن ماتېدو سره سره کله کله په يو ځای د حوالو ببلګو د شمېر زيا توالې او اوږدوالې د متن خوند رنګ خراب کړي. زمونږ د تحقيقي مقالو دپاره هم دغه دويمه طريقه خپله کړې شوې ده او په چاپ کتابونو کښې ببلګي د کتاب په آخره کښې راوړې شي. اګرچې په دغه حقله ديوې نمائنده جرګې، ادارې يا کمېشن له ارخه څۀ فيصله پکار ده.

خو زمونږ د چاپ کېدونکو کتابونو/مقالو/ريسرچ پېپرو او ليکوالو شمېر ډېر کم دے. په اسانه شمېرلے او پېژندې شي او لوستونکي ئې د نومونو د مختلفو برخو د دغه ترتيب سره اشنا دي په کوم ترتيب سره چې په کتابونو ليکلي شي. د مغرب په ړندايه تقليد کښې د ببلګي راوړلو په وخت د دغه ترتيب ادلون بدلون به هسې خامخا کنفوژن پيدا کړي.

دا هم حقيقت دے چې د پښتو لوستونکي د نثر او بيا علمي نثر لوستو سره نوے نوے بلديږي. زمونږ نثر ساده، هوار او معلوماتي پکار دے. په پښتو ليکونو کښې د هر هغه عمل نه ډډه پکار ده کوم چې د متن رواني ماتوي يا ئې خوند رنګ پيکه کوي. د متن په مېنځ کښې اقتباس راوړل خو بېخي مجبوري ده. ولې که دې سره ببلګه هم رانقل شي نو د متن خوندوالې او هواري به پېکه شي. زما په خيال د متن د نسه اقتباسات لنډ او د متن د فکري بهير د روانۍ په مناسبت پکار دي. ببلګه په بل داسې مناسب ځائې راوړل پکار دي چې د لوستونکي نظر د متن څخه نۀ تمبوي. مناسب به دا وي چې ببلګې

د کتاب په آخري برخو کې راوړل شي . او که کتاب په بېلو بېلو بابونو کې وېشل وي یا د ځان ځانله مقالو مجموعه وي نو د هر باب یا هرې مقالې په اخر کې دهغې باب یا مقالې ښکې راوړل پکار دي . ددغه نظره به دهغه کتاب / باب / مقالې برخه هم وي او ځانګړې حیثیت به هم لري. د لوستونکي نظر به د متن د روانې د بهیر سره په مخه هم ځي او د ښکو څخه معلومات به هم ترلاسه کولې شي . ما هم د دې نظره په دې کتاب کې د مقالې په آخر کې په بېلو برخو ښکې راوړي دي . او که چرته ضروري شوې ده نو د ځینو ښکو او ماخذونو لنډه پېژندګلو مې هم کړې ده او که چرته مې دیو کتاب دیوې خاصې برخې په ځای دهغه کتاب د زیاتو برخو نه استفاده کړې ده نو د ښکو د روایتي طریقو په ځای مې دهغې ماخذونو لنډه پېژندګلو لیکلې ده که د ځینو عالمانو یو لیک مې په زیاتو ځایونو کې لوستي نو ښکه مې هغه راوړې ده په کومه کې چې ما

د تحقیق او تنقید په نظریاتي اړخ کې د لیکوالو ترمنځه د ورو لویو اختلافاتو باوجود ترېخوالې نه وي .

خو! د عملي اړخ اختلافات یې ډېر تاو ترېخوالې لوي او بیا په روایتي ټولنه کې خو هسې هم هره نوې خبره ډېر مخالفین لري . زه په علمي مسئلو کې د ډلو پرو او خپل پردي منونکې نه یم .

د خپلو معلوماتو تر حده مې دهغه ټولو پښتو لیکونو یادونه کړې ده .

کوم چې د تحقیق او تنقید په لړ کې د یادونې وړ کېدې شي یا د محقق او نقاد په کار راتلې شي خو که داسې لیک وي چې د دغه اهمیت لرلو باوجود نه وي یاد شوې نو دا به زما د مطالعې کمې او زما د دې لیک نیمګړتیا وي .

که ما په خپل یېک کښې دچا دتحقیق اوتنقید دطریقه کار سره اختلاف کړے وي او یا مې دهغوئ دیکونو نیمګړتیا ګانې په ګخښه کړې وي.

نو دا به زما په شخصي خوښه ناخوښه یا دچا په اشاره مشوره نهٔ وي شوي بلکې دتحقیق اوتنقید دتقاضو خیال به ساتلې شوي وي.- که څوک زما د اندازو ، تجزیو او دلائلو سره اتفاق نهٔ لري نو هغوئ د اختلاف حق لري او دا فرض یئې هم جوړیږي چې زما دیک کمي اوکمزورۍ په ګخښه کړي.

زهٔ خپله هیڅ رائے حتمي نهٔ ګڼم او نهٔ د اختلاف رائے انکار کوم خو علمي عمل په ذاتیاتو بدلول مناسب نهٔ ګڼم او دهغه دلیږو استاذانو یریږم څوک چې دعلمي رویو وهلو دپاره دخپلو بې علمه اوجذباتي شاګردانو نه ددستانو کار اخلي - دغه دستانې کهٔ بخپله بې حسه او بې حرکته وي خو په دې کښې دننه دډلیزو استاذانو هغه کلک، سخت اوناترسه لاسونه وي چې چاله سپېره ورکړي هغه یا خو د درده خپل لاس بخپلو غاښونو کښې اونیسي او یا دمتهره په دستانه چک اونګوي - ددوئ لاس په امان وي. مطلب ئې پوره شي -علمي عمل تېکنې شي ، علمي رویې ترنډه شي ددوئ استاذي په استاذی پاتې شي.

زهٔ دچا داستاذۍ بې قدري نهٔ کوم نه خپله داستاذۍ دعوىٰ لرم او نهٔ خپل یېکونه کارنامه ګڼم - پهٔ دغه حقله د سائل صاحب ددے وینا سره اتفاق لرم. ~~

که دومره اوشي نو هم فرض بهٔ پوره شي اشنا
چې د ارمان پهٔ مزار اوښکې بلول شي اسان

نو! دومره وایم چې پښتنانهٔ نور پهٔ تورکو او کوتکو نازول نهٔ دي

پکار بلکې د تحقیق سره اشنا کول دي د تنقید سره بلدول دي - په پښتنه ټولنه کښې د دوستۍ کلتور او علمي رویو ته وده ورکول دي - د پښتو او پښتنو د خواخوږو لیکوالو دغه فرض دی چې چا ټومره پوره کړه دومره د قدر وړ دے او څوک چې د ذاتي مصلحتونو او کجروو له کبله د دغه فرض پوره کولو نه تښتي او سپکاوي کوي - د هغوئ د پاره د فیض احمد فیض په دے دُعا امین ویل پکار دي - سه

جنکا دین پیروی کذب وریا ہے انکو
ہمتِ کفر بھی دے جرأت تحقیق بھی دے

جن کا سر منتظر تیغ جفا ہے انکو
دستِ قاتل کو جھٹک دینے کی توفیق بھی دے

زهٔ د ملګري عثمان اولس یار، حضرت زیب، بشر نوید د دغه خدماتو اعتراف کوم د کومو په برکت چې دا کتاب د چاپ جوګه شو. زهٔ د خپلو هغه استاذانو او دوستانو شکور یم چا چې ماته وخت په وخت د تحقیق او تنقید په حقله ډیک لوست تلقین کړے. او د پښتو ادبي جرګې د ټولو غړو په خصوصي توګه د رحمت شاه سائل او ډاکټر خانو زیار هم منه کوم د چا د شک او ټک ډیرې چې زهٔ د خپلو لیکونو سره خواري کوم -

اګر چې زهٔ د لیکوال په حیثیت هغه علم، پوهه، تجربه، صبر، استقامت او باقاعدګي نهٔ لرم څهٔ چې د تحقیق او تنقید د پاره ضروري وي - نهٔ ځان د نقاد او محقق ویلو جوګه ګڼم -

خو! کهٔ زما دا کتاب د پښتو ادب دوستونکو ته څهٔ نوي معلومات ورکړي نو دا بهٔ زما خوشحالي او کامیابي وي -

صاحب شاه صابر

پښتو ادب کښې تحقیق او تنقید (۱)

ادب که د خپل ټولنیز رنګ، تخلیقي آهنګ، نفسیاتي اثر او جمالیاتي تأثر د مخه د انسان د مادي او روحاني ژوند په وده کښې هم څو دستاینې وړ کردار لري نو د خپل تن وجود د سمون او سلامتیا د پاره تحقیق او تنقید ته محتاجه دے. تنقید که یو خوا د عام انسان ادبي پوهه زیاتوي نو بل خوا د خلقو د ادبي ذوق روزلو او ادبي قدرونو ټینګولو کار هم ترسره کوي او د دې سره سره د ادب د ودې لارې چارې هم جوړوي.

د ادب او تنقید د دغه ژور تړون او تعلق د خاطره نامتو شاعر او نقاد ټي. ایس. ایلیټ ویلي دي چې "ترهغې د تنقید ځاې نه ورکیږي ترڅو چې ادب، ادب وي. ولې چې د ادب او تنقید بنیاد یو دے." [1]

د پروفیسر کلیم په خیال "تنقید یو عقلي صلاحیت او استعداد دے." [2]

د تنقید د نوموړي استاد آل احمد سرور د دغه تعلق اهمیت څه داسې څرګندوي:

"د تنقیدي شعور نه بغیر تخلیقي شعور بے لارې کیږي. او د تخلیقي جوهر نه بغیر تنقیدي شعور پیکه وي." [3]

د ادب د خوړیدو او غوړیدو د پاره د تنقید ضرورت او اهمیت په خپل

ځائې خود تحقيق نه بغير نهٔ د ادب بشپړ تاريخ ليکلے کيدے شي او نه تنقيد د هغه باور جوګه کيدے شي - په کوم چې تنقيد فخر کولے شي - تحقيق د ادب په سترګو کښې د واقعيت رنيا او د تنقيد په زړهٔ کښې د يقين شمع بلوي - د يو عالم فاضل اديب سيد محمد عبدالله د معلوماتو په رنړا کښې " د تحقيق لغوي معنیٰ د يو شي حقيقت ثابتول دي - او په اصطلاحي ډول د يوشي د يو داسے انداز نوم دے چې پکښې د ځينې منلو حقيقتونو په رنړا کښې د شته موادو د دروغ رښتيا کتے شي " ۷

د انټرنيشنل ډکشنري آف انګلش لينګويج (دويم چاپ) د مخه د تحقيق معنیٰ محتاط يا تند لټون، ژور تکل، د حقيقتونو ډاګيز کول، د نوي حقيقتونو په رنړا کښې د رواج شوو نتيجو، نظرياتو يا قوانينو بيا د سره جاج اغستل - د کوم شخصيت يا موضوع او د غسې نورو څيزونو په حقله د يو تن څهٔ خپل نوي معلومات وړاندې کول ۸

د تحقيق د اهميت منلو د پاره دومره هم پوره وه لوحقيقت دا دے چې تحقيق د شته موادو د دروغ رښتيا معلومولو سره سره په نوي نوي معلوماتو د ابرسيره کولو د انسانيت علمي پنګه خوره درنوي -

د تحقيق په برکت رښتياؤ ته رسيدلي حقيقتونه چې د تنقيد سرچينه وګرځي نو تنقيد د خپل جماليا تي خوند رنګ باوجود د سائنس دنيا ته د ورننوتو جوګه شي -

د تحقيق او تنقيد په ښتو ښتمن ادبونه د فکرو فن په څوړو ماره پټ وي او هم دد غه ښتو له برکته د مغربي قومونو ادبي پنګې نهٔ يوائې د هغوي د پاره د وياړ او افتخار جوګه دي بلکې د نورو قومونو ادبي دنيا ته

هم رنګ او رنها ورکوي -

زما مطلب دا نهٔ دے چې کښې نورو قومونو زده کړه ضروري نهٔ ګڼله او يا د هغوي په زړهٔ او ذهن کښې د موجوداتو د حقيقت او ماهيت په حقله سوالونه نهٔ راپورته کېدل يا د دوي ژبې د علمونو هضمولو جوګه نهٔ وې - يقيناً چې جوګه به وې او کهٔ نهٔ وې نو تاريخ ګواه دے چې د خپلې دُنيا او ما فيها د مظاهرو او د هغې سره د خپل تړون په حقله دوي هم ګڼ سوالونه راپورته کړي او يو شمېر جوابونه ئې لټولي دي -

نو د نورو قومونو او خاص کر د پاک وهند د اوسېدونکو دُنيا په زرګونو کاله د غوائې په خکرو ولاړه وه. دغه فرسوده سماجي هيئت د دې ځائې دَ انسان سماجي شعور داسې پسمانده او ساتو چې منطقي استدلال او سائنسي وضاحت ئې هضم نهٔ کړے شو - د خپل هر سوال ساده جواب ئې لټو - داسے ساده چې په هغې کښې دُنيا د يو خکره بل ته اوړيدے شوه - نو د غوائې د سره نهٔ شوه کوزيدے -

د ځنې نورو ايشيائي او افريقائي ژبو غوندې پښتو ژبه او د پښتنو د علمي زده کړې توان هم د هغه بد بختو سره مخامخ شوے دے - د کومو له کبله چې په ادب کښې علمي غورزې پرزې وده نه شي موندے -

کهٔ پښتو شاعري هر څومره څورنه پسته او زړهٔ راښکونکې ده ولے د پښتو ادب وجود داسې وينې وينې او پرهر پرهر دے چې کهٔ څوک زړهٔ چاودے حکيم پهٔ خپل حکمت د دغه پرهرونو نه د تحقيق او تنقيد غوښنه راټوله کړي نو ايله که يوه لپه ترے د که شي او لپه هم چې د "قلندر مومند" نهٔ وي - ګنې خبره به چونګ او چونګې ته ورسي -

د نورو مشرقي قومونو سره د ځني شريکو بدبختو په څنګ کښي پښتنو د خپل مخصوص جغرافيائي ماحول له کبله ځني ځانګړي پېښي هم لرلي دي. په خپلو کښي قبيلوي جنګونو او د بهرنو زورورو زورګيرو طاقتونو سره او د او انښتو که يو خوا د پښتنو د کتابونو، قلمونو په ځای توري زغري غوښتي دي نو بل خوا يې ترينه د ژوند هغه قلادي تړورلي ده کومه چي د تهذيب، تمدن او علمي ودې د پاره لومړي شرط وي.

تخليق خو په هغه ناقلاره کښي هم کېدے شي کومه چي د خوشحال خټک په برخه رسېدلي وه.

> کهٔ څو غره په غره د بازغوندي پرواز کړم
> بيا به وي چي د خوشحال خټک پر نشته (۶)

> لا يو غم را ځني تېر نهٔ وي بل راشي
> مګر زهٔ پيد اپهٔ ورځ د شورو شر يم (۷)

او په هغه قلاره کښي هم امکان لري. کومه چي د عظيم را نږيزي نصيب شوي وه.

> خدا ے به ور کړي معشوقه په خپل کاله کښي
> د عظيم غوندي کهٔ وکړه قناعت څوک (۸)

خو! تحقيق او تنقيد د روزلي افرادي قوت سره سره د قلاره ژوند، علمي ماحول او پيسه ته که غواړي. پښتنو کهٔ افرادي قوت لرو خو ژوند يې جنګ، او ماحول يې ويني ويني وو. د پيسو ته کو حال يې دا وو چي کتابونه قلمونه انستل او لائبريري جوړول خو پرېږده اکثرو خلقو د

نورکلي په کته وتېه د وادهٔ کوېدن رواج نهٔ شو ترسره کولے - ددې د پاره به ئې هم د هندوستان او نورو لرو لرو وطنونو مسافري کوله.

ے هندوستانه شه د نيا راوړه
په کور ني د نيا مې پلار نهٔ درکوينه

کله کله نوبه دَ دغه مسافرو زلمو په نوم ناستې پېغلې په کور زړې شوې او خپل زړهٔ چاودي اسويلي به ئې د ټپې په تارکښې داسې وپېيل:

ے پهٔ ما دې وار د ځوانۍ تېر کړو
ستا دې را نشي دَ دکنه مهرانونه

کهٔ چرته د پښتونخوا په دې خاوره د علمي غوړزو پړزو، د پاره د سازګارو حالاتو دور پاتې شوے وي نو وي به - د ګندهارا تهذيب به دلته غوړولې کړي وي - هند، لاهور، سوات، تخت بهائي پېښور او چارسده به علمي او ثقافتي مرکزونه پاتې شوي دي - د زرتشت د فکر اور به دلته رڼا کړي وي - "روپسته" به دلته لوستے شوي وي - د ويدونو په سندرېزه دُعاګانو به ددې ځائے غرونه کړنګېدلي وي - د ګوتم بده نظريات به د دې ځائے په لارو کوڅو کښې خوارهٔ کړے شوي وي -

خو! دا زما د مور باهو چرې به وو" واله خبره ده - پښتانهٔ د دغه هر څهٔ نه داسې شو کولے شوې دي چې د دوي په معلوم تاريخ د دغه خبرو بوي هم حرام دے - چې د کوم وخت نه د پښتنو تاريخ په وثوق سره معلوم دے نو د هغې وخت نه دوي د جنګونو جګړو، تاختونو، تاتونو، هجرتونو او مسافرو سره مخامخ دي -

دغه بې وسي، دغه بد حالي او دغه ناقلارئ د دوئ په ژوند

کښې هم وه او په شعر کښې هم. د شعر خبره مې ځکه وکړه چې د پښتو شاعرۍ پنګه درنه هم ده او څوړه هم. په دغه درونو والې او څوړ والې کښې ګڼ شمېره پښتنو د خپلې برخې همت کړے دے. خو د نثر تاريخ يوازې لنډ تنګ نه دے بلکې موضوع ئې هم لنډه تنګه ده. ځکه چې صوفيانو ئې بن بنا کړې ده او هغوي د ادب په څونډ رنګ او ماهيت کار نه لرو. د هغوي مقصد خپل خيالات خورول او د خپلو مخالفو د نظرياتو ځنيوئ کول وو. اګر چې خوشحال خټک او د هغه د کورنۍ نورو نامتو ليکونکيو د پښتو نثر دَ ژوند دَ ځنې نورو موضوعاتو سره هم اشنا کړو. خو بيا هم د پښتو نثر په دنيا کښې تحقيق او تنقيد مناسب ځائے نه دے موندے. اګر چې هر لوئے شاعر څه ناڅه تنقيدي شعور هم لري. د خپل تخليقي صلاحيت ازمائيلو دپاره د ژوند په ګڼ شمېره موضوعاتو کښې د يو څو انتخاب کول، د خپل تخليق بيا بيا جاج اخيستل او وړانول جوړول د تنقيدي شعور نخښې نښانې دي د لرغونو پښتنو شاعرانو بيا خاص کر د لويو شاعرانو په ديوانونو کښې داسې يو شمېر شعرونه موندے شي چې په هغې کښې يا خو د شعر تعريف کړے شوے وي يا د تخليقي عمل سختئ ته ګوته کړے شوي وي يا د شعر د فاع کړې شوې وي يا چا شاعر خپل شعر ستائيلے وي او يا ئې د بل چا د شعر صفت کړے وي دا ټولې تنقيدي اشارې دي. خو دَ دې باوجود هم په دغه کسانو کښې يو ته هم نقاد نشي وئيلے کيدے. اګر چې د هر لوئے وروکي ليکوال دپاره د ستر نقاد او نامتو محقق اصطلاحات استعمالونکي کسان به زما د دې رائې سره اتفاق ونه لري ځکه چې د تنقيدي شعور او تحقيقي څوارۍ له کيله زمونږ ژبې

او قلمونه لړ.ې سره شوي دي او اکثر د رشتيا وُ په نوم هغه څهٔ وليکو چې لوستونکي ئې پهٔ داسې راځي جوړولو کوم نهٔ وي ـ

فسانے اپنی محبت کے سچ هیں پر کم کم!
بڑھا بھی دیتے هیں هم زیبِ داستاں کے لئے (۹)

د پخواني يوناني نامتو شاعر هومر هم پهٔ خپلو شعرونو کښې تنقيدي اشارې کړي دي - د هغه نه وروستو د يونان نورو نوموړو شاعرانو لکه هيډ، ذنوفين او يورجس هم کله کله تنقيدي خبرې شعر کړې دي - خو په دوي کښې يو هم نقاد نشي بللے کيدے - د دوئ نه ډير وروستو پيدا شوے يوناني نابغه ارسطو د دنيا وړومبے نقاد ګڼلے شي او د هغه کتاب "پوئټکس" د ادبي تنقيد وړومبے کتاب بللے شي - خبره دا نهٔ ده چې کني تنقيدي نظريات پهٔ شعر کښې نشي بيانيدے - کوچې د تنقيد د پاره دَ نثر ژبه موزون او مناسبه وي خو د فرانس نوموړي نقاد او شاعر نکولا بولو داپروا د اولسمې پيړۍ پهٔ دويمه نيمايۍ کښې د شاعرۍ د فن پهٔ حقله خپل نظريات پهٔ نظم کښې پهٔ داسې انداز بيان کړي دي چې د اتلسمې پيړۍ پهٔ ټول يورپ کښې د تنقيد پهٔ حقله د غه کتاب معتبر ترين ګڼلے شو او نن هم د تنقيد د تاريخ يو مهم باب ياديږي -

پهٔ حقيقت کښې تنقيد معقول، منظم او مستند علم دے - د ادبي اصنافو او فن پارو په حقله اوپره معلومات سرسري رائې، کډې وډې اشارې او غير معقولې رويې د تنقيد پهٔ تنظيم او ترتيب کښې پکار راوستے شي نو تنقيد نشي بللے کيدے -

اګرچې ځنې ستر عالمان او پوهان پهٔ نظم کښې هم د تنقيد ي

نظریاتو د اظهار توان لري خو د تحقیق دلیل و برهان او غورځي پرزې خالص د نثر میدان غواړي -

د پښتو د زوړ نثر توله دُنیا په یو څو کتابونو آباده ده - د غه کتابونه روحاني، مذهبي، اخلاقي او تاریخي موضوعات لري - اګرچې په دغه کتابونو کښې چرته چرته د تحقیق او تنقید ځښې نښانې او اشارې کنایې په نظر راځي - لکه فلاني وئیلي دي - د فلاني نه روایت دے. دَ فلاني د بیاض نه نقل دے - په فلاني کتاب کښې مې د نظره تېر شوي دي او د غسې نور هغه بیانونه تر دې وخته سند نه لري او که لري هم نو ډېر ضعیف وي - داسې ضعیف چې که ګوتې ور وړې نو دوړېږي - دَ پښتو نثر د تر لاسه شوي لیکونو او کتابونو ترمنځه د سلیمان ماکو " د تذکرة الاولیاء" هغه اووه مخونه چې عبدالحي حبیبي صاحب تر لاسه کړي او خواره کړي دي هم د غسې غیر مستندې تذکرې لري - دغه کتابچه دَ اوومې هجري پیړۍ په وروستي نیمایي کښې لیکلے شوې ده - په دې کښې د ځښې پښتنو مشائخو ځښې حالات او شعرونه خوندي کړے شوي دي - د معلوماتو بیانولو انداز ئې څه داسې دے چې " نقل هسې کاندي " - "نقل کاندي" چې "نقل کاوه شي" - د پښتو ځښې پخواني نظمونه " د بیټنیکه" دُعا د "ملکیار غرشین" "ځښتن مومل دے" او ځښې نور د دغه څو مخونو په حواله تر مونږ رارسیدلي دي - د پښتو ادب ستر تاریخي کتاب " پټه خزانه" کښې هم د حالاتو او واقعاتو د بیان انداز په د غسې دول دے - " نقل دیُ"، " نقل کا"، " هسې وائيُ " خو چانه نقل دے ؟ څوک وائيُ ؟ د ویونکي د وینا سره څه تعلق دے ؟ د غسې خبرې په د غه کتابونو کښې

نهٔ شي موندے. او کهٔ څهٔ دي نو بیا دا سې دي چې لیکونکي یا خود پلار ته اوږده لي دي او یا د چا بل د غسې مشر دنولي تو غوږ وشوي دي - اګو چې د غه لیکونه ددې وخت پهٔ تحقیقي ګز ناپ کول مناسب نهٔ دي او پهٔ خپل تحقیق کښې پکار دا و چې شو خو تحقیق ئې نشو ملے.

دغسې د پښتو نثر د وړومبي مستند کتاب "خیر البیان" لیکونکي بایزید روښان پهٔ خپل د غه کتاب کښې د خپلو دعوو او وینا ګانو په ثبوت کښې قرآني آیتونه او د پیغمبرؐ حدیثونه راوړي دي - نو کهٔ یو خوا ئې د غه آیتونه او حدیثونه د نورو عبارتونو سره ګډ کړي دي نو بل خوا ئې د هغې حوالې هم نهٔ دي پهٔ نخښه کړي - د غه رنګ د پښتو نثر د دویم لوے مستند کتاب "مخزن" لیکونکي اخون درویزه بابا هم په خپل د غه کتاب کښې کهٔ د "خیر البیان" پهٔ ژبه او موضوع څهٔ ځائے بې ځایه تېکونه کړي دي او د خپلې وینا پهٔ حقله ئې د ځینو عالمانو وینا ګانې د دلیلونو پهٔ ډول وړاندې کړي دي خو د غه وینا ګانې هم ثبوت نهٔ لري -

د دوي نه ورستو خوشحال خان خټک پهٔ دستارنامه کښې د دستار دَ فضیلت او پهٔ مسلمانانو ددې د فرضیت پهٔ حقله لیک کړے دے د دستار دَ لیاقت د پاره چې هغوي د کوموشلو هنرونو او شلو خصلتونو بیان کړے دے په هغې کښې د شعر پهٔ علمي حیثیت، د علم په معنیٰ، مفهوم، اهمیت او افادیت او د نسب د معلومولو پهٔ ضرورت بحث کړے دے - د غسې افضل خان خټک په تاریخ مرصع کښې د خواجه نعمت الله د "مخزنِ افغاني" له فارسي نه پښتو ژبې ته سره سره د خپلې کورنۍ او نورو پښتنو د تاریخ ځنې واقعات را نقل کړي دي - د خوشحال خټک د بیاض نه ئې ځنې اقتباسات را نقل کړي

دي او په يو ځاۓ کښې ئې د اخون درويزه په حقله د خوشحال خټک د هغه راۓ سره اختلاف کړے دے کوم چې هغوي په "سوات نامه" کښې کړلې ده.

د غسې په دغه ليکونو کښې داسې تنقيدي او تحقيقي اشارې کنايې شته چې د تنقيد او تحقيق په تاريخ ليکلو کښې ترې څه نه څه کار اخستے کيدے شي. خو هله کله احتياط د لاسه ورنه کړے شي. ولې په دغه يو ليک کښې هم د باقاعده تحقيق او تنقيد نمونه نشي ترلاسه کيدے. د پښتو په نثري ليکونو کښې د دغه رنګ اشارو کنايو دغه سلسله تر شلمې پيړۍ رارسي. د شلمې پيړۍ لويو واقعو، درنو درنو حادثو او لويو لويو بدلونونو د پښتو په محاوره هم د بېدارۍ باد ونه والوزول. د مذهبي اصلاحي او ثقافتي تحريکونو زړے زرغون شو. د دغه تحريکونو په بهير کښې د پښتو ليکوالو غوږونه تر هر څه درانه وو. په شاعرۍ، افسانه، ډرامه، ناول، مضمون او مقاله کښې د فرسوده رسمونو نه واخله د سياسي او معاشي ادارو پورې هر هر څه په ډول ډول وغندلې شو. لکه د عبدالاکبر خان اکبر "خدائي خدمتګار"، د عبدالخالق خليق شهيده سکينه او د جليا خان "درد" د دغه رنګ ډرامو نمونې دي. نو د راحت زاخيلي "کونډه جينۍ" د دغه قسمه افسانو نمونه ده. د ماسټر کريم د جولۍ ګلونو اکثرې افسانې يا افسانه نما ليکونه، د ليونۍ فلسفي "ګډې وډې" او د پښتون مجلې د مستقلو عنواناتو "بخرې" او "نننۍ دُنيا" تر سرخطونو لاندې د ماسټر کريم شرر صاحب او د هغوي د ځنې نورو ملګرو ليکونه د دغه وخت په سياسي، معاشي او ټولنيز ژوند تبصرې او طنزونه دي. اګر چې دا تبصرې به د يو خاص نقطه نظر د يو خاص مقصد د پاره کيدلے. خو مقصد هم لوې وو او د تبصرو معيار

هم بد نهٔ وو.

د قومي ژوندد پهٔ دګونو کښې د بېدارۍ نوې تولېد ونکي ويښې پښتانهٔ پوهان د خپل اصل نسل معلومولو او دخپل ادب تاريخ جغرافيه لټولو ته ولمسول. د قومي او ادبي تاريخ ليکلو په لړ کښې علمي او تحقيقي غورځې پورزې شروع شوې ځو د مو اصلاتو نيمګړتيا، د تعليم کمې او د سياسي هلو ځلو تر دخت تنقيدي شعور او تحقيقي نظر غوړېد و او غوړېد و ته پوې نښو د. ولې چې هم ددې پېړۍ پهٔ دويمه نيمايۍ کښې حالات لږ تېکاؤ شو. هنګامي مسئلې لږې غلې شوې. د فيودلي نظام فرسودګي لږه پهٔ شا و تمبېده، مېنځکوړه طبقو لږ توان وموندو. پهٔ مو اصلاتي نظام کښې لږه بهترې راغله تعليم څهٔ نه څهٔ ځور شو، ذهني توازن پېدا شو نو د تحقيق او تنقيد د پوړه کوونډې د پاره زمکه څه نه څهٔ هواره شوه. اولسي ادبي جرګه جوړه شوه، پښتو اکېډيمي پهٔ وجود کښې راغله، پهٔ افغانستان کښې د مخکښې جوړه پښتو ادبي ټولنه چټکه کړې شوه. دغه ادارو علمي غونډو او چاپ آثارو يو داسې علمي فضا او ادبي ماحول پېدا کړو. چې په يو وخت کښې د تحقيق او تنقيد يو شمېر لوبغاري پېدا شو. که ځوک د دغه ذکر شوي ادارو غړي وو او که ځو داثره ئې يوې ددې ته پاتې نشو. پهٔ لږ وخت کښې پهٔ ګڼو موضوعاتو يو شمېر کتابونه، مضمونونه او مقالې وليکلے شوې او ترننه ليکلې شي.

زهٔ د خپلې مطالعې پهٔ رڼا کښې د خپل ادب د تحقيقي او تنقيدي پنګي څهٔ داسې وېش مناسب ګڼم.

1 (و) هغه ليکونه په کومو کښې چې د ځنې شهادتونو په رڼا کښې د پښتون

قوم یا یوې پښتنې قبیلې اصل نسل، جوړښت او ژوند ژواک څېړلے شوے دے -

هسې خو ډېر پخوا دَ افضل خان په "تاریخ مرصع" کښې د خټکو په حقله او د پیر معظم شاه په "تواریخ حافظ رحمت خاني" کښې د یوسفزو د اصل نسل او ځنې مهمو واقعاتو په حقله معلومات راغونډ کړے شوي دي - خو دغه د قدر وړ تاریخي دستاویزات په تذکراتی ډول لیکلے شوي دي - د څه دعوې یا واقعې په حقله علمي بحث او مستندې حوالې نهٔ لري -

د شلمې پېړۍ د رومبي نیمائۍ په آخري کلونو او دویمه نیمائۍ کښې چې په دې لړکښې په پښتو ژبه کوم د قدر وړ کتابونه او مضمونونه ولیکلے شو په هغې کښې د قاضي عطاءالله د پښتنو تاریخ (رخلورم ټوکه) دَ بهادرشاه ظفر "پښتانهٔ د تاریخ په رڼا کښې" "د خواجه محمد سائل" کوډي اسپی" د سیال کاکړ" پښتو او پښتانهٔ په سهېلي پښتونخوا کښې د لطیف طالبي مضمون (چاپ مجله جرګه) "د کاکړو قبیله" د ستائنې وړ لیکونه دي - اورېدلي مې دي چې عقاب خټک د خټکو په حقله او عبدالحلیم اثر د پښتنو د اصل نسل په حقله د قدر وړ تحقیق کړے دے - خو د اثر صاحب د غه لیک چاپ شوے نهٔ دے او د خټک صاحب کتاب ما تر دې وخته نهٔ دے لوستے - د خپلې د غه نیمګړتیا له کبله په دغه حقله ځان د څهٔ وئیلو جوګه نهٔ ګنړم - قاضي عطاءالله خان په خپل لیک کښې د اکثرو پښتنو قبیلو د اوسېدو د ځایونو او ژوند ژواک په حقله د قدر وړ معلومات راغونډ کړي دي - خو د دوئ د اصل نسل او خوې خصلت په حقله ئې روایتي نظریې خپلې کړي دي -
بهادرشاه ظفر په دې حقله د روایتي نظریو جاج هم اخستے دے او نادرهٔ

نازړهٔ ئې د خپلې نظرئې ورانديې کولو څخه هم کړې ده څو د يېلونه
ئې کمزورې او د څېړنې طور طريقې ئې روايتي دي - په دې حقله دا خبره
ياد ساتل پکار دي چې د پښتنو د اصل نسل په حقله دا نظريه ډېره
زړه ده چې دوي بني اسرائيل دي - په نوي وخت کښې عبدالحليم
اثر او روشن خان د غه نظريه په نوي حوالو او دليلونو نوره شتمنه
کړې ده - اګرچې د غه نظريه د ډېرو لويو عالمانو د علمي مرستې باوجود
هم څنې کمزورې لري خو په مکمله توګه په اسانه نشي رد کېدے -
د دې په ضد دا نظريه وړاندې شوې ده چې پښتانهٔ "آرين" دي -
دا دعوې کهٔ هم تو څنې په زړهٔ پورې دليلونه او ثبوتونه لري خو دَ
نوي والي له کبله په پوره ډول نهٔ ده ترتيب کړے شوې - غني خان او څنې
نور پښتانهٔ پوهان د دې منونکي او مرستيال دي خو عبدالحي حبيبي ئې
لوې علمبردار پاتې شوے دے - په دې حقله د هغوي هغه نظريات د لوې
ډېرې انتهاپسندۍ باوجود په دليل او برهان پوره دي - کوم چې " د
پښتو ادبيات تو تاريخ " کښې وړاندې کړے شوي دي -
د غني د ساتل صاحب، سيال کاکړ صاحب او لطيف طالبي ليکونه دَ
څنې قبيلو د اصل نسل يا ژوندانه ژواک په حقله په زړهٔ پورې معلومات
لري خو د غه معلوماتو د تحليل او تجزيې نه ئې ښنده کړې ده - څکه
چې په نننئ زمانه کښې د يو تمام تاريخ ليکل يوا ځې د تاريخي دوستاوېزاتو
نمونې راغونډول يا د قبيلو شمېر نهٔ دے بلکې د دې سره سره د يو شمېر طبعي
او غېر طبعي علمونو د ژورې مطالعې او د هغې د استعمال د طريقې زده کولو
په برکت انسان د دې جوګه کېدے شي چې معقول تاريخ وليکلے شي يا د يوې

قبیلې د اصل نسل په حقله په ذرهٔ پوره ې نظریه وړاندې کړې شي ـ نو دغښې درو اوځنې لویو لمزورو باوجود هم دغه قول یکونه د قدر وړ دي ـ ځکه چې دڅهٔ لوېې سرکاري یا غیرسرکاري ادارې د مرستې نه بغیر په خپل سر اوخپلو وسائلو دقومونو او قبیلو د تاریخ او جغرافیه په حقله معلومات راغونډول په یقیني ډول ګران کار دے ـ په دغسې ګرانو کارونو ترسره کولو کښې د غسې کمے پاتې کېدل ناشونې خبرهٔ نهٔ ده ـ

(ب) هسې خو د پښتنو د قومي ژوند په وجود کښې کښو واقعاتو ځائے موندے خو تر اوسه د دېرو لمو په حقله تحقیق شوے دے ـ د پښتو ادب په حواله په د غو کښې د څو په حقله څهٔ نا څهٔ تحقیقي لیکونه شوي دي ـ په د غه لړ کښې تر ټولو مهمه واقعه د خیبر هغه تاریخي جنګ دے په کوم کښې چې د ایمل خان او دریا خان په مشرۍ کښې افریدیو او مومندو د صوبیدار امین خان تر مشرۍ لاندې مغل لښکر ته سخته ماته ورکړې وه د نوموړي پښتون محقق دوست محمد خان کامل د هغه معلوماتو مطابق کوم چې په خپل کتاب " خوشحال خان خټک " (اردو) کښې کلیات خوشحال خان خټک (پښتو) او " تاریخ مرصع " په حوالو کښې ورکړي دي ـ خوشحال خان خټک په د غه جنګ کښې د مغلو ملاتړ وو او ددې نه پس ئې د مغلو د انګیز مخالفت ته ملا تړلې وه خو سید رسول رسا صاحب د " ارمغانِ خوشحال " (پښتو) په اوږده مقدمه کښې دا رائې غندلې ده ـ د رسا صاحب پهٔ خیال خوشحال خان خټک په دې جنګ کښې په ښکاره خو د مغل سره ملګرے وو ولې پټه صلاح ئې د ایمل خان ، دریا خان سره وه او دغسې په حقیقت کښې ددې جنګ

پټ جرنیل هغه وو.

د کامل صاحب خبره واقعیت او حقیقت ته نږدې ده. نه یوازې دا چې تر دغه وخت خوشحال د مغل مرسته نه وه پرېښودې او که په زړه کښې خفه وو خو په پښتنو یې دا اعتبار نه وو چې کني مغل له به ماتې ورکړي بدکې په "تاریخ مرصع" کښې د هغه د بیاض د اقتباساتونه هم ښکاره ده چې په دې جنګ کښې هغه سره د خو زامنو د مغل په لښکر کښې شامل وو او د ماتې نه پس د تاترو په لور پېښور ته راکوز شوے دے. پاتې شوه دا خبره چې په خپلو شعرونو کښې هغه په دې جنګ کښې د پښتنو په ګټه خوشحالي ښکاره کړې ده نو دا خبره هم د یاد ساتلو ده چې شعرونه د جنګ نه پس وئیلي شوي دي او دا هم ده چې که د پښتنو په ګټه یې خوشحالي ښکاره کړې ده. خو کم از کم د دغه جنګ تر حده یې د مغل په ماتې او د امین خان په لویه بې عزتۍ خپل خفګان هم څرګند کړے دے. د دغه شعرونو نه دا هم ښکاري چې د غه وخت د خوشحال بابا د پښتنو په همت او صلاحیت دومره اعتماد نه وو څکه د دوي په دومره لویه ګټه د حیرانۍ اظهار هم کوي. د دې نتیجې ته هغه د پر دوستو رسید ونکي ښکاري چې د پښتنو هم چاره د مغل بنه ده خو بس یو اتفاق نه لري. د خوشحال بابا همت، ذهانت، توره او مرانه په خپل ځائے د ستائنې ور ده. د هغه سره د رسا صاحب عقیدت په خپل ځائے خو عقیدت د تحقیق بنیاد نشي ګرځېدے. رسا صاحب بې شکه چې لوې عالم، فاضل پښتون لیکوال وو خو په دغه لیک کښې د هغوي دا یې او رویه ډېره جذباتي ده. د دلیل او ثبوت په ځائے په تندو جملو او تاوده احساساتو خپله خبره د رنول غواړي. د دې نه علاوه د

خپلو مومندو د علاقې د دوو کسانو جمال خان او عیسیٰ خان د جګړې واقعه ده. کومه چې دوو سترو لرغونو پښتنو شاعرانو رحمان بابا او عبدالحمید ماشوال په خپلو شعرونو کښې بیان کړېده.

په تاریخ مرصع کښې هم ددې بیان راغلی دے او ددغه دواړو شاعرانو په حقله لیکو نیکو کسانو کښې څو تنو په دغه واقعه سرسرې خبره کړې ده نو په تحقیقي انداز تر اوسه چا نه ده څېړلې. دغسې د صوابۍ د تاریخي کلي "هنډ" په نوا کښې د سید احمد شهید بریلوي او سردار یار محمد خان د تاریخي جنګ خبره هم ستر چاربېتې شاعر نور دین په خپله یوه چاربېته کښې کړې ده.

روان شو یار محمد سید وباسي له پښتنه

سید له بوې ورکړې الٰهي پروردګاره ! (۱۱)

نصرالله خان نصر صاحب چې د نور دین کومې راغونډې کړې چاربېتې چاپ کړې دي او د هغې په سریزه کښې د شاعر د ژوند په حقله کوم معلومات وړاندې کړې دي نو په هغې کښې دغه واقعه هم بیان کړې ده. خو په تفصیلي توګه ئې نه ده څېړلې. دغسې د انګرېز استعمار خلاف د پښتنو د آزادۍ د تحریکونو مختلفو واقعاتو هم په پښتو ادب اثرات غورزولي دي او په هغې کښې د ځینو په حقله لیکل شوي دي. خصوصاً د قصه خوانۍ او ټکر د واقعاتو په حقله خو په نظم او نثر دواړو کښې کښې شمېره لیکونه مونده شي.

په دغه لړ کښې د عبدالخالق خلیق کتاب " زه او زما زمانه" د باچاخان کتاب " زما ژوند او جد وجهد" او د پروفیسر عبدالوحید " خدائي خدمتګار تحریک او پښتو ادب" (ایم فِل مقاله) د ستائنې وړ کتابونه دي. اګرچې د دغه واقعاتو د پوره تفصیل او په پښتو ادب ددې د اثراتو په حقله پوره

څېړنه تر اوسه نه ده شوې.

(ج) د پښتنو قهرمانانو شمېر که څه زیات دے نو د دوي په ژوند او کارنامو شوي لیکونه ډېر کم دي. د غه شوے کار هم که د کوټلي معیار په تله و تللے شي نو خبره به نوره افسوسناکه شي. په دې لیک کښې په هغه ټولو کتابونو او مقالو خبره نشي کېدے البته د نمونې په ډول د ځنې لیکونو ذکو ضروري دے.

هسې خو د اخون درویزه بابا په "مخزن" کښې د بایزید روښان ذکر شوے دے. د خوشحال خان خټک په "سوات نامه" کښې اخون درویزه بابا یاد شوے دے. د افضل خان خټک په "تاریخ مرصع" کښې د بایزید روښان او اخون درویزه بابا دواړو په حقله خبره شوې ده. خو د هغه وخت او حالاتو په مناسبت سره د غه لیکونه سرسري او یو اړخیز دي. په د غه حقله د ستاینې وړ لیکونه د شلمې پېړۍ په دویمه نیمایۍ کښې اوشو. د مولانا عبدالقادر په مشرۍ پښتو اکېډیمۍ پېښور د بایزید روښان خیرالبیان خور کړو. په د غه تاریخي دستاوېز مولانا عبدالقدوس د قدر وړ مقدمه ولیکله او د روښان په ژوند او فکر ئې د قدر وړ بحث وکړو. هم دا اکېډیمۍ له اړخه په نور شوي یک "مخزن" باندې پرو فیسر میاں تقویم الحق کاکاخیل یوه اوږده علمي مقاله ولیکله. په د غه لیک کښې میاں صاحب دَ اخون درویزه بابا په حقله د ځنې معلوماتو وړاندې کولو په لړ کښې دَ روښان په ژوند او فکر هم رڼا واچوله په د غه لیک کښې میاں صاحب په ډېر کمال سره د دې یوې جملې چې د خیرالبیان نه وړاندې که په پښتو کښې د دین کتاب نه وو نو د بې دینۍ هم نه وو"[١٢] د میاں روښان د مذهبي

[١٢] میاں تقویم الحق کاکاخیل مقدمه مخزن

نقطه نظر په حقله د انحون درویزه بابا دائې درسته ګوزولې ده. میاں صاحب عالم فاضل محقق دے او دخپلې دائې خاوند دے. نحو د شلمې صدۍ نور اکثر پښتانه عالمان د هغه د رائې سره اتفاق نلري. دعبدالاکبرخان اکبر کتاب "روښانیان د مغلو تاریکیان" میاں روښان په دیلو نو سره د ښغې لارې څښتن ګڼي.

اګرچې په ډیک کښې د اکبر صاحب ژبه ډېره سخته او رویه تنده ده نحو د "انجمن اصلاح افاغنه" او خدائی خدمتګار تحریک" د مشر په حیثیت هغه په خپله هم د هغه الزامونو او طاقتونو سره مخامخ شوے وو کوم چې د روښان مخ نیوے کړے وو د دغه کبله دَ هغوي په رویه کښې تندي غیر فطري او مصنوعي نهٔ ښکاري. د مرزاخان انصاري په دیوان لیکلي مقدمه کښې همیش خلیل صاحب د میاں روښان په وحدت الوجود او شجره نسب خبره کړې ده. نحو د خیرالبیان او مخزن مقدمې ددې نه زیات معلومات لري. په د غه حقله د قلندر مومند صاحب هغه لیک هم د تحقیق د نظره د قدر وړ دے. کوم چې هغه د خیرالبیان په هغه ایډیشن کړے دے کوم چې هم د هغه په زیار چاپ شوے دے. په دې لړ کښې تر ټولو زیات د ستائنې هغه کتاب دے کوم چې د افغانستان د پښتو ادبې ټولنې له خوا د حبیب الله رفیع په زیار او اهتمام سره "د روښان یاد" په نوم چاپ شوے او نور شوے دے. په د غه کتاب کښې د یو شمیر پوهانو هغه لیکونه شامل دي کوم چې د بایزید روښان د نړیوال سیمینار په لړ کښې شوي دي. په د غه مقالو او مضمونونو کښې د یو شمیر پښتنو پوهانو د لیکونو نه علاوه د پخواني سویت یونین د ځنې پوهانو

ليکونه هم شامل دی. په پښتو ژبه د شوي ليکونو سره يکښې دَ محمد اسمٰعيل مُبلّغ "نگاهی بر تصوّف پير روشان" (مخونه ۴۳-۵۴) دَ دکتر شاه حسيني جهان بيني پير روښان (۲۳۷ تا ۲۴۸) د مانيازوف عبد القادر "نظری به تاريخ روابط" (۲۹۹ تا ۳۰۸) د پروفيسر انورعلی يف نکاتی چند دربارهٔ نهضت روښانی (۳۵۹ تا ۳۶۶) فارسی ليکونه هم شامل دي. دَ فارسي او پښتو په دغه ليکونو کښې د بايزيد روښان د فکرو فن، مبارزې او تصنيفاتو په مختلفو اړخونو علمي او تحقيقي ليکونه شوي دي.

په دغه موضوع هغه يک هم دستانې جوګه دے کوم چې د اکتر محمد شفيع د انګريزۍ دَ "انسکلوپيډيا آف اسلام" دپاره کړے او مولانا عبد القدوس د بايزيد انصاري په نوم پښتو ته اړولے. دکال ۱۹۵۹ء دَ جولائي، اګست او د ستمبر په مجله پښتو (پښتو اکيډمي) په ۱۹ تا ۳۰ مخونو خور شوے. ددې نه وړاندې په دغه حقله دکال ۱۹۵۸ء د جولائي، اګست ستمبر د مياشتو په مجله پښتو يک "د بايزيد روښان مذهبي افکار" په نوم خور شوے دغه يک يو ډول درانهٔ معلومات لري. اګرچې د روښان د مذهبي افکارو په حقله ئې څهٔ نازړهٔ نازړهٔ او مبهمه خبره کړې ده.

د روښان د مبارزې د نوعيت په حقله د پخواني سويت يونين د يو بل نامتو عالم استاد اسلانوف هغه يک هم دستانې وړ دے کوم چې د افغانستان نه دُ روښانياتو ملي نهضت" په نوم د يو کتابګې په ډول خور شوے دے. په دغه يک کښې نوموړي ليکونکي دغه مبارزه د جاګيردارۍ په ضد طبقاتي مبارزه ګڼلې ده د ليکونکي مقام او خوادي په خپل ځائے د قدر وړ سهي خو زما په خيال هغه ددغه تحريک اصلاحي، مذهبي او قومي اړخ په

نظر کښې نهٔ دے ساتلے - د غه تحریک ئې ډېر ساده اوبو ابخینه کڼلے او په دې حقله ئې ډېره ساده نتیجه داویستې ده - دبایزید روښان دژوند او فکر په حقله د پېښور د پوهنتون د پښتو څانګې یو طالب علم اختر خان هم د خپل ایم فل او پي ایچ ډي دوه تحقیقي مقالې لیکلې دي - خو په دغه مقالو کښې هم په دغه موضوع څهٔ نوے او نا آشنا خبره نهٔ ده شوې او کهٔ څهٔ نوې دعوې پکښې شوې ده نو د سرسري معلوماتو په بنیاد شکي شکي او نا ذرهٔ ناذرهٔ ده -

اګرچې د بایزید روښان د ژوند او فکر په حقله لیک کوونکي اکثر کسان د قدر وړ عالمان فاضلان دي خو! زما په نزد په دغه ټولو لیکونو کښې لاندینۍ کمي محسوسېږي

(i) په دې حقله د ځنې مغلو بادشاهانو د درباري لیکونکیو په کتابونو کښې لیکونه مونده شي - چې د هغې نه ددې تحریک په حقله د مغلو حکمرانانو د رویې اندازه لګېدے شي - خو پهٔ دغه حقله یو لیکونکي هم په پوره ډول دغه خواري نهٔ ده کړې -

(ii) بایزید روښان چې هر څوک وو دیوې ټولنې او یو دور اوسیدونکے وو - دیو خاص فکر او مسلک خاوند وو - دیو قهرمان د فکر او مسلک اهمیت او افادیت هله صحیح اندازه کېدے شي چې کله د هغه وخت د نورو ټولنو د دغه قسمه شخصیتونو د فکر، مسلک او جدوجهد سره موازنه کړے شي خو زما د معلوماتو تر مخه د روښاني تحریک په استاذانو کښې چا د غه خواري نهٔ ده کړې چې د بیر روښان د وخت د نورو دغسې شخصیتونو سره ئې هغه د غه رنګ موازنه ئې کړې وي -

(ادبي) د ننني تحقيق ذريعې او طريقې د پرې بدلې دي - نو زمونږ پوهانو او استاذانو په دغه موضوع هم لکه د نورو موضوعاتو د نوو ذريعو او طريقو کارا خستے دے -

د بايزيد روښان نه پس که د هغه اولاد هم څو په مودو مودو توري وهلې دي خو د خپل علمي شان ، ادبي صلاحيت او قومي خدمت په برکت ميدان خوشحال خان خټک وهلے دے - هغه د خپل ځان ، خپلې کورنۍ ، خپل خدمت او خپلو صلاحيتونو په حقله په خپله هم ډېر څه وئيلي دي - د هغه زامنو ، نمسو او کړوسو هم ليکلي دي - خو د شلمې پېړۍ عيسوي پښتنو ليکونکيو او بيا په تېره تېره خدائے بخښلي دوست محمد خان کامل په خپل تحقيقي زيار د هغه د خدماتو او صلاحيتونو په حقله دنيا ته دقدر وړ معلومات ورکړو -

هسې خو ميجر راورټي او پادري هيوز غوندې مستشرقينو سره واخله تر عبدالحي حبيبي او د شتين صاحب په شان پښتنو پوهانو پورې چې چا هم د پښتو ادب په تاريخ او ترتيب څه ليکلي نو خوشحال خټک ئې ستائيلے دے او د ستائنې حق هم لري - خو کامل صاحب د خوشحالياتو مستند اُستاد منلے شي او د منلو هم دے - اګر چې خدائے بخښلي کامل د خوشحال خټک د ژوند د ځنې اړخونو په حقله په اردو کښې د خوشحال خټک او انګرېزي کښې " اے فارن اېروچ ټو خوشحال " تر عنوانانو لاندې ليکل کړي دي - په اُردو نثر کښې مير عبدالصمد په خپل کتاب " خوشحال او اقبال " او پروفيسر پرېشان خټک په " پښتون کون " کښې د خوشحال بابا د ژوند او فن په حقله يو شمېر معلومات راغونډ کړي دي او " خدیجه " نومې يوې زنانه

دهغه د ژوند او ادبي خدماتو په حقله په خپله تحقيقي مقاله د پنجاب دَ پوهنتون نه د پي. ايچ. ډي ډګري اخستې ده. ولې د پښتو ادب دَ طالب علمانو د پاره د کامل صاحب هغه تحقيقي ليکونه د قدر وړ دي کوم چې خدائے بخښلي د "تاريخ مرصع" او "کلياتِ خوشحال" په ترتيب وتدوين کښې د نوټونو په شکل کښې ليکلي دي. په دې حقله د سيد رسول رسا هغه يک هم سره د لږ جذباتي رنګ د قدر وړ دې کوم چې هغه په "ارمغانِ خوشحال" کښې خور کړي دي.

په دې حقله هغه دوه کتابونه هم د قدر وړ معلومات لري کوم چې د افغانستان د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوي او خواره شوي دي. پهٔ دې کښې يو "ننګيالي پښتون" په نوم د محمد اکبر معتمد او بل د توريالي پښتون" په نوم د محمد شيرين "سنګري نوبډ يانې په اهتمام چاپ شوي دي. په دغه کتابونو کښې د خوشحال بابا د ژوند ادبي خدماتو او ملي مبارزې په مختلفو اړخونو د افغانستان او پښتون خوا عالمانو ليکونه کړي دي. پهٔ توريالي پښتون کښې د خوشحال بابا د رباعياتو د موضوعاتو په حقله د ذرعثمانوف پښتو ليک (۲۵۷ نه د ۲۶۳ پورې) د محيط اقتصادي، اجتماعي، سياسي (۱۶۷ نه ۱۸۲) ترعنوان لاندې د مير محمد صديق فرهنګ اشعار دری خوشحال خان ختک (۲۴۳ تا ۲۵۶) تر عنوان لاندې د ښاغلي محمد کاظم آهنګ په دري ژبه ليکونه هم شامل دي.

د غسې په ننګيالي پښتون کښې "د اشعار دری خوشحال خان" (۲۷ تا ۲۸) ترعنوان لاندې ښاغلي ګويا اعتمادي د آثارِ خوشحال خان (۱۱۵ تا ۱۳۳) د معصومي عصمتي او د مخ (۲۲۷ نه ۲۳۵ پورې) د مولانا امتياز علي عرشي

دري ليکونه شامل دي. نوريکښې د لوېرو تمولو نامتو پښتنو عالمانو پښتو ليکونه دي. په دغه پښتو ليکونو کښې د خوشحالياتو د استاد ښاغلي نيکولائي دوريانکوف ليک او د پښتو د کلام د انکشاف په تاريخ کښې دهغه مقام هم شامل دے. اګرچې په دغه ليکونو کښې عبدالله بختاني د خوشحال او اقبال (۴۹ تا ۶۶) عبدالقدير فهيم "د خوشحال او پوشکن" (۲۰۸ تا ۲۱۷) ښاغلي قيام الدين خادم د خوشحال او رحمٰن موازنه (۶۸ تا ۸۹) د خوشحال خان خټک او ځنې نورو ادبي شخصيتونو موازنه کړې ده.

خو نور چا د دغسې کولو خوارې نهٔ ده کړې او دغه کمې د خوشحالياتو په تمولو پښتنو استاذانو کښې (ر د مير عبدالصمد نه سېوا) محسوسېږي چې هغوي د خوشحال خټک د نظرياتو او ليکونو موازنه د دُنيا د نورو نوموړو ادبي شخصيتونو سره نهٔ کوي حالانکې د خوشحال د شان او مقام د تعين د پاره دغه موازنې په بنيادي ډول ضروري دي. د پښتو د پيار تمنت اُستاد داکتر اقبال نسيم صاحب هم په خپله مقاله "خوشحال او جماليات" دغه کمې نهٔ ده پوره کړے شوے. د پښتو اکېډمي د پښتو مجلې خوشحال نمبر او د پښتو سوسائټي اسلام آباد له خوا خور شوې کتاب خو شحال و رحمٰن هم يو شمېر مقالې او مضمونونه لري. خو په دغه ليکونو کښې واقعي نوې خبره نشته.

اګرچې د ذکر شوي ليکونو نه علاوه د دغه نوموړي شخصيت د ژوند، ادبي او قومي خدمت په حقله په مختلفو کتابونو او مجلو کښې خوارهٔ وارهٔ ليکونه شته دے. په دغو کښې اکثر زاړهٔ معلومات او بيا بيا استعمال شوي اصطلاحات تکرار شوي دي. اګرچې ځنې مضمونونه پکښې ډېر

ستاینې او ډېر قدر ورډي. ولې په دې لړکښې په شوي لیکونو کښې
که یوځوا د موازنې کړې دے نو بل ځوا د تنقیدي نظر نشت وا لے
محسوسیږي او ددې سره سره دا خبره هم ده چې د خوشحال بابا تخلیقات
تر اوسه د چاپ لیکنې د نېټو په حواله ترتیب نه کړے شو. دا به ګران کار
وي ځو دومره ګران نه دے. ځکه چې د هغوي د ژوند اکثر واقعات هم
معلوم دي او په دې لړ کښې د وسائلو هم ډېره کمي نه محسوسیږي.

د خوشحال خان خټک نه پس چې په کوم نوموړي پښتون شاعر زیات
لیکونه شوي دي هغه د پښتو پیژندلے شاعر رحمن بابا دے. د رحمن
بابا د ژبې د سادګۍ، د موضوع د آسانۍ، عوامي اثر، صوفیانه خیالاتو
او اخلاقي موضوعاتو په حقله ګڼو کسانو لیکل کړي دي. په دغه لیکونو
کښې د دوست محمد خان کامل "رحمن بابا" د داور خان داود "رحمن بابا"
په کتابي دول د محمد اعظم اعظم رحمن بابا د" اولس شاعر" د کتابګي په
توګه، د رحمن بابا په دیوان د سید رسول رسا لیک د خاص ستاینې ور دے.

ددې نه علاوه د دغه نوموړي شاعر په حقله یو شمېر عالمانو
او د عالمانو خوشه چینو مضمونونه او مقالې لیکلې دي. چې د پښتو په
ګڼ شمېره مجلو، ورځپاڼو او نصابي کتابونو کښې خوارهٔ شوي دي.
ځنې مجلو لکه پښتو (پښتو اکېډمي) او اباسین (پېښور) په خپلو ځانګړو
نمبرو کښې په دغه حقله یو شمېر لیکونه راغونډ کړي دي په مختلفو
وختونو کښې د مختلفو ادارو او ادب ذوقه کسانو له اړخه د رحمن بابا
دیوان چاپ او خور شوے دے. په دغه چاپ شوي کتابونو ځنې کسانو
سریزې او مقدمې لیکلې دي. تر دې حده خو دغه ټول لیکونه د قدر

ور دي چې د پښتو د يو ډېر لوي شاعر په حقله شوي دي - نو په دې کښې د اعظم صاحب يک کښې د رحمٰن بابا د ژبې د ساد ګډ په حقله خبره په دغه موضوع د لوې تحقيق بنياد کېدے شي - د سا صاحب خوادي د ېره کړې ده خودا يُې او رويه زړه ده - په دې موضوع د ټولو نه زياته د ستائنې وړ د دوست محمد خان کامل خواري ده - کامل صاحب نهٔ يوائې عالم وو بلکې د تحقيق په هنر هم پوهېده ٔ - هغوي په خپل کتاب کښې د رحمٰن بابا ژوند او شعري موضوعاتو په مختلفو عنوانا تو تقسيم کړي دي - او خبره يُې پرې کړې ده - په دغه هره موضوع يُې د هغوي د شعرونو په حواله د هغوي نقطهٔ نظر را برسېره کړے دے - د دې نه علاوه يُې نهٔ يوائې د هغوي د ژوند په حقله غير ضروري او غير علمي خبرې يوې ډډې ته کړي دي - بلکې د تاريخي حوالو او د ليلونو په رڼا کښې دَ هغوي د وفات په حقله دَ کال ۱۱۱۸ھ د عوىٰ مسترد کړې ده - په دې حقله د غه دعوىٰ په پټه خزانه کښې د دغه کتاب مؤلف خدائے بخښلي محمد هوتک بن داؤد کړې ده هوتک چې د رحمٰن بابا ژوندته د نورو ليکونکيو په مقابله کښې ډېر نزديکت لرې او په خپل ذکرشوي تاليف کښې د هغه شعرونو په حقله د خپل تاليف په مخ ۹۴ دوهم چاپ (د حبيبي صاحب په زيار په افغانستان کښې چاپ) کښې کومه لنډه غوندې خبره کړې ده نو هغه کښې يُې د هغه د وفات کال ۱۱۱۸ھ په ګوته کړے دے - نو خدائے بخښلي کامل د مغليه تاريخ دځينو مهمو واقعاتو او په هغې د رحمٰن بابا د تاثراتو په رڼا کښې دې سره اتفاق ونکړو او هغه يُې د دغه کال نه ورستو هم څو کاله ژوندے ثابت کړے دے - د داور خان خوادي په خپل ځائے د قدر

ورسهي نور د رحمان بابا د ژوند او شعري موضوعاتو په حقله نوي معلومات نهٔ لري - د غسې دد غه نوموړي شخصیت په حقله د نورو اکثرو کسانو په لیکونو کښې هم څهٔ نوي راڅي او رویه نشي موندے - بلکې اکثر کسان نور د لفظونو او جملو ترحده هم د هاغه ځایه وړاندې نهٔ دي تلي تر کومه ځایه چې عبدالحی حبیبي، صدیق الله رشتین، امیرحمزه خان شنواري او تقویم الحق کاکاخیل په خپلو مضمونونو او مقالو کښې خبره رسولې ده - حقیقت دادے چې د رحمان بابا د کلام د اثر جادو او د شخصیت د تقدس دائره دومره قوي ده چې کهٔ د هغه په حقله څوک لیکل کوي او د کامل نظر ځنبتن نه وي نو د هغه ټول اصطلاحاتو نه به چاپېره چورلي - په کوم چې هغه ټول ټول ځله ستا ئېلے شوے دے.

کوم چې په دغه موضوع د کامل ذکو شوے وروکے کتاب د هغه تولو لیکونو د شریک وزن نهٔ په علمي نظر دروند ښکاري کوم چې په دغه موضوع شوي دي - خو بیا هم ځنې پښتنو عالمانو د کتاب هغه برخه ناموزون گڼلي ده په کومه کښې چې د فارسي د ځنې نامتو شاعرانو او رحمان بابا د څهٔ شعرونو یوشان والے په ډاگه کړے شوے دے - زهٔ د غه عالمان د ډېر قدر جوگه گڼم او د هغوي خبرو ته ډېر احترام لرم. نو د هغوي د یو کس په حیثیت په ډېر درناوي سره عرض لرم چې کهٔ دوي د انگریزي ژبې د نوموړي شاعر " شاوُس " په حقله د دغه ژبې د هغه محققینو په هغه تحقیقي لیک یو نظر اچولے وے کوم چې هغوي د هستري آف انگلش لټریچر د مخ ۱۲۹ نه واخله د مخ ۱۵۵ پورې په ۲۷ مخونو خور کړے دے - نو بیا به ئې د کامل صاحب

دیک نه دغه گیله نهٔ پیدا کیده - په دغه یک کښې د شاؤسر د اهمیت، ضرورت قابلیت او شاعرانه عظمت ستائلو په څنګ څنګ کښې د هغه په تخلیقاتو کښې د لاطیني او فرانسیسي ژبو د فن پارو اثرات او ژبارني هم په نخښه کړي دي - شاؤسر په انګریزي ادب کښې هغه مقام لري کوم چې په فارسي کښې د رودکي، په پښتو کښې دخوشحال خان خټک او بنګاله کښې د ټیګور دي - خو یو انګریز هم په دې تحقیق تند نهٔ دے چو نطے ځکه چې تحقیق - تحقیق وي او انسان دخپل چاپیر چل نه اثر او تاثر قبلوي - د هغه د نقطه نظر زبلې او دیښتانګي نتول او د هغه د اثراتو دائره معلومول د محقق کار دے -

د خوشحال خان خټک او رحمٰن بابا نه پس عبدالحمید ماشو وال د پښتو ادب مهم شخصیت ګڼلے شي - خدائے بخښلي حبیبي په خپل "تالیف پښتانهٔ شعراء" کښې دریم لوي اُستاد شاعر ګڼلے دے او د هغوي د دغه رائې سره تو اوسه چا اختلاف نهٔ دے کړے -

اګر چې د لوغوتو پښتنو شاعرانو په تذکرو کښې د حمید بابا ذکر دیو اُستاد شاعر په ډول اکثر شوے دے خو د دوي په حقله هغه هومره څه نهٔ دي لیکلي شوي کوم چې د دوي حق جوړیږي -

په ځانګړي لیکونو کښې ئې د خدائے بخښلي نعیم شاه نعیم کتابګے عبدالحمید ماشو وال " او د خواجه سائل "عبدالحمید بابا دستائښې ور دي -

نعیم د حمید بابا د شخصیت سره بې کچه عقیدت لرلو او په خپل دغه لیک کښې د دغه عقیدت سره سره د اخبره په وثوق سره کړې ده

چې عبدالحمید ماشوخیل نه وو او نه په د غه علاقه څۀ داسې قسمه خپل

شته بلکې د ماشوګګو د اوسېدونکي په حېثیت ماشووال کېدے شي - البته

د سائل صاحب کتاب روبېه خو نیمګړے کوشش دے - ځکه چې د حمید بابا

په حقله کتاب لیکل، چاپ کول او خوروِل په خپل ځائے ډېره لویه خبره

ده - "د نیرنګِ عشق" په حقله ئې هم د قدر وړ معلوماتي بحث کړے دے -

خو خوړ تهول معلومات ئې زاړۀ او خبرې روایتي دي - حتیٰ چې

د هغه د زېږون په حقله ئې چې د رېښتین صاحب کومه غوره کړې نېټه

بې د لیله کنلې ده ، خپله ئې هم په هغه بې د لیله نېټه صبر کړے دے -

د مرګ کال ئې په اندازه سره سنه ۱۱۵۵ھ کنلے دے - خو خپله اندازه ئې د

واقعاتو او تاریخي دستاوېزاتو په تله نۀ ده تللې - زما یقین دے چې د سائل

صاحب غوندې عالم فاضل محقق به په خپله هم بې د لیله اندازه د تحقیق

د پاره مناسب نۀ ګڼي - د غسې د علامه اقبال خودي او د پښتنو پښتو په

یوه معنیٰ او یو مطلب ګڼل غلطه ده - دا خبره که هر څو هم د سائل غوندې

دروند مشر کړې ده خو په علمي او معلوماتي لحاظ درست نۀ ده - د علامه اقبال

خودي په عمومي ډول د انسان او خصوصي ډول د مسلمان د شخصي تکمیل

یو فلسفیانه نقطه نظر دے او پښتو د پښتنو د ګډ ژوند ژواک نوم دے -

د اقبال د خودۍ په غېږ کښې دوزلے شوے انسان د جبریل ګرېوان ته

لاس اچوي او د پښتو په زانګو کښې لوې شوے پښتون د خپل مشر سره

په یوکټ کښې ناسته هم مناسب نۀ ګڼي د اقبال د خودۍ د مرحلو نه

کامیاب تېر شوے انسان د خدائے رضا د خپلې رضا تابع ګرځوي -

ع (خدا بندے سے خود پوچھے بتا تیری رضا کیا ہے)

خود پښتون رضا د جرګې د فیصلې نه هم قدم نشي اړولے۔

سائل صاحب په خپل ذکرشوي کتاب کښې هغه ذره قصه هم رانقل کړې ده د کومې د مخه چې یو سړے د خپلې څهٔ مسئلې د حل لټولو د پاره رحمٰن بابا له راغے خو هغه حمید بابا له ولیږهٔ ۔ د غه وخت حمید بابا ماشوم وو او کوڅه کښې په ټپانچه سور منډې وهلې خو هغه سړي ته ئې په استعاراتي ژبه کښې ډېر معقول جواب ورکړو او بیا ئې ورته اووے چې د مخې نه پڅ شه آس به دې اوو هې او په ټپانچه سورئې منډې کړې ۔

یقیناً چې دا خبره به د حمید بابا د کلي مشرانو کړې وي او سائل صاحب به د هغوي نه اورېدلې وي ۔ خو دیو محقق کار یوا ځې د خلقو خبرې اورېدل او نقل کول نهٔ وي د هغې دروغ رښتیا معلومول هم وي۔دغسې ډېرې خبرې د رحمٰن بابا په حقله مشهورې دي کهٔ دوست محمد کامل د هغې په رانقل کولو اکتفا کړې وے نو د رحمٰن بابا په شان کښې به کمے نهٔ وے راغلے خو کامل به کامل نهٔ وے ۔

د خپلې کم علمۍ باوجود زما دا خیال دے چې د سائل صاحب غونډې تجربه کار محقق له دغه واقعه یقیني رد کول پکار وو ۔ ځکه چې اول خو ماشوم په دغه عمر کښې دومره معقوله او جامعه خبره نشي کولے ۔ که بیا هم یو ماشوم څهٔ داسې پیدائشي نابغه وي چې د غسې خبرې هم کولے شي نو بیا د هغه نورې عادتونه هم د نورو ماشومانو نه په بیل رنګ وي ۔ هغه په کوڅو کښې په ټپانچو سور منډې نهٔ وهي او نه ټپانچې ته آس وائي ۔ او نهٔ ئې څوک د غه قسمه لوبو ته پرېږدي بلکې د ماشوم والي نه ئې د بزرګۍ او مشرۍ په ځائے کښېنوي او که دا هم

څهٔ یو نوا ته کړے شي نو ددې حقیقت نه نو هیڅ څوک انکار نشي کولے چې دغسې ماشومان په راتلونکي ژوند کښې نورې لویې معجزې ښکاره کړي - نو د حمید بابا دیوان موجود دے - تر سپینې ږیرې پورې يې شاعري کړې ده خپل عشق يې ستا ښلے دے - خپل شاعرانه توان يې ستا ښلے دے - نو نهٔ يې خپلې معجزې یادې کړې دي او نهٔ يې په کتاب کښې داسې رنګ معجزې شته - د هغه د دیوان نه نو دوسره ښکاري چې هغهٔ د پښتو یو نوښ ژبې نازک خیاله شاعر وو - په پښتو د هغه دومره احسان هم دَ ډیرې ستائنې وړ دے او د نورو ژبو څخه نوې قيصې يې پښتو کړې دي -

د پښتنو پیاورو، قومیالو، سیاسي، اصلاحي، مذهبي او ادبي شخصیتونو په حقله د لیکونو په لړ کښې د عبدالحی حبیبي "پښتانهٔ شعراء" د سمندر خان سمندر "پښتني" (په افسانوي انداز کښې) د حمید الله کاکړ "قومیالي" د اسد قریشي "سهیلي ستورې" د همیش خلیل "پښتانهٔ لیکوال" دَ عبدالهادي اسیر "پښتانهٔ شاعران"، د سوات ورک شاعران د اقبال نسیم درنګ و بو قافله") د حبیب الله رفیع " اواره شیدا " د یو شمیر لیکونکیو په ګډ زیار په افغانستان کښې چاپ شوے کتاب " غني او اجمل"

د عبدالروف بینوا " اوسني لیکوال " (ددې تړکه)، د پریشان خټک " د پښتنو ادیبانو او شاعرانو فهرست " د مراد شنواري د خیبر ادب"، دَ خیبر افریدي " د خیبر انګازې " د افضل رضا "بټ ستورې") د عبد الحلیم اثر " تیرهیر شاعران" د مجبور سوراني د بنوں ادب"، د اشرف غمګین د هشتنغر شاعران" د رحیم شاه رحیم واوریښې څوکې"، د فرمان مسافر" ځلنده ستورې" ددې نه علاوه هم په د غه لړ کښې یو شمیر پښتنو لیکو نکیو

مقالې او مضمونونه ليکلي دي. د غه ټول ليکونه په خپل ځاې د ستاينې وړ دي. ټول د غه اکثر په تذکراتي ډول ليکل شوي دي. اګرچې ځني ټول په د غه ډول ليکل پکار وو. ولې په ځنو کښې خامخا د تحقيقي ټوارتې څرګندونه کړې شوې ده. د نسيم صاحب په ليک د تحقيق رنګ نور دے. ټو نتيجې يې نرې دي. د رفيع صاحب ليک د تحقيق په لوړ پوزړور قدم دے. ټول د قدم لاندې زمکه يې بوښته ده. کمزورو دليلونو يې نتيجې ګنجلکې کړې دي." د غني او اجمل" په حقله ځنې ليکونکي د سياسي مصلحتونو ښکار شوي دي.

زما مطلب دا نه دے چې کښې دېوې ادبي موضوع يا ادبي شخصيت د څېړنې په لړ کښې د سياسي حالاتو او نظرياتو خامخا څرګندونه پکار ده. بلکې زما ټول دا يقين دے چې د سياسي حالاتو او نظرياتو د رڼا نه بغير به د غسې کار نيمګړے وي ټو هر څه او هر څوک د يو خاص نقطهٔ نظر په کوښونو کښې بندول مناسب نه دي او هم د غسې د يو خاص نقطهٔ نظر د خاطره په يک کښې د تنقيدي او تحقيقي عمله د ډه کول د موضوع سره ناانصافي ده. د لږغونو شاعرانو تذکرې اکثرو پښتنو شاعرانو، اديبانو او عالمانو ليکلي دي او د معلوماتو دا غونډولو سره سره يې د احتياط نه کار اخستے دے ټول د شلمې پېړۍ عيسوي د پښتنو شاعرانو په حقله د همېش خليل د پښتانهٔ ليکوال پرومبي ټوک نه علاوه) نور اکثر کتابونه د يکسانيت او يکرنګۍ ښکار دي. د شاعرانو په حقله پکښې يو شان معلومات ورکړے شوي دي او اکثرو يې په مختلفو کتابونو کښې د کلام نمونې هم يو رنګ دي. دا ضروري ټول نه ده چې په هر کتاب کښې دې د يو شاعر په حقله و ليکلې شي چې د هغه دا نوم دے، دا تخلص لري، د پلار نوم يې دا دے په فلانۍ نيټه په فلاني کلي

کېنې ذ پېر پېدلے دے اود غسې نودې عمومې خبرې. که د غه هر څه په یو کتاب کېنې ذکر شوي وي نو چې په بل کتاب کېنې د هغه د ژوندن او فن د نورو اړخونو لټوونډي ذکر وے دغسې به دومره فرق نوراغلے وو کوم چې په کوکا کولا او پیپسي کولا کېنې وي او د شاعر یا لیکوال په حقله د لوستونکو معلومات به هم زیات شوي وي او که د چا د اغونډوونکي نه دومره خواري هم نه شوه کېدے نو چې په دغه وسائلو څه بل څه ادبي خدمات ترسره کړے شوے وے.

د پښتو ادب د تاریخ په حقله یو شمېر لیکونکیو مضمونونه او مقالې لیکلې دي او یا ئې د خپلو نورو لیکونو په لړ کېنې دغه ذکر کړے دے خو په دې حقله د خدائے بخښلي عبدالحي حبیبي د پښتو ادبیاتو تاریخ (دوه ټوکه) د صدیق الله رشتین صاحب "د پښتو ادب تاریخ" او نواز طائر صاحب "روهي ادب" (دوه ټوکه) د خاص ستائنې وړ دي. دغه درې واړه کتابونه په علمي او معلوماتي حوالو د قدر وړ دي خو د څنې بنیادي معلوماتو او څانګړي نظریاتو له کبله د خدائے بخښلي حبیبي تاریخ د خصوصي اهمیت جوګه دے. بلکې د دغه کتاب نه وروسته پس چې چا هم په دغه موضوع په پښتو کېنې لیک کړے دے نو د قلندر مومند نه سېوا هر چا هم هغه خبره کړېده کومه چې حبیبي صاحب کړېده. ګران نواز طائر صیب هم په خپل کتاب کېنې درانه او خواږه معلومات راغونډ کړي دي خو که یو خوا د څنې موضوعاتو تکرار دغه کتاب ثقیل کړے دے نو بل خوا د څنې کوتلي معلوماتو په دنا کېنې دَ څه راټې جوړولو نه د لیکوال ځنډې کولو د غه کتاب په تحقیقي رنګ کمزور کړے دے خو بیا هم چې فاضل لیکونکي په دغه کتاب کېنې په څومره خوارئ څومره معلومات راغونډ کړي دي نو د هغې په برکت به هم د پښتو ادب

د شمېر په څو کتابونو کښې شمېر لے شي -

اګرچې په دغه خاوره لويو لويو تهذيبونو غزونې کړې دي - چرته چې پښتانهٔ اوسي - خو په پښتو کښې په دې حقله ډېر کم څهٔ ليکلي شوي دي - د جيبي صيب (د پښتو ادبياتو تاريخ) په دې حقله څهٔ بنيادي معلومات لري - خو دغه يک د ادب د تاريخ په ذکو کښې پهٔ ضمني ډول را غلے دے - دېرويش شاهين صيب" ګل ورېنې څوکې " نومې کتاب هم په دې حقله څهٔ نهٔ څهٔ معلومات لري - اګرچې شاهين صيب عالم فاضل انسان دے خپل صلاحيتونه ئې د تحقيق مېدان ته سپارلي دي - خو د دغه کتاب د اکثرو علمي مقالو معلومات ذاړهٔ دي -" ايلم د تاريخ په رڼا کښې تر عنوان لاندې (٢٦ - ٥١) مخونو باندې يک شوے دے - په دغه يک کښې د دغه غر په عمر کښې د سوات د زمکې همزولي ګڼي - (٥٢ مخ) او دغه خبرهٔ کهٔ يو خوا په سائنسي ډول درسته نهٔ ښکاري - ځکه چې د نورو غرونو غونډې به دغه غر هم په يقيني ډول د زمکې نه ورستو وجود موندلے وي نو بل خوا په علمي ډول هم دېو ځائے د تاريخ په حقله د غسې عمومي دائې مناسب نهٔ وي - ولې بل خوا ئې د دغه غر نوم دېو داسې زوړ تهذيب نوم ګڼلے دے چې د کوم د نخښو نښانو او رنګ روغن په حقله په دغه مقاله کښې دوه ټکي هم نشته - د دغه غر په سر د رام چندر رجي د کلونو کلونو اوسېدو ذکو هم کوي خو د خپلې دعوې په حقله هېڅ دليل، ثبوت او حواله ضروري نه ګڼي - حالانکې فاضل ليکونکے د د غسې دعوو په لړ کښې د ثبوتونو او حوالو د اهميت نه ښکېله خبر دے د مقالې په آخر کښې د دغه غر په حقله د سمندر خان سمندر اوږد نظم په پوره ډول رانقل کړل هم

دیوې علمي مقالې د شان مناسب نهٔ سنکاري -

او کله کله نو سړے حیران شي چې د شاهین صیب غوندې لوې عالم او تجربه کار لیکوال د خپلو لوستونکو سره تیرې کوي او کهٔ په خپلو موضوعاتو پورې خندا کوي - د "پښتو" تر عنوان لاندې ئې (۲۸ - ۱۹) صرف دومره خبره کړېده چې د حکومت یا قانون د اتلو نه وړاندې په سوات کښې یو دور وو چې هغې ته به ئې (پښتو) وې اود هغې دومره خوبۍ او دومره خامۍ وې - دغه دوره د پښتنو په هره علاقه تېره شوې ده

تر دغه عنوان لاندې د دغه معیار د لیکوالکي نه لوستونکي نور توقعات لري - دغه حال ئې د هغه یک دے کوم چې د بده مت او پښتو نخوا تر عنوان لاندې (۵۹ - ۲۹) شوے دے - د بدهٔ د پیدا کښت ځائے ځائیګې، تبلیغ او تعلیماتو په حقله ئې هغه خبرې کړې دي کومې چې په دغه حقله د عام سکولونو د ماشومانو د کورس په کتابونو کښې هم موندے شي -

زهٔ د پښتو ادب د یو مات ګوډ طالب علم په حیثیت د شاهین صیب علمي شخصیت او تحقیقي مشغلې ته په ډېر درناوي ګورم نو د هغوئ د دغه لیک په حقله مې دغه څو خبرې (په ډېر معذرت سره) کول ځکه ضروري وګڼلې چې د هغوئ غوندې عالم فاضل لیکوالکي د قلم نه وتې خبرې د تاریخي سند په توګه وړاندې کېدے شي او کهٔ د هغې کمي په وخت په ګوته نهٔ کړے شي نو د خپل وخت نه تېر څه چې د اتلونکي څو نسلونه هم تېر یستې شي -

د دې خاورې د ځني تهذیبي اثارو په حقله زلمي (رکیالوجسټ شاه نظر بېنوا) د شهباز ګړې د تاریخ پاره ئې لیکونه (چاپ مجله پښتو اکتوبر ۱۹۸۲ء) او ګندهارا آرټ (چاپ مجله پښتو فن وفنکار نمبر) تر عنوانانو لاندې

علمي او معلوماتي مقالې ليکلې - ولې د دغه ليکوتونه پس لکه چې مناغلې دَ ليکلو سترې شوې وي - يا ئې د خپلو آثارو خوړولو زړهٔ موړ شوې وي او يا ئې زما د نظره ليک نهٔ وي تېر شوې - کهٔ ما نه وي لوستے نو دا به زما ځانګړې بد بختي وي خو په نوړو دوارو حالتونو کښې به د مناغلي شاه نظر د غه رويه قومي تاوان وي -

۲- د پښتو ادب په تحقيقي پنګه کښې يوه لويه برخه د شلمې پېړۍ عيسوي د پښتنو ليکو نکيو د هغه خدماتو ده کوم چې دوي د لوغونو پښتنو شاعرانو د ژروند ژواک او ادبي آثارو راغنډ ونې ترتيب او تدوين په لړ کښې ترسره کړي دي -

د غه خواري د مقدمو، د سريزو، نوټونو او فټ نوټونو په صورت کښې د دغه کتابونو په پاڼو خوره ده - په دې لړ کښې د عبدالحی حبيبي له اړخه د محمد هوتک په "پټه خزانه" (افغانستان چاپ) مقدمه او نوټونه (فارسي) د خدا ئے بخښلي دوست محمد کامل مومند له اړخه د تاريخ مرصع مقدمه او نوټونه) د کليات خوشحال ترتيب و تدوين، د سکندرخان ختک په ديوان سريزه نما مقدمه - د کمال محمد نوروزي له اړخه د خوشحال خان ختک کليات "روښے تهوک) ترتيب وتدوين او نوټونه د مولوي احمد له اړخه د عبدالرحمن بابا د ديوان تصحيح، د سيد رسول رسا له خوا د ارمغان خوشحال" مقدمه د رحمن بابا ديوان" ترتيب وتدوين او نوټونه ا دَ صنوبر حسين کاکاجي، کامل مومند او قلندر مومند په شريک زيار دَ رحمن بابا کليات" ترتيب و تدوين، نوټونه -

د قاضي عبدالسلام له خوا د رحمن بابا د ديوان ترتيب و تدوين دَ

قاضي هدایت الله د "دیوان احمد شاه ابدالي ترتیب وتدوین د قاضي عبدالسلام
د دیوان علي خان شرح او تصحیح، د میاں تقویم الحق کاکاخیل د دیوان علي خان
مقدمه د قاضي عبدالسلام د حافظ الپوري د دیوان شرح، د مولانا عبدالشکور
د خوشحال خان ختک د دستارنامې او افضل نامې تصحیح ترتیب او تدوین
د همیش خلیل له خوا د دیوان مرزا خان انصاري، دیوان اشرف خان هجري،
دیوان قنبرعلي اورکزي، دیوان بیدل، دیوان بابا سعید، دیوان معزالله
خان مومند، دیوان کاظم خان شیدا، د حمید شاه وګدا، د خوشحال خان
طب نامه، بازنامه، فراق نامه او سوات نامه د ترتیب، تدوین، سریزو
او مقدمو خواري، د قلندر مومند له خوا د محمدي صاحبزاده په دیوان
مقدمه او نوټونه د دا کټر انوارالحق له خوا د عبدالحمید په دُر و مرجان
او عبدالقادرخان ختک په حدیقه ختک مقدمې / سریزې د نصرالله خان
نصر په "دیوان عبدالعظیم رانیزي" او د نورالدین چاربیتي د سریزو
او مقدمو خواري، د رحیم شاه رحیم د دیوان احمددین طالب دیباچه او
حاشیه. د ذلمي هیواد مل له اړخه د عبدالحمید په دیوان (د افغانستان چاپ)
مقدمه د ستائنې وړ خوارۍ دي - د دې نه علاوه د پرېشان ختک،
محمدنوازطائر، مولانا عبدالقدوس، خیال بخاري، پردل ختک، راج ولي شاه
ختک، او د پښتو اکېډیمۍ د ځنې نورو غړو له اړخه د میاں نعیم متي زی،
خواجه محمد بنګښ، معزالله خان مومند، په دیوانونو مقدمې، د طالب رشید
په "ګل صنوبر" د عبدالقادرخان په "ګلدسته" د فیاض په "شهزاده بهرام
او ګل اندامه") د صدرخان ختک په دلی او شهی، "آدم درخانۍ" د
جمیل بېګ په مناقب جمیل بېګ او دغه رنګ د یوڅو نورو آثارو سریزې،

مقدمې او نوټونه دستاسې ورېدي -

ددې نه علاوه د افغانستان کښې شمېر پښتنو عالمانو د ځنې لرغونو پښتنو شاعرانو لکه دولت لواڼي، واصل روښاني، اشرف خان هجري، دَ عبدالقادر خان خټک - د کاظم خان شېدا، يونس، قلندر اپريدي، شمس الدين کاکړ، حنان بارکزي، جمعه بارکزي، پير محمد کاکړ، احمد شاه بابا په ديوانونو او د عبدالحميد په نېرنګ عشق، دخوشحال خټک په رباعيا تو، بازنامه، دستارنامه، طب نامه، سوات نامه، د عبدالقادر خټک په يوسف او زليخه او د غسې د نورو آثارو سريزې، مقدمې او نوټونه ليکلي دي-

ددې سره د مراد شنواري هغه مضمون هم د قدر وړ نواري ده کوم چې هغه "زمونږ قلمي نسخې" د سرخط لاندې ليکلې دې - او د پښتو اکېډمي پېښنور د مجله "پښتو" کال ۱۹۵۹ء د جولائي اګست، ستمبر او اکتوبر- نومبر، د سمبر ۱۹۶۱ء د جنورۍ نه تر دسمبره پورې شماروکښې خور شوي - د دوي نه وړاندې سيد انوار الحق "زمونږ زړې قلمي نسخې" تر عنوان لاندې د کال ۱۹۵۸ء د جولائي، اګست، ستمبر په شماره کښې هم د غه رنګ مضمون ليکلے دے - په دغه مضمونونو کښې د هغه قلمي نسخو د سائز، رنګ، کاغذ، حالت او ځائې ځائې په حقله معلومات وړاندې کړے شوي دي کوم چې د پښتو اکېډمۍ په کتابتون کښې هغه وخت خوندي کړے شوي وي - د ځينو نسخو نه ئې څه شعرونه هم د نمونې په توګه وړاندې کړي دي -

زمونږ د دغه ټولو عالمانو، فاضلانو د غه ټولې خوارۍ د قدر وړ دي خو د شعري آثارو په ترتيب او تدوين کښې ئې د تاريخ خيال نهٔ دے ساتلے - د غسې لوستونکو ته د خپل شاعر د ذهني سفر اندازه نهٔ لګي - بېشکه

چې زمونږ د اکثرو لرغونو شاعرانو د زېږون او مرګ نېټې په وثوق سره نهٔ
دي معلومې نو د هغوئ شعري آثاروته نو به ترتيب ورکول نوره ګران
کار وي - ولې کهٔ دا خبره په نظر کښې ونيوے شي چې د فن او موضوع
دوارو د نظره د هر شاعر تخليقي صلاحيت د ژوند په لار سفر کوي نو بيا
د هر چا په کلام کښې د هغه د تخليقي سفر پلونه او پړاؤنه په نخښه کېدے
شي - د ټولو لرغونو شاعرانو نه سهي د ځنې کسانو کلام نو تر ډېره حده
د غسې تاريخي ترتيب مونږ ے شي -

د دې نه علاوه په دغه ليکونو کښې هغه سياسي، معاشي، اخلاقي
او ادبي ماحول هم په نظر کښې نهٔ دے نيولے شوے په کوم کښې چې دغه
شاعرانو ژوند کړے او د هغوي فکر و فن تر يو رنګ او دنيا اخستې ده -
حالانکې د تحقيق د نظره د شاعر / ليکونکي د ژوند ژواک لا دې چاړې او
د چاپېرچل مختلف اړخونه ډېر اهم وي - خو بيا هم په دغه کسانو
کښې د ډېرو خوارۍ د ستائنې وړ دي -

په دې لړ کښې د همېش خليل زيار تر هر چا زيات د ستائنې وړ دے -
هغه په يو اځې ځان ګڼ شمېره کتابونه راپېدا کړي، په هغې ئې مقدمې
ليکلي او هغه ئې د چاپ او خورونې د عمله تېر کړي دي -

اګرچې هغه په خپلو مقدمو کښې هغه ضروري احتياط او علمي خوارى
نهٔ ده کړې کومه چې په هغه غونډې عالم فاضل د دغه آثارو حق بوربېدو
خو کېدے شي چې د کار د زياتي او بېړې په وجه هغوي داسې نهٔ وي
کړے شوي ولې کهٔ هغه په دغه يو کتاب هم هيڅ نهٔ وې ليکلي نو بيا
به هم د هغوي خدمات لاثاني او لافاني وي ځکه چې د دغه هومره

کتودو کتابونو ناپید اکول اونوروله دومره لویکاردے چې هم دهغه
هومره لوی سرے ئې کولےشي۔

په دغه میدان کښې تقویم صاحب لوی نوم لري۔ اګرچې هغه دَ
مقدمو استاد دے نو مقدمه باز نهٔ دے۔ دخپل قلم په سرئ هروخت
د احتیاط او د احتساب څوکۍ کېښنولي وي۔ دخپل ژوند اوږدهٔ ،نوږه
او علمي مقدمه ئې د اخون درویزه بابا په "مخزن" لیکلي ده نو استاذیه
رنګ ئې په هغه مقدمه کښې جوت دے۔ کومه چې ئې د علي خان بابا پهٔ
دیوان لیکلي ده۔ په دغه مقدمه کښې نوئې دا په وثوق سره وښلي
دي چې دغه علي خان دخوشحال خان خټک کروسے محمدعلي نهٔ دے او ددې
خبرې پېروئي ئې نوروته پرېښودې چې علي خان خټک دے کهٔ محمدزی
دغسې ئې د هغه دشاعرۍدوره متعین کولو د پاره یوه داسې عجیبه لارخپله
کړې ده چې لوستونکي څو پهٔ ځان پوهېږي نو د علي خان بابا سره د ډېرو
زړونو آخري اسرې ته رسېدلے وي۔

مقدمې دقلندرمومند صاحب دستاښې وړ دي۔ هغوي نه یواځې
درحمٰن بابا دکلیاتو په سمون او تدوین کښې دکاکاجي او کامل نیمګړے
کارترسره کړو بلکې د تحقیق دنظره ئې په دغه کارکښې پهٔ زړهٔ پورې
پراختیا راوسته۔ ددې نه علاوه د محمدي صاحبزاده پهٔ دیوان او دَ
بایزید روښان په خیرالبیان دستاښې وړ علمي مقدمې ولیکلې۔
د قلندرصاحب د مقدمو سره اختلاف کېدے شي نو دا حقیقت به هرڅوک
مني چې د هغه یوه دعویٰ هم بې دلیله نه وي۔ د دوي غوندې نور
ځنې عالمان لیکونکي هم په دغه لحاظ دستاښې وړ دي۔ نو پهٔ دغه

رنګ تحقیق کښې د دوست محمدخان کامل خدمات د ډېرې ستاینې وړ دي. په دغه لړ کښې د مقدار په لحاظ نور هم د هغه همسري کولے شي بلکې د هغه نه مخو قدمه وړاندې تلے شي. خو د معیار په میدان کښې ورسره هیڅوک نهٔ شي پیلے. هسې خو دَ هغوي په هر څ خوارۍ کښې د یو عالم فاضل محقق د وینو رنګ برېښي خو د افضل خان ختک د تالیف "تاریخ مرصع" مقدمه او نوټونه ئې مثالي خواري ده. په مقدمه کښې ئې د دغه تالیف په موادو، موضوعات، ترتیب او اهمیت زړهٔ پورې خبرې کړي دي په نوټونو کښې ئې د مولف دَ موضوعاتو دعوو او ذکر کړې واقعاتو په صحت رڼا اچولې ده او چې کله ضرورت پیښ شوے دے نو نور نوټونه ئې هم لیکلي دي د خپلې موضوع په حقله ئې معلومات زیات دي او د خپلو معلوماتو په رڼا کښې ئې نهٔ پهٔ رشتیاؤ سترګې پټې کړي دي او نهٔ د مصلحت په تهل نغوتے دے او نهٔ ئې د توازن مزه خفه کړې ده.

د پښتو ادب په ډېرو آثارو د مقدمو لیکلو، هغې ته په ترتیب ورکولو او د هغې د متنونو د درستولو په لړ کښې د افغانستان یو شمېر پښتنو لیکونکیو پهٔ زړهٔ پورې خواري کړې دي په دغه لړ کښې کُن نومونه او ښلا خوارۍ د ستاینې وړ دي خو پهٔ لنډه به دومره او وایم چې خدائے بخښلي عبدالحي حبیبي نه واخله تر زلمي هیوادمل پورې هر یو تن په دغه میدان کښې د خپلو علمي صلاحیتونو په زور په خپلو پښو ولاړ دے. د پټې خزانې په لړکښې د حبیبي د خوارۍ نه واخله د حمید بابا په دیوان (افغانستان چاپ) د هیوادمل د خوارۍ پورې هره خواري د صفت جوګه ده. د تحقیق په میدان کښې د افغانستان په خاوره یو داسې دروایت جوړ شوے،

يو داسې ماحول پيدا شوے چې د چل ول او للو پتو د پاره پکښې ځائے نشته او که څوک د غسې تن په د غه نيت او اراده د غه ميدان ته د ننګلي دي نو ماتې ئې خوړلې ده - دا نه چې هلته د تحقيق په ميدان کښې د غسې کسان نهٔ وو يا نشته - بې شکه وو هم او شته هم خو د هغوي شمېر د ېر کم او رنګونه خړدي ولې دا روايت په پښتو خوا کښې نشته - دلته کهٔ هر څو څنې کسانو په دې حقله د ستاښې ور علمي خوارى کړې دي نو يو ماحول نه دے جوړ شوے - عام لوستونکي په د غسې ليکونو کښې دلچسپي نهٔ لري او اکثر کسان چې د غسې ليکونه کوي نو هغوي ئې دليل و برهان او ثبوت ګواه د خپلې دعوې پهٔ اوګو بار ګڼي - په دې لړ کښې سرے د ګڼو کسانو نوښونه اخستے شي او ګڼو خوارو ته ګوته نيوے شي - څکه چې ددې ميدان پهٔ د غه لږ و غوندې کسانو کښې هم دد غه ډول کسانو شمېر زيات دے - خو زهٔ د نمونې په ډول د خپل يو قدرمند دوست رحيم شاه رحيم په هغه خوارى خبره کوم کومه چې هغه د "ديوان احمد دين طالب" په لړ کښې کړېده - د رحيم صاحب د معلوماتو مطابق احمد دين په سوات کښې پنځه ديرش کاله ژوند کړے دے - په آخر کښې د مردان ضلعې ته د صحبت استاد کره تلے دے - سوات ته د راتلو نه وړاندې ئې په فوځ کښې نوکري کړې ده - شاعري ئې د سوات په ماحول کښې وده موندې ده او د سوات په خلقو ډېر اثر لري - دا احمد دين د غه ديوان څهٔ موده وړاندې د سوات سيد و شريف يو عالم فاضل مرزا آصف خان سره د خپلې مقدمې چاپ کړے وو - د غه سرے د سوات د باچا صاحب درباري مرزا وو - نن سبا د سوات په عدالتونو کښې د وثيقه نويس په حيثيت روزګار لري - او تر نن ورځې په مرزا صاحب

مشهور دے - مرزا صاحب د دغې نوموړي شاعر د ژوند په حقله ډېر معلومات لري -
خو شاید چې دومره لوی دعوی یې مناسب نه ګڼلې - د احمد دین په حقله هم
د غسې دعوی د صوابدید زېدې نومې کلي خلق هم لري -

د احمد دین زمانه دومره لرې نه ده تلې - د زېدې هغه ځېرې خلقو
ته معلومې دي په کوم کښې چې هغه شپې ورځې تېرې کړې دي - د هغه
کسانو نومونه او کړه وړه خلقو ته یاد دي د چا سره چې د هغه تعلق او
ناسته پاسته وه - د هغه هلکانو تاریخ جغرافیه خلقو ته معلوم دي د
چا سره چې د هغه مینه وه د هغه شعرونه اوس هم د دغه کلي په ځوانو
او بیټکونو کښې زلمي په ډېره مینه وائي - په دغو کښې ځینې داسې شعرونه
هم شته چې د هغه په چاپ آثارو کښې نشي لیدے او کېدے شي د هغه
وي هم نه -

که احمد دین په فوځ کښې نوکري کړې وي نو بیا رحیم شاه صاحب
کولے شو چې د فوځي ریکارډ نه یې د هغه د زېږون او فوځي ملازمت نېټې راوستي
وې او که داسې رشتیا شوې وي نو د فوځي نوکرۍ پرېښودو په وخت به د
هغه عمر کم از کم دېرش کاله وو که د زېدې ژوند یې د فوځي نوکرۍ نه
وړاندې وګڼو - حالانکې په دغه علاقه کښې د دهٔ د فوځي نوکرۍ د کولو
هیڅ روایت نشته - که پنځه دېرش کاله په سوات کښې پاتې شوے
وي نو د سوات نه د راتلو په وخت به د پنځه شپېته کالو په عمر کښې وو -
د حالاتو او واقعاتو ښکاري چې د صحبت استاد سره یې هم ډېر کلونه تېر
کړي دي نو که د غه عمر پنځه کاله هم وګڼلے شي نو هغه به د اویا کالو
شاو خوا عمر کښې وفات شوے وي - د غه عمر ډېر زیات دے - بیا خاص کر د

احمد دین غونډې سختو او تکلیفونو وهلې انسان دپاره خاص کړ په هغه وخت کښې چې د موزون خوراک او دارو درملو هیڅ معقول بندوبست نهٔ وو - او کهٔ داسې شوے وے نو بیا به یې لکه د عبدالحمید ماشو خیل د ډېر عمر شعرونه په نظر راتلې

د احمد دین په دیوان د رحمان بابا او علی خان د شعري آثارو ډېر اثر دے - حتی چې د هغوي د ځنې مشهورو غزلو په زمکو یې غزلې لیکلې دي. که هغه وخت په سوات کښې د رحمان بابا کلام شهرت لرو نو لرو به یې نو د علي خان کلام به د غه وخت سوات ته نهٔ وو رسیدلے - او که احمد دین د غه اثر د هشنغر نه وړے وي نو بیا نو به هغه سوات ته د تلو په وخت یو داسې پوخ باشعوره شاعر وو چې د علي خان په خوند رنګ او اثر تاثر به هم پوهیدو - ځکه چې علي خان په خپله داګیله کړې ده چې پښتانه زما د شعر په مضمون نهٔ پوهیږي -

پښتانهٔ به د مرزا شغل ونه کا
کهٔ خبر زما د شعر په مضمون وي

ودې نه په آخوا د "طالب" په شاعرۍ کښې د سوات د ژبې او ماحول اثر هم نهٔ ښکاري بلکې د هغه شاعري خو چې د کوم اړخه هم ګورې نو د هشنغر، مردان او صوابۍ په رنګ کښې رنګ ښکاري - کهٔ د سوات د شاعرانو ادبي آثار به نظر کښې ونیوے شي نو سړے په یقین سره وئیلے شي چې د غلته هیڅ کله هم د احمد دین د شاعرۍ ډېر اثر نهٔ دے پاتې شوے او کهٔ وي نو پکار وه چې رحیم صاحب خپلو لوستونکو ته په نخښه کړے وي - زهٔ د رحیم شاه صاحب خوارې کړل نهٔ غواړم زما په

خیال دغه دغه کار اوس هم د ډېرو ډېرو مستندو مقدمو بازو او دیباچه پردازو نه ډېر سپنه دے د

خو د پښتو ادب د پوطالب علم په حېثیت مې دا خبره ضروري ګڼله چې زمونږ دا کثرو لیکوالو دې احتیاطۍ او ځان آسانۍ له کبله د پښتو ادب تحقیقي برخه تاواني شوې ده - د تحقیق په نوم د غلطو معلوماتو راټې ته کېدو سره سره د تحقیق غلط روایات هم عام شوي دي - ځان آسانۍ له کبله د پښتو ادب تحقیقي برخه تاواني شوې ده - د تحقیق په نوم د غلطو معلوماتو راټې ته کېدو سره سره د تحقیق غلط روایات هم عام شوي دي - په تحقیق کښې د تحقیق د اُصولو خیال نهٔ شي ساتلے - د عبارتونو په وړاندې کولو، متروکو ټکو په معنیٰ کولو او حاشیو لیکلو د ضروري احتیاطونو او علمي ټوارې خیال نهٔ وي ساتلے شوے او په عمومي ډول هغه عمومي دعوې شوي دي د کومو له کبله چې په تحقیق کښې عمومیت هم راځي او د ګمراهۍ امکانات هم پیدا کېږي -

۲- په پښتو ادب کښې یوه نمونه تحقیق هغه دے چې په کوم کښې د پښتو ادب د یو صنف یا یو څو اصنافو په حقله معلومات راغونډ شوي دي یا د هغې صنف نمونې راغونډې کړے شوی یا د هغې په حقله شوې وي -

د شلمې پېړۍ عیسوي په وړومبۍ نیمایۍ کښې پښتو ادب ته نوي نوي اصناف راننوتل او دویمه نیمایۍ کښې د نظم او نثر د زړو نوؤ اصنافو د نمونو راغونډولو، تاریخ، ترتیب او هنر په حقله د څهٔ لیکلو ضرورت تند شو - اګرچې دا ضرورت مخکښې هم وو او یو څو مغربي

پوهانو په دغه لور پام لرنه هم کړې وه چې په هغې کښې د ناورتي "گلشن روه" د ډيلي چاپ او د جيم دار، مستتر - د پښتو ټولنې کابل چاپ د ناران برق د پښتو متلونه (ژباړه او چاپ د افغانستان د علومو د اکاډمي) او په ورستي وخت کښې ډگ - ف گيرس د ميړني اولس ادبيات (ژباړه او چاپ افغانستان) د ډيرې ستائنې ور نخوارۍ دي (ژباړه معتمد شينواري د کابل چاپ) په پښتو نخوا کښې نصرالله خان نصر او عبدالحليم اثر رومبي پښتانه (او که رومبي نهٔ وي نو کم از کم رومبي موثر کسان دي) چې د غه کار ته ئې لاس وا چوؤ - نصرالله خان نصر د نامتو چاربيتې شاعر نورالدين د چاربيتو يوه برخه راغونډه کړه او د پېښور نه ئې چاپ کړه -

عبدالحليم اثر د ځنې شاعرانو چاربيتې راغونډې کړې او د چاپ د پاره ئې پښتو اکېډيمۍ ته حواله کړې چې د هغه ځائے په کتابتون کښې خوندي پرتې دي - د غسې هغه نور هم ځنې آثار او د آثارو خاوندان راپيدا کړو - نو د ډيرې ستائنې ور ئې " د پښتو ادب دے" - په د غه کتاب کښې هغه د کشف القبور په ځائے د خپل علم، پوهې، تجربې، مطالعې او مشاهدې په زور د پښتنو د جغرافيه او پښتو ادب د شعري امنافو په حقله په زړهٔ پورې معلومات راغونډ کړي دي د مختلفو امنافو ځنې نادرې نمونې ئې هم رانقل کړي دي - اگرچې د خپلو معلوماتو ماخذونه ئې نهٔ دي په گوته کړي خو د ليک د انداز نه ښکاري چې دغه معلومات هغوي د مختلفو علاقو او مختلفو کسانو د سينونه دا بهر کړي دي او د اعتبار ور دي -

د دوي نه ورستو د پښتو اکېډيمۍ دائرېکټر پروفيسر محمد نواز طائر مېب دې ميدان ته ورننگل او په دې لړ کښې ئې د قدر ور خدمات ترسره کړل - په

لږ او وړوکي کښې د پښتو اکېډيمۍ (پېښور) په مرسته "روهي متلونه"، "ټپه او ژوند" کليوالي سندرې، "تاريخي چاربيتې" او روهي ادب" چاپ کړو. په روهي متلونو کښې يې د پښتو متلونو را غونډولو سره سره د متلونو په اهميت هم په ذره پورې بحث وکړو. په ټپه او ژوند کښې يې د څو نادرو ټپو را غونډولو سره سره د ټپې په جوړښت، اثر او تاثر هم ليکل وکړو. خاص کر د "ټپې معاشرتي" تجزيه تر عنوان لاندې ليک نوټ د علمي او تحقيقي نظره د ډېرې ستائنې ور دے. په "روهي ادب" کښې د پښتو ادب او لوغونو پښتنو شاعرانو په حقله هم معلومات شته. نو د دغه معلوماتو لويه برخه د نورو کتابونو هم تر لاسه کېدے شي. ولې د پښتو ټپې او د پښتو ادب په حقله د مستشرقينو د خدماتو په لړ کښې په ذره پورې معلومات لري.

که عبدالحليم اثر په پښتو ادب کښې د ټپې د پېژندګلو سره سره د دغه صنف په وزن، بحر او نورو هنري صفاتو بحث کړے دے نو نواز طائر صيب په روهي ادب کښې د پښتو ټپې د وزن، بحر ريښا نګې د "رګ ويد" اشلوکونو ته رسولې دي.

د دغه مشرانو نه علاوه نورو يو شمېر پښتنو ليکوالو هم د ټپو او اولسي سندرو را غونډولو او ترتيبولو په لړ کښې لوېې نوارې کړې دي. چې په هغې کښې د څنې کسانو په شريک زيار د افغانستان د دولتي مطبوعې له اړخه چاپ شوي کتاب "پښتو لنډۍ" د پښتو اکېډيمۍ له خوا د سلمی شاهين "ټپه او د شعور رود" او روهي سندرې (ټپې) د داور خان داؤد "پښتو ټپه" (پېښور چاپ) د سيال کاکړ فوکلوري سوغات (د اتڼ سندرې او ناري)

کاکړي، غاړي، بلندي (د اولسي سندرو یو قسم) فولکلوري جوهر (بناري بدلې) (کوټه چاپ) پښتو متلونه غروا لې د ولسي شاعرانو سندرې د صاحبزاده حمیدالله "د کاکړو غاړې" (کوټه) د عابدشاه عابد "ولسي تکلونه" (کوټه) د ابوالخیر حلاند سیلاب، سید اکبر صابر "یکه زاد" (د ټپو کتاب) د عبدالرحیم مجذوب د "مروتو کسرونه" د جمیل یوسفزي "نوند توتې" د غسې په افغانستان کښې یو شمېر کسانو په دې حقله کار کړے دے - چې په هغې کښې "پښتني فولکلور" (افغانستان چاپ) او "پښتني دودونه" او نور کتابونه د یادونې وړ دي-

دغه ټول آثار د پښتو ادب درناوے دے - خو د تحقیق د اصولو خیال پکښې نۀ دے ساتلے شوے تحقیق څۀ نوے کار کول وي نوے معلومات کول وي - یا د زړو موضوعاتو نوي اړخونه رابرسېره کول وي - په یوه موضوع دیوتن یا یوې ډلې نه پاتې شوے کار ترسره کول وي خو مونږ دغو درنو نوېږو په اکثرو آثارو کښې یوشان مواد راغونډ کړے شوي دي هم کله چې په ذرگونو دکونوټپې او سندرې اروته او متلونه د راغونډولو نواري ته حېران پاتې دي نو بیا کوم انصاف دے چې دیوتن راغونډ کړے شوي آثار دې بل تن په خپله نامه چاپ کړي - د غسې د اکثرو ټپو د راغونډولو او ترتیبولو په لړ کښې د ضروري معلوماتو او احتیاط نه کار نۀ دے اخستے شوے د مثال په ډول پښتو لنډۍ او "د وهي سندرې" به وا خلو - دواړه د ټپو بشپړ کتابونه دي - دواړه د حروف تهجي په بنیاد ترتیب کړے شوي دي - دواړه د لویو ادارو له خوا نواره شوي دي - خو په دواړو کښې نږدې نږدې یوشان ټپې راغونډې کړے شوي دي -

د "پښتو لنډۍ" چې د پښتو د لویو عالمانو ترسترګو وړاندې ترتیب

شوې ولي د دغه کتاب په ۲۴۹ مخ یوه ټپه څهٔ داډنګ رانقل کړے شوه.

دا مداد خو نشته یادې شته دے

تول دانړیزي په رامداد خان فخر کوینه

خو دوا قعي حقیقت دادے چې رامداد خان په قبیله مومند وو او د مزکې په لاندې باندې کښې د دانړیزو د لاسه مړشوے دے او دَ ملاکنډ ایجنسۍ د سخاکوټ نومې کلي په کوفر نومې بانډه کښې ئې قبر وو چې څو کاله وړاندې وران شوے دے. بایډ چې د ټپې دا نقل کونکو د غه تاریخي واقعه او عداوت په نظر کښې نیولے وي. عبدالکافي ادیب هم په خپل یو لیک (د نورې پانړې اردو ترجمه) کښې د څنو ټپو دا نقل کولو په لړکښې د رامداد خان په حقله وئیلي دي چې هغه د مردان ضلعې اوسېدونکے وو او د انګرېزانو خلاف ئې جنګونه کړي وو. ادیب صاحب د چارسدې اوسېدونکے دے او څهٔ موده ئې په درګئ کښې د ملازمت په لړکښې تېره کړې ده. هرچند د چارسدې تحصیل آخري کلے دے او کوفر د درګئ تحصیل په آخري بانډو کښې (بلکې بانډه نما کلیو) یوه ده. دغه دواړه ځایونه یو بل سره په برید پراته دي او یقین لرم چې کافي صاحب به څوڅوځله په هغه لارتېر شوے وي په کومه چې د رامداد خان قبر وو. د ادیب صاحب د دغسې غلطیو نیولو په لړکښې مې د رحمت شاه سائل صاحب د یو ناچاپ مضمون مسوده لوستې وه. (د روستوئ یوې مجلې ته د چاپ د پاره ورکړه) چې په هغې کښې سائل صاحب یو ځائے لیکلي وو چې کهٔ ادیب صاحب یوه ګوله تار غزولے وي نو که یو سرئې د هغه په کلي وي نو بل به ئې د رامداد خان قبر ته رسېدلے وي. دغسې چې ادیب صاحب د پښتنو د کوم "لونګین" نومې کالي ته په اُردو

کښې د پوزې کالے لیکلے دے نو سائل صاحب په خپل ذکرشوي مضمون کښې هغه هم خطرناک تیندک گڼلے وو او دا ئې وئیلي وو چې که څوک په "نیلام گهر" کښې دد غه کالي په حقله سوال وکړي او جواب ورکونکي ورته د پوزې کالے او وائي نو غلطي به د چا وي دا نو لوبو ورو پښتنو ته معلومه ده چې لونګین د غاړې امیل وي او په د غه حقله په پښتو کښې یو شمېر تپې او سندرې شته دے -

د بده مرغه زموږ د تحقیق د مېدان اکثر لوبغاړي دد غه مېدان د لوړو ژورو نه نهٔ وي خبر - اکثرخپله هم تیندکونه خوري او خپلے لوستونکي هم په تیندکونو خوږو مجبور وي د کتابونو نه علاوه په دغه حقله په پښتو مجله او ورځپانو کښې د مختلفو لیکونکیو له اړخه یو شمېر مضمونونه هم لیکلي شوي دي -

د ټپو غونډې په غاړو، کسرونو او متلونو رانقل کولو کښې هم بې ځایه تکرارونه دوخت او د وسائلو بې ځایه زیان شکاري - بدګې په اکثرو وختونو کښې ددې خبرې خیال هم نهٔ وي ساتلے شوے چې کوم متل په کومه علاقه کښې په کومه لهجه کښې وئیلے شي - که د غسې کړے شوے وے د ځني تکو او لهجو په حقله به د معلوماتو تر لاسه کېدو سره سره دا اندازه هم لګېده چې د پښتنو کومو قبیلو یاد کومې علاقې اوسېدونکو د ژوند د کومو تجربونه کومې نتیجې اخذ کړې دي - دد غو اضافو نه علاوه یو شمېر لیکونکیو د پښتو افسانې، ډرامې، ناول، غزل، نظم او نثر په حقله مقالې او مضمونونه لیکلي دي - په د غو کښې ځینې په پښتو مجلو او ورځپانو کښې چاپ شوي دي او ځنې د اوبدوالي له کبله

د کتابونو په دول چاپ شوي او نوارهٔ کړے شوي دي - په کتابي شکل کښې چاپ شوي آثارو کښې د محمد اعظم اعظمؔ "پښتو افسانه"، د گل افضل خان د "افسانو افسانه"، د افضل رضا "پښتو درامه"، دپښتو نثر تاریخ د یادونې ور دي - اگرچې د ناول، افسانې، دړامې او انشايئې په حقله سحر یوسفزي په خپل کتاب "ادب څه دے"؟ کښې هم مضمونونه لیکلي دي - خو دغه مضمونونه په عمومي دول دد غه اصنافو د هنرونو په حقله دي - د "پښتونثر تاریخ" یاره کښې د طاہرصاحب د وهي ادب هم کټور معلومات لري خو په دغه کتاب کښې د دومره کمو اصنافو او شخصیاتو په حقله خبره شوې ده چې سرے ئې یو صنف ته نشي محدود ولے - د غسې د پښتو د نثر د تاریخ په حقله د میان تقویم صاحب د هغه مقدمې معلومات هم د قدر ور دي کومه چې هغوي د خپل کش رور تکریم الحق کاکاخېل روغ لیونې په بي بي نوره نومې کتاب لیکلې ده - دپښتونثر د تاریخ په حقله د افضل رضا او بي بي مریم د کتابونو معلومات هغه دي کوم چې د دوي نه وړاندې خدائے بخښلي جیبي صاحب "دپښتو ادبیاتو تاریخ" (دوه ټوکه) او "پښتانهٔ شعراء" تقویم صاحب د "مخزن" (او بي بي نوره) "په مقدمو او طاہرصاحب په "دوهي ادب" کښې ځائے په ځائے وړاندې کړي دي - البته د دغو دواړو کمال دادے چې دغه معلومات ئې راغونډ کړي دي او ترتیب کړي دي - مریم په خپله مقاله کښې د ځینو کسانو تېروتنې هم په گوته کړې دي - خو د خپل ارخه ئې څه نوي معلومات یا هېڅ شوي آثار نهٔ دي رامخې ته کړي -

د دړامې په لړ کښې افضل رضا صاحب په روایتي معلوماتو تکیه کړې ده -

نوټ :- د بي بي مریم دپښتو نثر تاریخ

د ډرامې د روايتي تعريفونو او هنري کړو وړو د بيان نه پس ئې د پښتو ډرامو د ذکر په لړ کښې په کال ۱۹۵۵ء کښې د عبدالاکبرخان اکبر جونګړه نومې ډرامه ياده کړې ځو د کال ۱۹۲۹ء په آخره او د ۱۹۳۰ء په وړومبی سر کښې د هغه د مشهورې ډرامې "خدائي خدمتګار" نوم ئې نهٔ دے اخستے خدائے خبر چې د خدائي خدمتګار نه د رضا صاحب څهٔ ګيله ده چې د کتاب په مخ نمبر ۱۵۰ ئې د پښتو د کتابي ډرامو په فهرست کښې هم ځائے نهٔ دے ورکړے - حالانکې د هغه د خپلې وينا مطابق د خدائے بخښلي عبدالاکبرخان سره د هغوي د ډيره نزدې پېژندګلو وه - او دغه ډرامه د خپل نوم، موضوع او تاريخي پس منظر په حواله ډېره لوې شهرت لري - د خدائي خدمتګار تحريک د بنياد ايښودو په وخت اتمان زو کښې ستيج شوې وه او په دې کښې کارکونکي کسانو ته انګرېز سرکار سزا هم ورکړې وه - د پاکستان جوړېدو نه پس په کتابي ډول چاپ شوې هم ده -

رضا صاحب د نورو پښتو ډرامو په لړ کښې هم ځان نهٔ دے کړولے - د ډرامو او ډراموليکونکيو په نومونو ليکلو ئې خپل فرض پوره ګڼلي دي - حالانکې د غه هره ډرامه خپله موضوع، مقصد، منظر، پس منظر او خپل کردارونه لري - دغه هر څهٔ بحث غواړي - علمي بحث او دغه رضا صاحب کولے شو - هغه د خپل کتاب زياته برخه د ډرامې هغه تعريفونه او هنري صفتونو ته سپارلې وه کوم چې د ډرامې استاذانو کړي دي او هر چا رانقل کړي دي او کهٔ د رضا صاحب د غه معلومات هم د هغه معلوماتو سره وتلو کوم چې د اردو ادب يو نوموړي استاد ډاکټر اسلم قريشي په خپل اردو کتاب "ډرامے کی تنقيدی اور تاريخی پس منظر" (د انجمن ترقي اردو له خوا) کښې راغونډ

کړي دي او یا هم د هغوي پښتو غزل د ډاکټر عبادت بریلوي د "غزل او مطالعهٔ غزل" سره او تلو نو د ختېځ ننګ په خپل ځائے تو خبره به هم هغه د اندېښ د ښتیا وي چې:

ع " ته چرته یاتې شوې اشنا زهٔ چرته ورسېدم "

ما د انګرېزي، فرانسیسي یا بلې یوې ډېرې پرمخ تللې ژبې د لیکونو خبره نهٔ ده کړې بلکې خبره مې د اُردو کړې ده او زهٔ دا دعویٰ هم لرم چې رضا صاحب ته د تحقیق کولو او د خپلو لیکونو د چاپ کولو او نورو لو دو مره استیانې شته څو مره چې اسلم قریشي او ډاکټر عبادت بریلوي ته دي - ما که دَ اُردو د دوو نامتو لیکونکیو او د هغوي د لیکونو نو موته رختي دي نو دَ هغوي په مقابله کښې مې د پښتو د هغه نوموړي لیکونکي د هغه منلې شوي آثارو خبره کړې ده د کومو د لوستو نه بغیر چې د پښتو طالب علمان د ایم اے ایم فِل او پي ایچ ډي ډګري ده شي اخستے زما یقین دے کهٔ رضا صاحب په یوه موضوع د لیک په سلسله کښې خپل ټول علمي صلاحیتونه په اخلاص سره په کار راولي نو داسې د قدر وړ لیک مخې ته راوړے شي چې د هرې ژبې د معیاري لیکوال په مقابله کښې به د پښتو د پوګه وي -

د افسانې د تاریخ او هنري صفاتو په حقله د ګل افضل د "افسانو افسانه" په افسانوي ژبه کښې څوک کتابګے دے - خو معلومات ئې روایتي او سرسري دي - د اعظم صاحب کتاب اګرچې د افسانې د هنري صفاتو او د نګونو په حقله هغه پراخه معلومات نهٔ لري د کومو پرتې چې د هغوي په ورستیو مقالو او مضمونونو کښې ښکاري - خو د افسانې د تعریفونو په شمېر ډېرو لو او پردو

حوالو څنډولو په ځانګړې د خپلې موضوع سره کار لرلے او خپل سرې نوبت کړے دے د پښتو افسانې د مختلفو دورونو په نمائنده افسانو او افسانه نګاروې بحث کړے دے - د پښتو ادب د یو طالب علم په حیثیت زهٔ په و ثوق سره دا دعویٰ لرم چې د افسانې د ځنې نیمګړتیا ګانو باوجود د پښتو افسانې دَ تنقید او تحقیق په لړکښې تر دې وخته دغه بهترین کتاب دے او کهٔ په پښتوکښې د تحقیق د اصولو په رڼا کښې د پښتو کوم یو څو کتابونه دستاښې ور دي په هغې کښې یو هم دغه کتاب دے -

۳ - د پښتو په اولسې شاعرۍ کښې د پښتنو د اولسې ژوند کړهٔ وړهٔ غورځې پرزې، مهم واقعات او حالات خوندي دي - دغه شاعري د پښتنو په غرونو، سمونو، کلو، کوڅو او پولو پټو کښې خوره ده - اول خو ئې شاعر نهٔ وي معلوم او کهٔ څوک اولسې شاعر په خپل وخت کښې د خپلې شاعرۍ په حواله په یوه علاقه کښې شهرت وموي نو دبې سوادۍ او مجبورۍ له کبله ئې شاعري محفوظه نهٔ شي - د کاغذ ونو په ځائے په زړونو ولیکلے شي - نو د خلقو په زړونو دومره غمونه وي چې څهٔ وخت پس په کښې څهٔ وران شي، څهٔ هېر شي او څهٔ خطا شي -

زمونږ د کلي شمېره اولسي شاعرانو د شاعرۍ لویه برخه دغسې دَ وخت په ګرد ده د ل شوې ده - چا ئې پرواه نهٔ کړې - خو چې د یو مهذب انسانانو د دغه شاعرۍ د اهمیت د مخه ددې په راغونډولو او خوندي کولو پسې بدې او دوهلې نو د براعظم پاک وهند ځنې پوهانو هم په دغه لور پام لرنه وکړه خاص کړ د رابنډرناتهـ ټيګور، شاګردانو چې په هغوي کښې دَ ستیاراتي" نوم تر ټولو زیات دستاښې ور دے - د دوې نه څهٔ موده پس ځنې

پښتانه شاعران، ادیبان هم په دغه کار ورپسې شوچې په هغوي کښې عبدالحلیم اثر، نصرالله خان نصر، محمد نواز طائر، رحیم شاه رحیم، داور خان داؤد، سیال کاکړ، ابوالخیر ځلاند، صاحبزاده حمیدالله، عابد شاه عابد او د افغانستان یو شمېر پښتانه لیکوال دستائینې ورخدمات لري۔

اګرچې د غه ذکر شوي کسانو او ځینې نورو نوموړو د اولسي شاعرانو د کلامونو او د اولسي شاعرۍ د نورو ورو نمونو راغونډولو په لړ کښې دستائینې ورخوارۍ کړي دي ۔ خو زکثرو کسانو د خپلو راغونډ و کړو شوو موادو د تحلیل او تجزیې نه ډډه کړې ده ۔ حالانکې د تحقیق د اصولو له رویه هغوي ته د غه کار ترسره کول پکار وو ۔ خو بیا هم د اولسي شاعرۍ او پښتني ژوند په حقله د تحقیق کولو په لړکښې د غه تر لاسه کړے شوي مواد ډېر اهمیت جوګه دي ۔

۵ - تحقیق یو مسلسل عمل دے ۔ د نن ریښتیا د سبا دروغ ګڼلے شي ۔ د پرون صحیح معلومات د نننې معلوماتو په رڼا کښې غلط ثابتېدے شي ۔ دا د علم په هر میدان کښې شوي او کېږي ۔ په تېرو څو کالو کښې د پښتو ادب په میدان کښې هم دد غسې تحقیق څو نمونې را مخې ته شوي دي ۔ د ځینې لرغونو شاعرانو د ژوند او مړینې نوې نېټې غوره کړے شوي دي ۔ د ځینې تاریخي دستاویزاتو په وجود شک شوے دے ۔

کامل مومند په خپل تصنیف "رحمٰن بابا" کښې د رحمٰن بابا د مرګ هغه کال دروغ کړے دے کوم چې ددوي نه وړاندې مستند و عالمانو ۱۱۱۸ه ګڼلے وو ۔ هغه په مدلل ډول رحمٰن بابا د دغه کال نه څو کاله پس هم ژوندے ثابت کړے دے ۔ همېش خلیل د مرزا خان انصاري په دیوان خپل یو کښې

د تاریخي دستاوېزاتو په رڼا کښې د مرزاخان په حقله هغه دعویٰ رد کړې ده
د کومې د مخه چې هغه ته یوسفزے وېلے شوے وو او دا يې په ثبوتونو
سره وښـٔـلي دي چې هغه د بایزید روښان نمسے وو.

میان تقویم الحق صاحب د علي خان د دیوان په مقدمه کښې دا يې
رد کړېده چې کښې هغه د خوشحال خټک کړوسے او د افضل خټک زوې وو.
البته د علي خان د قبیلوي شناخت خوا ري يې نوړو ته پرېښـودې. او
د دغه شناخت د پاره د یو شمېر پښتنو لکه قلندر مومند، محمد نواز طائرؔ،
همېش خلیل، عبدالحلیم اثر او عقاب خټک تر منځه ډ ا کښـل شوي دي. که
نوړو علي خان محمدزي ګڼو نو عقاب خټک د هغه خټکوالے د شک نه بالا ګڼلو.
په دغه حقله د دغه ټولو عالمانو هغه لیکونه چې د مردان په "قند" مجله
کښې خواره شوي، د علم او فضیلت نه ډک دي - خو د قاضي اثر هغه مضمون
په علمي او تاریخي لحاظ د ډېرې ستائنې وړ دے کوم چې د قند ادارې
په د غه موضوع د خپله اړخه آخري مضمون ګڼلے - اګرچې لیکوال د خپل
حریف عقاب خټک په حقله ډېره تنده او ترخه ژبه استعمال کړې ده ولې خپله
موضوع يې هم په قابو کښې ساتلې ده -

زلمي هېوادمل د عبدالحمید ماشووال په دیوان (افغانستان چاپ) په
خپل علمي او تحقیقي لیک کښې د هغه د ژوند او مرګ په حقله ځنې نوې
نوې خبرې را مخې ته کړې دي - خو د دې سلسلې د ټولو نه مشهور او تر
ټولو متنازعه لیک هغه دے په کوم کښې چې ښاغلي قلندر مومند د محمد هوتک
قندهاري تالیف "پټه خزانه" دروغ ګڼلې ده - پټه خزانه د هوتک
تالیف دے - او عبدالحي حبیبي يې د تدوین او خوروني ذمه واري ترسره کړې

دي - د دغه کتاب د معلوماتو په دنیا کښې د پښتو ادب تاریخ یېکلے شي - ځکه
چې د پښتو د ځنې لرغونو شاعرانو او لیکوالو نومونه او د هغوي د لیکونو
نمونې په دغه کتاب کښې خوندي دي - خو قلندر صاحب د دغه کتاب د
دروغ ثابتولو په لړ کښې "د پټه خزانه في المیزان" تر عنوان لاندې کتاب
ولیکلو او په هغې کښې ئې د دغه کتاب هغه کمزوري ارخونه په نخښه کړه
د کومو په وجه چې د هغه په خیال د دغه کتاب رښتونے نهٔ دے - اګر
چې په دې حقله د قلندر مومند صاحب او د افغانستان د عالمانو ترمنځه
ډېر پخوانه اختلاف راروان دے - د پښتو تخواځنې نامتو پوهانو هم
په دغه موضوع د افغانستان د عالمانو سرسته کوله او په دغه حقله
قلندر صاحب او د هغه مخالفینو د خپل خپل نقطهٔ نظر وړاندې کولو د پاره
په مجلو او ورځپانو کښې مقالې هم لیکلې وې - چې قلندر صاحب خپل باقاعده
کتاب چاپ کړو نو یو شمېر کسانو د هغه د کتاب په ضد مقالې او مضمونونه
ولیکل - کهٔ قلندر صاحب د خپلې دعوې د پاره یاخهٔ دلیلونه پیدا کړي
وو نو هغوي هم ورپسې مضبوط مضبوط ثبوتونه راپیدا کړهٔ - د افغانستان
پوهنو زلمو نیل د غه لیکونه په کتابي ډول چاپ کړو او نوم ئې ورله "د پټې
خزانې میزان رښتیان میزان دے" غوره کړو - په دغه کتاب کښې د آمنه صمیم
او د زرین انځور لیکونه په خصوصي ډول د لوستې قابل دي - د غو زلمو د
قلندر صاحب دعوې رد کړې دي او د تاریخي سندونو په حواله ئې دا
خبره کړې ده چې "د پټې خزانې" سندونه درست دي - اګر چې دا علمي
جنګ ډېر مهم دے ځکه چې د پښتو ادب په تاریخ پورې دے خو په دې
کښې د همېش خلیل صاحب نه سېوا د پېښور پښتنو لیکوالو په ظاهري

دول ځانونو له د تماشګیر و حیثیت غوره کړے دے او د همېش خلیل صاحب دویّه هم د حبّ علي په ځائے د بغض معاویه په رنګ کښې رنګ ښکاري - دا صحیح ده چې دا علمي جنګ دمره یکوال دوسه نهٔ دے خوهغه نامتو عالمان څنګه غلي پاتې شوچې د پښتو ادب د خدمت په نوم په ورو ورو جنګونو کښې غټې غټې برخې اخلي -

۲ - په پښتو کښې یو رنګ تحقیق کم سهي خو وجود لري - د غه تحقیق دَ ځنې اصطلاحاتو زیلې ، دیښنا نکې ، معنی مطلبونه لټول او د ځنې زړو اصطلاحاتو د بیورښت په دنیا کښې نوي اصطلاحات وضع کول دي د پښتنو په مختلفو قبیلو، علاقو او ځایونو کښې ځنې استعمالید ونکي هغه اصطلاحات را غونډول کوم چې د نوي وخت په علمي لیکونو کښې په کار راوستے شي -

یو شمېر پښتنو لیکونکیو او پوهانو په دې حقله خواري کړي دي - دهېواد اصطلاح یو شمېر لرغونو شاعرانو په استعمال کښې راوستې وه - قلندر مومند صاحب ددې نه یوه معنٰی راویستې ده او د پټې خزانې خلاف ئې د خپل دلیل په دول پهٔ کار راوستې ده - د هغه سره اختلاف کوونکوئې بله معنٰی راویستې ده - دغسې دد غه دواړو دلو په لیکونو کښې په دې حقله اوږدې بحثونه شوي دي - خدائے بخښلي عبدالحی حبیبي په خپل کتاب "د پښتو ادبیاتو تاریخ" کښې د ګڼ شمېر اصطلاحاتو په حقله مد لله دعوٰی لرلې وه چې د ا پښتني هم لري - زړې پارسو دَ "اویسته" او سنسکرت "د رګ وید" لیکلو په وخت د پښتنو نه خپل کړي دي - او یا دا چې دد غه ژبو مور پښتو ده او د ځان سره ئې د مور دکوره دغه اصطلاحات وړي دي . دَ افغانستان ځنې لیکونکیو او پوهانو په دې لړ کښې دقدر وړ خدمتونه کړي دي - چې په هغوی کښې دَ

عبد الحی حبیبي، عبد الرؤف بېنوا او صدیق الله رښتین نوموړي د خاص یادونې دي. د دوی نه ورستو دوست شینواري، ډاکټر مجاور زیار، حبیب الله رفیع، زلمی هېوادمل او ګڼ شمېر نورو کسانو په دې برخه کښې د ستاینې وړ کوششونه کړي دي - ډاکټر مجاور احمد زیار چې په ټولو پښتو کښې منلے او ستر ژبپوهان هم دے. د پښتو ژبې د ګرامر، لهجو او څېړنې اصطلاحاتو د بوربښت او ادا په حقله ئې څو کتابونه لیکلي دي - او څېړنې نوي اصطلاحات ئې هم وضع کړي دي. دوست شینواري د څېړنې زړو اصطلاحاتو د معنو او مطلبونو د وضاحت د پاره د پښتو کلاسیکي ادب د حوالو په رڼا کښې د ستائنې ور خواري کړې ده او دغه خواري ئې د "زړه پانګه" په نوم د افغانستان د علومو د اکاډیمۍ په مرسته په کتابي ډول د نړۍ ته وړاندې کړې ده -

اګرچې په پښتو کښې د هېوادمل علمي او تحقیقي خوارۍ د ډېرې ستائنې وړ دي - د خپل علم، پوهې، زړګي او ایمانداری په برکت هغه دَ پښتو ادب په هر میدان کښې د ستائنې وړ خدمات ترسره کړي دي خو دَ "زېري" نوم پښتو مجلې د ادارتي ذمه وارو ترسره کولو په وخت ئې د ځان سره نور لیکوال هم د تحقیق او تنقید کار ته وکمارل - په دغه مجله کښې د زړو اصطلاحاتو را بهر ته کولو او په استعمال کښې د راوستو سره سره د نوي اصطلاحاتو د وضع کولو د پاره هم هڅونه کېدل - د دغه خوارۍ یوه برخه د زلمي لیکونکي ګل افضل ټکور په خوارۍ د "کره کتنه" په نوم د افغانستان نه د یوې کتابچې په ډول خوره شوې ده -

چونکې د اصطلاحاتو معنې او مطلبونه راویستل او خوروول په بنیادي ډول د "لغت" را ټولونکو کار دي - پښتو کښې د یرنهٔ سهي څو تر یو

حده د لغت په حقله کار شوے دے - چې په هغې کښې د څنې پخوا ستو

مستشرقینو سره سره د اوسنی وخت په څنې اوسنی پوهانو کښې عبدالحی

حبیبي، بهادر شاه ظفر، قلندر مومند، سید انوار الحق، پور دل ختک،

محمد نواز طائر، راج ولي شاه ختک او یار محمد مغموم د ستائنې وړ کار کړے دے -

د غسې د څنې ذړو اصطلاحاتو د جوړښت په مناسبت سره څنې نوي اصطلاحات

وضع کړے شوي لکه د میږتون په سمون، روغنتون، پوهنتون، کتابتون

دا وه په حواله "وني" (رهفته) د ساړنې په مناسبت سارندویه او د غسې

نور- څو که یو خوا زموږ د لغتونو جوړوونکي افراد د خپلو مجبوریو او ادارو

غږي د خپلو نا راستیو له کبله دي جوکه نهٔ شو چې په مختلفو علاقو او

قبیلو کښې وګرځي چې هغه ټکي را غونډ کړي کوم چې د را غونډولو دي او

د هغې په هغه معنو ګمان پوئ او خلق خبر کړي په کومو معنو کښې چې

د غلته استعمال شوي او استعمالیږي- افرادو ته خود هغوي د وسائلو د

کمی له کبله ګناه نشته ولې د وسائلو لرونکو ادارو غږي هم د تحقیق

په لړ کښې د خپلو د فترونه بهر وتل انصاف نه ګڼي- بې شکه چې

د فترې د موادو را غونډ ولو، ترتیبولو، په هغې د بحث کولو او د هغې

نه د نتیجو راویستو د پاره انتهائي ضروري وي - خو د دغې ادارو د غړو

د پاره د دغه تحقیق په لړ کښې په کلو، کوڅو، پولو، پټو او غرونو

سمونو ګرځیدل هم ضروري وي - زموږ د غسې نیاز بینو ټکي په هغه

کتابونو کښې کتلي کوموته چې د دوي لاس رسیدو - د هغې د معنو دو ضاحت

د پاره ئې د لرغوني شاعرانو د دیوانونو نه شعرونه را نقل کول پوره

ګڼلي دي او که چرته د غسې شعر په لاس نهٔ دے ورغلے نو د یار دوست

او خپلو خپلوانو په شعرونو لاس بر کړے دے۔ او که داسې نهٔ دي شوي نو خپل شعرونه ئې لیکلي دے۔ د غسې د نورو اصطلاحاتو په وضع کولو او نورولو کښې هم مناسب احتیاط نهٔ دے شوے۔

۸۔ اګرچې ژبارنه د تحقیق په کار کښې نهٔ شي شمېرلے او د دغه له کبله مونږ د هغه یو شمېر کتابونه ژبارنې ته تحقیق نهٔ شو وئیلے کوم چې د فارسۍ، عربۍ، اُردو، انګرېزۍ او روسۍ نه په پښتو ژبه اړولے شوي دي۔ خو یو کتاب داسې دے چې د ژبارنې باوجود هم د تحقیق د نظره ډېر مهم دے۔ د غه کتاب ډاکټر اکبر ایس احمد په انګرېزۍ ژبه کښې لیکلے دے او میاں تقویم الحق کاکاخېل د قلندر مومند په مدد کېږنه د سیلئیم اوکوزما دَ سوات په پښتنو کښې" تر عنوان لاندې ژبارلے دے او د پښتو اکېډمۍ (پېښور پوهنتون) له خوا خور شوے دے۔ په دغه کتاب کښې د سکندر یوناني د حملې نه واخله د سلطان اویس، شیخ احمد او شیخ ملي تر زمانې پورې او بیا د میاں ګل عبدالودود او پاکستان سره د الحاق تر وخته پورې د سوات د تاریخ د مهمو پېښو او واقعاتو بیان شوے دے خو په دغه بیان کښې د سوات د خلقو نفسیات، ثقافتي کړهٔ وړهٔ او دَ تولنیز ژوند نورو اړخونه په نظر کښې ساتلے شوي دي د سوات د تاریخ او د دغه ځائے د اوسېدونکو د ژوند ژواک په حقله د هر قسمه تحقیق په لړ کښې د دغه کتاب د جوت اهمیت جوګه دے۔

۹۔ په پښتو کښې هم لکه د ځینې نورو مشرقي ژبو یو رنګ تحقیق داسې دے چې د وئیلي، فرمائیلي، راوي او روایت غوندې معتبر اصطلاحات ئې ژوندي ساتلي دي۔ په دغسې لیکونو کښې اکثر راوي ضعیف او

روایت کمزورے وي او که چرته ویونکي، فرمایونکي مستند عالمان، فاضلان وي را نقل کوونکي مصنف پکښې خپله راټې محفوظه ساتلي وي. بې شکه چې په تحقیق کښې د خپلو معلوماتو درستو ثابتولو د پاره تحقیق کوونکي د خپلې موضوع په حقله د نورو پوهانو راټې را نقل کوي د تاریخي دستاوېزاتو نقلونه او حوالې وړاندې کوي خو د تحقیق مقصد دیوې موضوع په حقله مواد جمع کول نهٔ وي بلکې د حقائقو جاج اخستل، د هغې تصحیح کول او په هغې خپله راټې وړکول وي.

د دغه رنګ تحقیق په څنګ څنګ کښې یو رنګ تحقیق دا سې دے چې هغې ته تحقیق وئیل خو د دغه علمي کار په شان کښې ګستاخي کول دي. ولې د ادب څهٔ بل داسې میدان هم نشته چې هغه ته وسپارلے شي. د دغه رنګ لیکونو شمېر بېخي زیات دے. په دغه لیکونو کښې د تحقیق د اصولو خیال ساتل خو پرېږده عام علمي اُصول هم په نظر کښې نهٔ وي ساتلے شوي. د خپلې خبرې درستولو د پاره د مستند و دستاوېزاتو حوالې غلطې کړے شوي وي. په ټپو، اړونو، دوړو او متلونو کښې بدلونونه کړے شوي وي په موضوع عمومي، سرسري او فرسوده خبرې شوې وي. هغه جملې او اصطلاحات په کار راوستے شوې وي چې کوم ددې نه وړاندې په سوونو، زرګونو ځله استعمال شوي وي. معلومات غلط اوښې ځایه وي. او که داسې نهٔ وي نو زاړهٔ او فرسودهٔ ضرور وي. ددې خبرې خیال پکښې هم وساتي چې د دغه لیکونه دې د سرکاري ادارو د پالیسو او نقطه نظره په سمون وي که د دغه سمون پېدا کولو د پاره یو تاریخي دستاوېز او حقیقت مات ګرځي نو خېر دے.

مثالونه کښې شمېر کېدے شي - نور نمونې په دول به د پښتو د اشهورره
ټپه واخلو چې:

کهٔ د زلمو نه پوره نهٔ شوه
فخرِ افغانه جینکۍ به دې ګټینه

زما په خیال د نورو هوښیارانو او ایماندارو خلقو غوندې "فخرِ افغان" هم په دې خبره پوهېده بلکې پهٔ دې ډېر ښهٔ پوهېدو چې د وطن نوم د هغه د نوم نه ډېر لوې دے - ځکه خوئې د ګڼ شمېره ملګرو او خپلو چېلوانو سره د وطن د آزادۍ د پاره هلې ځلې کولې - هغه به په دغسې بدلون کله هم بد نهٔ وي وئیلي نو یو محقق ته دا حق چا ورکړے دے چې په یوه تاریخي ټپه کښې دې د خپل غرض دپاره بدلون راولي - او کهٔ دغه بدلون چا یوسړي یا اداري د هغه د وړاندې کړے وي نو پکار ده چې ذکرئې کړے وي او بیا محققین هم هغه چې د پښتون مجلې د دیکارډ کتو دعوئ هم لري او د هشنغر او سېدونکي هم وي -

د غسې د یو تن نیم له اړخه د پښتو موسیقۍ او موسیقۍ د آلاتو په حقله د څهٔ تحقیق کولو کوشش شوے دے - نو دغه کوشش هم ډېر سرسري او عمومي دے - په د غسې یکونو کښې د پښتو موسیقۍ د خاصیتونه په نخښه کول ضروري وو د موسیقۍ د هغه آلاتو په تاریخ، جغرافیه او جوړښت، معلومات پکار وو - کوم چې په پښتو موسیقۍ کښې په کار راوستے شي - په دغه آلوٗ د اورېدونکو سازونو په لے او آهنګ خبره پکار وه کوم چې په دغه آلو اوړي په مضمون یا کتاب کښې د رباب او شپېلۍ تصویرونه جوړول خو د پښتو موسیقۍ په حقله

معلومات نهٔ دي - دغه آلې نور تېرو شلو پنځويشتو کالونه خلق د تې وي

په پرده هم وينې - د موسيقۍ او بيا خاص کړ د پښتو موسيقۍ په حقله

ليکل کوان کار دے - نو دې ګران کار ته هغه څوک سر ورلاندې کوي چې

څوک په ځان کښې د دې د ترسره کولو توان وينې - د موسيقۍ د هنرئ نزاکتونو

نوعيتونو او رنګونو په حقله په اُردو ژبه کښې د استاد سلامت علي خان

په نګرانۍ کښې د هغه د دوو رونو اختر علي او ذاکر علي د "نورنګ موسيقي"

په نوم کتاب ليکلے دے چې د اُردو بورډ لاهور له خوا خور شوے دے - هم په

اُردو کښې فضل محمد خان د "تحصيل موسيقي" فيروز نظامي، د اسرار موسيقي،

زيډ اے بخاري، "د راګ دريا" په نوم کتابونه ليکلي دي - دغسې په دغه

موضوع په اُردو کښې ځنې نورو کسانو هم ليکل کړي دي کهٔ انګريزي، فرانسيسي،

جرمني، روسي، عربۍ او فارسۍ ليکونه يو خوا ته هم کړے شي - نو بيا هم کم از

کم د اُردو د معيار کتاب خو ليکل شوي دي او کهٔ بيا د دغه معيار هم نهٔ وي نو

د دغه ژبې نه خو په آسانه استفاده کېدے شي - يقين لرم چې کهٔ زمونږ ليکونکو

د دغه ذکر شوي کتابونو نه هم په پوره ډول استفاده کړې وي نو د پښتو

لوستونکو د پاره به ئې په دغه موضوع د معلوماتو او د لچسپۍ د نظره

د اعلیٰ پايې کتاب ليکلے وے کهٔ د موسيقۍ په حقله ليکلے کتاب د راګونو دَ

شمېر اجزايي ترکيبي، سر، تال او د موسيقۍ د آلاتو دَ جوړښت په حقله

هم معلومات نهٔ لري - نو د لوستونکو په دې کښې څهٔ دلچسپي کېدے

شي او د موسيقۍ کومه کمي پوره کولے شي - البته په دې حقله د خدائے

بخښلي غلام جيلاني جلالي د پښتو ځانتي ادب او موسيقي (افغانستان

چاپ) د صديق الله رشتين "د ژوند سندره" (سلسله کنه کابل) د ستاښي

ور معلومات لري - د تحقیق یا د تحقیق په نوم د څه لیکلو د غښي کوشش کوونکي کسان اکثر د خپلو کتابونو ترڅون د هغه کسانو په نوم وکړي - د چا لاس ښې چې ډېر اوږده وي. یا ئې ډېرې د هغوي له اړخه لیکل وکړي او هغوي ئې د ستاینلو سره دا سفارش هم وکړي چې د غه کتاب د شپاړسم، ایم فِل او پي ایچ ډی په کورس کښې د شاملولو قابل دي ولې چې دَ کتاب لیکونکي نوغرض دا په مخه کړي وي - ولې تبصره کوُنکي او سفارش کوونکي نوپه دې پوهېږي چې دد غه لیک معیار او مقام څهٔ دے - د نن لوستونکي د هغه نه څهٔ طمع لري او د سبا لوستونکي به د هغه دد غه راټې په حقله څهٔ وائي - او دا هم حقیقت دے چې د نن دیوعالم فاضل او نوموړي پښتون لیکوال دا ذمه واري جوړېږي چې د نوو لیکوالـو رهنمائي اوکړي - د غېر معیاري لیکونو د مخ نیوي بن بنا وکړي او لیکوال په دې پوهه کړي چې دخپل وخت وسائلو او صلاحیتونو بې ځایه استعمال ونهٔ کړي - ځکه چې هم د د غه مشرانو او تجربه کارو لیکونکیو د غه عمل او د غه رویه به د معیاري لیکونو او نحواري کښو لیکوالو دا پېښ اکولو روایت جوړ وي د غه روایت به پښتو ادب د د نیا د ډېر مخ تللو ادبونو د سیالۍ جوګه کوي -

۱۰- په پښتو کښې یو رنګ تحقیق د هغه مقالو په صورت کښې دې کومې چې د چا شخصیتونو یا ادارو د ادبي خدماتو په حقله د معلوماتو دا نمونډولو په حقله لیکلي شوي دي - یا پکښې د څهٔ ادبي موضوع یا صنف د موجودو معلوماتو جاج اخستے شوے وي -

اګرچې کم شمېره پښتنو لیکونکیو په مختلفو موضوعاتو

کښې شمېر مقالې لیکلې دي خو د معیاري مقالو شمېر ډېر کم دے ـ د غه کم شمېره مقالې ټولې د یادونې وړدي ـ خود نمونې په ډول به د اجمل خټک "ژوند او فن" د زلمي هېوادمل په "پښتو نخوا کښې د علمي ادبي څېړنو د پرمختیا یون" د زرین انځور " د مهدي داستاني کلیات " وړاندې کوم انځور د نوموړي پښتون افسانه نګار مهدي شاه مهدي خوارهٔ وارهٔ افسانوي لیکونه راغونډ کړي دي او بیا ئې د هغې په دیباچه کښې د مهدي صاحب د ژوند په حواله په دغه لیکونو د کتاب د سرېزې په ډول یوه ښېره مقاله لیکلې ده ـ اجمل صاحب په خپله مقاله د ژوند او فن دَ ترون او تعلق په حقله د ستاښې وړ بحث کړے دے او هم د دغه مقالې په مناسبت سره ئې د خپل وخت د شاعرانو د کلامونو په نمونو راغونډولو سره د نوي وخت د پښتو شاعرۍ یو نمائنده کتاب چاپ کړے دے ـ

د غسې د غه د هېوادمل مقاله د ډېرې ستاښې جوګه ده ـ

دغه مقاله د افغانستان نه خوریږ ونکي پښتو مجله جرګه کښې په ودې ټوکه کښې خوره شوې ده ـ په دغه مقاله کښې تقریبًا د هغه ټولو وړو لویو او معیاري / غیر معیاري ادبي آثارو احاطه شوې ده ـ کوم چې په تېرو څو کلونو کښې د سوات نه واخله تر کوهستې پورې د بیله بیلو ادارو او افرادو له اړخه په پښتو ژبه خوارهٔ شوي دي ـ د غه خوارې دومره په ذرهٔ پورې ده چې که سهوًا یا قصدًا د څنې کتابونو ذکر نهٔ وي شوے نو سړے د لیکونکي په نیت شک نشي کولے ـ د د غه مقالې رنداز د هېوادمل خپل سهي خو معیار ئې د ذلمو لیکونکیو د پاره یوه ښهٔ نمونه ده ـ

د پښتو هغه مقالې هم د ستائینې بولګه دي کومې چې په تېرو څو کالو کښې د پېښور پوهنتون څانګې طالب علمانو د ایم فِل او پي ایچ ډي د ډګریو حاصلولو په غرض لیکلي دي ۔

تر دې وخته د ایم فِل د پاره ډاکټر اختر، یار محمد مغموم ، عبدالوحید ، بي بي مریم ، شاه جهان ، صاحب شاه صابر ، جاوید ، شاهدې او عزیزې مقالې وړاندې کړي دي ۔ د اختر مقاله د بایزید روښان د ژوند په حقله ده ۔ وحید او مغموم د آزادۍ په جدوجهد کښې د پښتنو شاعرانو د برخې په حقله معلومات راغونډ کړي دي ۔ مریم د پښتو نثر د تاریخ په حقله لیک کړے دے ، شاه جهان په پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه راغونډه کړې ده ۔ صابر په جدیده پښتو شاعرۍ کښې د پښتني ټولنیزو اثراتو جاج وړاندې کړے دے ۔ جاوید د پښتو ادبي ټولنو په حقله معلومات راغونډ کړي دي ۔ شاهدې د روښاني شاعرانو په آثارو کښې د صوفیانه افکارو اثرات لټولي دي او عزیزې د بایزید روښان او د هغه د کورنۍ د حالاتو په حقله د علي محمد روښاني کتاب حالنامه ئې د فارسۍ نه پښتو ته اړولې ده ۔ د خپلې خپلې موضوع په حقله د غه هره مقاله په زړه پورې معلومات لري او پکار ده چې ولوي ځکه چې کهٔ یو خوا د ایم فِل ډګري مهمه ده نو بل خوا د دغه مقالې د لیکلو د پاره پوره پوره وخت ورکړے کېدے شي ، زما د نظره د غه ټولې مقالې د ستائینې وړ دي او په پښتو ادب کښې د قدر وړ اضافه ده ۔ نو چې کله خبره د ایم فِل شي نو بیا سرے په دې وینا مجبور شي چې خالصه ژبارنه یا په یوه موضوع خالص معلومات راغونډول او یا د ځینې زړو معلوماتو تکرار ته په هېڅ جوړ هم یوه معیاري مقاله نشي وئیلے کېدے ۔ ځکه چې تحقیق

یوه موضوع په نوي انداز وړاندې کول یا د زړې موضوع یو نوی اړخ

رابرڅېره کول دي ددې نه لمه خبره په هیڅ جوړ او هیڅ حواله هم

تحقیق نشي کېدلای کېدے۔

ددغه ادارې نه تر اوسه پورې ډاکټر اختر، ډاکټر اقبال نسیم

خټک، ډاکټر راج ولي شاه خټک او ډاکټر محمد اعظم اعظم په خپلو مقالو

د پي ایچ ډي ډګرۍ اخستې دي په دوي کښې د اختر نه علاوه نور ټول

د پښتو ادب نوموړي استاذان، ادیبان، شاعران او لیکونکي دي ۔

اختر د بایزید روښان د مکتب فکر او نقطه نظر په حقله خپله مقاله

لیکلې ده ۔ نسیم صاحب "د خوشحال او جمالیات" تر عنوان لاندې تحقیق کړے

دے ۔ راج ولي صاحب په پښتو کښې د ادبي تحریکونو په حقله معلومات

راغونډ کړي دي او اعظم صاحب "په پښتو کښې کردارنګاري" تر عنوان

لاندې د کردار نګارۍ په پیچیده موضوع تحقیق کړے دے ۔ د دغه څلور

واړه مقالې په خپله خپله موضوع د معلوماتو په حواله د ستائینې وړ

دي ۔

د ځني کسانو په خیال د نسیم صاحب مقاله د اردو د یو تحقیقي کتاب

"اقبال اور جمالیات" او د راج ولي صاحب مقاله د انورسدید د تحقیق

" اردو [redacted] ادبي تحریکیں " سره په عنواناتو لحاظ ډېر نزدیکت لري بلکې

د دغه عنوانا تو پښتو ژباړې دي ۔ زما په خیال دا ښه رجحان نۀ دے خو

بیا هم په یوه موضوع د خپل نقطۀ نظر وړاندې کولو د پاره د خپلې

ژبې د چا بل لیکونکي یا د بلې ژبې نه موزون عنوان اخستل ګناه هم

نۀ ده خو هله چې د دغه عنوان لاندې لیکونکے خپله خبره وکړي۔

د انګرېزي ژبې نامتو نقاد ټي - ایس - ایلیټ د خپل بشپړ تنقیدي لیک What is Classic عنوان د فرانسیسي ادب نه اخستې دے او د خپل دغه لیک په وړومبي پېرا ګراف کښې ئې ددې اعتراف هم کړے دے چې ما دا عنوان د فرانسیسي ادب نه اخستے دے خو ما دې عنوان له خپله معنی ورکړې ده - د دې د لاندې مې خپله خبره کړې ده - ما ته ددغه استاذانو په ذکر شوي مقالو کښې د تحقیق د نظره ډېره کمي نهٔ ښکاري - کېدے شي چې کمی نهٔ لري او دا هم کېدے شي چې زما خپله شاګردي زما په سترګو لاس بندي - کېدے شي چې زما مطالعه او تجربه ماخطا کوي - خو یوه خبره یمه زما ذهن بیا بیا سکوڼوي - او هغه دا چې په یوه مقاله دوه کښې یا خو د موضوع پېژندګلو دومره روږده شوي وي - او یا ئې په دومره ډېرو حوالو د ثابتولو کوشش شوے دے چې ابهام او پېچیدګي ئې پېدا کړې ده او بله دا چې په دغه مقالو کښې د موضوعاتو په حقله هغه حوالې خو را نقل کړے شوي دي کومې چې د شاؤ خوا د لاسبرو په کتابونو او مجلو کښې موندے شوي دي - خو د هغه لیکونو د حوالو را نقل کولو ضرورت نهٔ ده شوې - کوم چې په افغانستان او بلوچستان کښې شوي دي - حالانکې دغه نوموړي لیکوال د وخت او وسائلو د نظره داسې نیمګړي نهٔ دي چې ګښې د دغه لیکونو ته ئې لاس نهٔ رسېدو - خو دغسې ډېرو وړو وړو نیمګړتیا ګانو باوجود دغه مقالو د پښتو نثر پنګه په علمي توګه درنه کړې ده -

په پښتو ادب کښې د تحقیق په څنګ څنګ کښې د تنقید قافله هم خوزېدلې ده - اګر چې په پښتو کښې د تنقید پنګه ډېره کمه ده خو د غیر ضروري تفصیلاتو او ابهام نه د بچ کېدو په خاطر ئې څهٔ داسې وړاندې کوو -

(۱) د عربو نه متأثره مشرقي ژبي دتنقيد په ميدان کښې د ارسطو د "رطوريقه" اثرات لري - "رطوريقه" دخطابت د هنر په حقله ليکلے شوے دے - دد غه کبله په مشرقي تنقيدکښې په صدو صدو د فن پارې د تحليل او تجزيې په ځائے د هغې لب ولهجه د بحث لاندې نيوے شوې ده - د بيان په رنګ روغن، دجملو په جوړښت، د لفظونو په شان شوکت د قافيې په حرکت و سکونت، د رديف په خوند رنګ، د تشبيهه په ترکيب، دکنايې، استعارې، مجازِ مرسل او نورو شعري صنعتونو په استعمال بحثونه شوي دي - په دغه حقله په عربو، فارسۍ کښې کښې شميره کتابونه ليکلے شوي دي په تاريخي توګه دپښتو روايتي تنقيد په دغه رنګ کښې رنګ دے - که خوشحال خټک د شعر په حقله څه ويلي دي - که اشرف خان هجري د چا شعر ستائيلے يا غندلے دے - که رحمٰن بابا دخپل شعر صفت کړے دے او که يو شمير لغونو شاعرانو په خپلو شعري آثارو کښې د حميد بابا د شعر صفتونه کړي دي نو هم دد غه رنګه ئې رنګ اخستے دے - د شلمې صدۍ په دويمه نيمايۍ کښې چې په دغه رنګ کښې کوم کتابونه وليکلے شو په هغې کښې د سمندرخان سمندر "د ادب منارہ" د تسنيم الحق کاکاخيل روحِ ادب دستاښې وړ دي -

اګرچې دد غه کتابونو زياتې برخې ژبارنې دي خود ليکونکيو دَ استاذۍ او تجربې له کبله ژباړې نهٔ ښکاري - د سمندرخان سمندر د ادب مناره دخپل وخت نه ډيره ورستو پېښنه شوې ده - د مخصوصو علمي، سياسي، معاشي، نفسياتي او تکنيکي بدلونو له کبله د شلمې صدۍ پښتو هم دومره مهينو قافيو جوړولو ته سمه نهٔ وه او د قافيې د سمو وخت ئې د فکر سمونې له ودکړے -

روح ادب کهٔ د ننني پښتو ادب روح نهٔ دے نو ددې نه بغير
هم د ادب او خاص کر شاعرۍ نوند پيکه ښکاري - روح ادب د علم معاني
بيان او علم بديع په حقله معلومات لري - د تشبيهه، استعارې او
نورو شعري صنعتونو د قسمونو او د رنګونو پېژندګلو لري - د دغه پېژندګلو
ځنګولو د پاره ئې د پښتو د کلاسيکي شاعرۍ حوالې راوړي دي - په اُردو کښې
محمد حسين آزاد او عابد علي عابد د دغه قسمه تنقيد استاذان دي - تو
آزاد په خپل شعر العجم کښې د شعر تهولنين چار پېرچل هم څهٔ نه څه
په نظر کښې ساتلي دي او عابد علي په خپل کتاب کښې د شعر د خوبو د بيان
د وضاحت په لړ کښې د عربۍ، فارسۍ د استاذانو شاعرانو د آثارو نه حوالې
راوړي دي -
۲- په تېرو څلو پښتو ګوسو کالو کښې (اُردو ژبې په يوه تخه راسې
وده وموندهٔ چې د شاوخوا د نورو ژبو غوندې ئې په پښتو ژبه او ادب هم
ژور اثرات وغورزول - اګرچې زموږ ځنې عالمان، فاضلان په د اُردو غوندې
کم عمره ژبې دومره زور آور اثراتو منلو ته تيار نشي نو دا حقيقت دے
چې زموږ د تېرو څو کالو په ادب د غه اثرات هېڅوک په هېڅ دول نهٔ
شي پټولے - دغه اثرات لفظي هم دي او معنوي هم - د خوند د نظره هم
دي او د رنګ د نظره هم - ددې حقيقت نه هم څوک سترګې نهٔ شي پټولے
چې په دغه تېرو څو کالو کښې د اُردو ځنې ليکوالو د اُردو ژبې او ادب د
چتکې پرمختيا د پاره د ستائنې ورنوادي کړې ده او کهٔ چرته ئې د مغربي
ژبو نه نقل کړے دے نو د عقل نه ئې هم کار اخستے دے - ولې زموږ ځنې
ليکونکيو چې د دغه نقل نه نقل کړے دے نو د نوادۍ نهٔ کولو له کبله

ترینه خبره ورانه شوې ده - دیو شمېر کسانو په دغسې لیکونو نحو لوستونکي په دې هم نه پوهېږي چې لیکونکی په څه موضوع ویېل غواړي - او څهٔ ویېل غواړي - کوم قسمه نوي معلومات وړاندې کول غواړي - د ژبې کوم ضرورت او د ادب کومه نیمګړتیا پوره کول غواړي په پښتو کښې دد غسې مضمونونو او مقالو شمېر کم نهٔ دے - نو کهٔ یو کتاب دوه داسې شته چې په هغې کښې د اُردو ادب نه د پوره پوره استفادې سره سره د لیکونکیو خپله خواري هم شامله ده نو هغه د سید رسول رسا "ادبي تنقید" او د سکریوسفزي "ادب څهٔ دے ؟" کښلې کېدے شي.

رساصاحب د انګرېزي ادب مطالعه هم لرله خود هغوی ذکر شوي وړوکي غونډې کتاب د لفظ او معنې دواړو د نظره د اُردو ادب په رنګ کښې رنګ دي.

اګرچې درسا صاحب خواري په پښتو کښې د ادبي تنقید په لړ کښې د ومبې دستاٸنې وړ خواري ده - دغه خواري د اُردو د ړومبی نقاد الطاف حسین حالی د مقدمه شعر و شاعری د معیار نه سهي نو بیا هم سرے وېلے شي چې په دغه دوره کښې دومره خبره هم پوره ده - ولې څنګه چې وېلے شوي دي هغوئ د انګرېزي ادب مطالعه هم لرله او تر دغه وخته پهٔ انګرېزي ژبه کښې د انګرېزي د خپلو نامتو نقادانو د تنقیدي خوارو سره سره د نورو ژبو د نوموړو نقادانو تنقیدي کارنامې هم انګرېزي ته اړولے شوې وې - په دغه آثارو کښې به د پرڅهٔ درسا صاحب دَ نظره تېر شوي وي - او کهٔ هغوي بهٔ خواري نوره کړے وے نو د خپلې مطالعې او معلوماتو په رڼا کښې ئې پښتو ادب ته د تنقید د پر معیاري کتاب ورنجښلې شو - پهٔ اُردو کښې د الطاف حسین حالی نه واخله تر پروفیس

احتشام حسین، ډاکټر سلیم اختر او پروفیسر کلیم پوره ټولو نامتو نقادانو هم د انګرېزي ادب د لوستې په رڼا کښې اردو ته د قدر وړ تنقیدي آثار ورکړي دي -

سحر صاحب اګرچې د اُردو ژبې استاد دے خو د انګریزي ادب ژوره مطالعه هم لري- د هغوي ذکرشوے کتاب دَ انتساب او دیباچې سره دوه سوه او ووه مخونه لري - اګرچې په د غه کتاب کښې څو ځایه د انګرېزي د نامتو نقادانو او عالمانو په حواله خبره شوې ده خو د کتاب معلومات او د معلوماتو د پاره غوره کړے شوے عنوانات د اُردو په رنګ کښې رنګ دي- د یکوونکي خوادي په زړه پورې ده خو په څنې ځایونو کښې لکه د ډاکټر عبادت بریلوي "د تنقیدي زاوے". ې ځایه تکراونه لري او څنې ځایونو کښې لکه د ظهیر کاشمیري "تنقید کے مادی نظریات" غیر ضروري بحثونو کتاب بې رنګه کړے دے او چرته چرته د څنې ضروري خبرو نیمګړې پرېښودو له کبله لوستونکي ته د نیمګړتیا احساس کېږي -د کتاب په دیارلسم، څلورلسم او اتلسم مخ د افلاطون، ارسطو او ایلیټ له خوا د شاعرۍ تعریفونه د ادب یوه برخه ده - د غسې په شلم او یو ویشتم مخونو د هرس او سکاټ جیمیز د را نقل کړے شوې وینا ګانو حوالې نهٔ دي په نخښه کړے شوي- دغه حال د فرائډ، ژونګ او ایډلر د ویناګانو هم دے -د مارکسي او نفسیاتي تنقید ذکرخو بېخي نیمګړے نیمه خوا دے - حالانکې د سحر صاحب د کتاب لیکلو تر وخت پورې په انګرېزۍ او اُردو دواړو کښې د دغه دواړو تنقیدي مکتبونو له اړخه ګڼ شمېره کتابونه ، مقالې او مضمونونه لیکلے شوي وو- د سحر صاحب هغه رائې هم د واقعیت نه لرې او د سیاسي انتهاپسندۍ پهٔ

رنګ کښې نوشته شکاري - د کومې د مخه چې د ولي نه وا خله تر جګو مراد آباد پورې د اردو شاعرانو شاعري د قام نه د عمل د طاقت ترورونکې کوشش ګڼلے شوے دے -

کهٔ چرې د غه شاعري د شاعرۍ په توګه په غور اوکتے شي نو ځائے په ځائے پکښې د عمل ترغيب موندے شي او کهٔ فرض کړه يو څوک لوستونکے د نورو شاعرانو نه انکار وکړي نو د اکبر آله آبادي، محمد حسين آزاد او الطاف حسين حالي شاعرۍ ته به څهٔ وائي - خو د ځنې نيمګړتيا ګانو او انتهاپسندو باوجود هم د سحر صاحب د غه اثر د ستائنې وړ دے -

۳ - زمونږ د تنقيدي ادب يوه برخه داسې ده چې په هغې د تنقيد په معنیٰ، مفهوم، اهميت ضرورت، اصولو او ضابطو ليکونه شوي دي - په دغسې ليکونو کښې نوې د مولانا عبد القادر هغه مشهور مضمون دے کوم چې " په "تنقيد تنقيد" ترعنوان لاندې ليکلے شوي او د هغوي د مضمونونو په مجموعه د "فکرونو" کښې خور شوې - د دې نه علاوه يو څو ليکونه هغه دي چې د افغانستان نه په مجله "زيري" کښې وخت په وخت خوارهٔ شوي - او د ګل افضل تهکور په تدوين او سريزه سره "کره کتنه" په نوم د افغانستان د قومونو او قبائلو د وزارت له خوا په کتابي شکل خور شوي دي - په دغه ليکونو کښې د عبد الرحيم "ادبي تنقيد" د معتمد" ادبي انتقاد" د غوث " نقد او نقد کونکي" د م - ع " کره کتنه"، د عبد القيوم نوروزي " کره کتنه"، د استاد بېنوا " د نقد څارنه دې وسي" د سرشار" ادبي چاڼ" د علي محمد " کره کتنه " د لنډ والي باوجود د ستائنې وړ جامعيت لري - اګرچې په دغه مجموعه کښې د پښتو ادب د څو نورو معتبرو استاذانو ليکونه

هم شته نو هغوي په خپلو لنډو و لنډو لیکو نو کښې د تنقید په حقله دَ څه لیکلو په ځای د مجلې د مدیر هغه کوششونه ستائیلي دي. د کومو په برکت چې هغه لیکوال د کره کتنې په حقله څه لیکلو ته لمسولي دي. اګرچې دَ ذیري " د دغه وخت د مدیر زلمي هیواد مل د غه لمسه دستائنې وړ ده ځو که هغوي په لیکو نکیو د تنقید مختلف موضوعات وپشلي وي نو شاید چې د تنقید په مختلفو اړخونو به د قدر وړ لیکونه هم شوي وي او د هغه ځنې تکرارونو مخ نیوے به هم شوے وي کومو چې د موضوع د یو والي له کبله په برنو ذکوشوي لیکونو کښې یکرنګي پیدا کړې ده.

د دغه تنقیدي لیکونو په لړکښې د پو هنمل خالق رشید هغه لیک هم د قدر د وړدے کوم چې د پښتو هنري ادبیاتو د کره کتنې لنډه تاریخچه په نوم په کتابي ډول د افغانستان د لیکوالو ټولنه له خوا خوړه شوې. د لیکوالو د اتحادیې له اړخه د زدین انځور شعرونه او نقدونه هم د دغه هومره اهمیت جوګه دي. په دغه دوارو کتابونو کښې د تنقید د پیژندګلو سره سره د پښتو ادب ضرورتونه او مزاج هم په نظر کښې ساتلے شوي دي. د نظریاتي تنقید سره سره د عملي تنقید ځنې نمونې هم لري. ددې نه علاوه په "ژوندون"، "پښتو" (پښتو ټولنه)، "جرګه" (افغانستان)، "اباسین" (پېښور) ، ولس (کوئټه) قند (مردان) پلوشه (کراچۍ) لیکوال (پېښور)، جرس (کراچۍ) نومې مجلو او بانګ حرم (پېښور)، شهباز (پېښور) او وحدت (پېښور) نومې ورځپاڼو او اووه ورځنې " هیواد " کښې هم د پښتو غزل، افسانې او داستانونو په حقله تنقیدي لیکونو، مضمونونو او مقالو د پښتو تنقیدي ادب ته په

علمي او هنري ډول درناوے بخښلے دے۔

(۵) د پښتو ادب د تنقید په لنډه تنګه دنیا کښې لږه غونډې برخه داسې هم ده چې په صفې کښې د یو لیکوال د شاعرۍ یا نثري اثارو تجزیه او تحلیل شوے دے۔ دا لیکونه په ځانګړي ډول نور مضمون، مقالې یا کتاب په صورت کښې په چاپ شوي ډول نشی مونده۔ البته د دوست محمد خان کامل په "رحمن بابا" او د محمد اعظم اعظم په پښتو افسانه کښې ئې ځا ځا په ځائے نمونې مونده شي۔

(۶) علم په خپله وجود د هیچا اجاره داري نهٔ مني۔ د دنیا په مخ هره علمي کارنامه د دُنیا د هر قام دهر وګړي وراثت دے۔ نو د قومونو اکثر وګړي د هغې نه هله استفاده کولے شي۔ چې کله د غه کارنامه د هغوې په خپله ژبه کښې وي۔ د دنیا هره ژبه او د هرې ژبې ویونکي د خپلو معلوماتو زیاتولو او خپلې علمي پنګې درنولو په خاطر دې ته متازه دي۔ چې د خپلو علمي لیکونو سره سره د نورو ژبو علمي آثار خپلې ژبې ته راواړوي۔ د هغې ژبې او هغه قام نامتو وګړي دد غه متازۍ ورکولو دپاره په یو مخ زیارونه کوي۔

پښتو او پښتنو ته د نورو علمي آثارو او بیا په تېره تېره دَ ادبي تنقید په حقله د شوي لیکونو ژباړې ډېر زیات ضرورت دے نو پښتنو پوهانو په دغه لور ډېره کمه پام لرنه کړې ده۔ په دغه ژباړنو کښې د قلندر مومند له اړخه د ارسطو د پو ئټکس ژباړنه د "نظمیات" په نوم۔ د ولیم هنري هډسن د تنقیدي شاهکار انټرو ډکشن تو دَ سټډي آف لټرېچر دیو باب تلخیص او ژباړنه د "تنقید" په نوم، دَ

نوازطائړله اړخه د الطاف حسین حالی د "مقدمه شعروشاعري" ژباړنه، دَ لطیف بهانه ابراهیم عطائیٔ او یوڅو نوره زلمو لیکوالو له خوا د روسی، جرمني، فرانسیسي او انګریزی ژبونه د وړو وړو تنقیدي مضمونونو ژباړې زمونږ هغه تولنه اثاثه ده کومه چې مونږ دپښتوڅولی له راوړې ده.

(۷) په پښتونخوا کښې داسې اداره نشته چې د هغې له اړخه دَ زلمو شاعرانو او لیکوالو د روزنې او پالنې بندوبست کیږي. که چا په خپل سمې څهٔ زده کړهٔ نو وشوه کني سړ هم نه شین دے. او نهٔ داسې څهٔ اداره، ډله یا تولنه شته چې هغه په لیکوالو کښې د مطالعې د ذوق پیدا کولو سره سره په خلقو کښې دپښتو ادب د لوستې زیاتولو لارې چارې ولټوي. بیا نو که کومې ادارې دغه ذمه واری ترسره کوي نو هغه هم دغه ادبي جرګې او ټولنې دي. سره ددې چې دغه تولنې هم دَ وړو وړو خبرو ذاتي عنادونو او انا ګانو له کبله په وړو وړو ډلوړو کښې وېشلې شوي دي او وېشلې شي. چې څوک سرلري هغه څود سرداری دعوی لري. بې سرو هم د سرداری پګړی په سرکړي دي که چا دوه څلوری غزلې ونیکلې نو دَ مقامي انتظامیې په مرسته ئې د دؤو څلوړو تنو ډله جوړه کړې ده. کهٔ غونډو پنډو کیږي او کهٔ نهٔ کیږي، دَ صاحبانو ملکیه نو جوړې دي او ادبي ملکان د سرکاد په کاتو کښې د قبائلي ملکانو نه زیات معتبر وي. اکثرو لیکوالو دپښتو ادب وده د خپلې دغسې

معتبري د سره قربان کړي ده - نو ددې تېر لو لږو او کمزورو باوجود هم د غه

تولنې او جرګې دې چې د پښتو ادب د نیا ئې ودانه آباده ساتلې ده - خلق

د پښتو ادب سره اشنا کوي - خلقو ته د ادب د لوستې ترغیب ورکوي -

د نوي لیکوالو حوصله افزائي کوي - او په خپلو تنقیدي غونډو د تنقیدي

عمل روزنه کوي - د دغه غونډو هغه رودادونه زمونږ د تنقیدي ادب

لویه برخه ده - کوم چې په ورځپاڼو او مجلو کښې خوارهٔ شوي د غه تنقیدي

بحثونه اود هغې روداد د خپل اوېره والي او سطحیت باوجود د تنقیدي

عمل د ضرورت او اهمیت له کبله د ستاشنې جوګه دي - د رواني پېړۍ اکثر

نامتو پښتانهٔ لیکوال د افغانستان د پښتو ټولنې او پښتو ټولنې "د اولسي

ادبي جرګې" د تنقیدي غونډو روزلي دي - د جرګې د تنقیدي غونډو ځنې

رودادونه د بناغلي عبدالکافي ادیب په خوارۍ د پېښور نه په کتابي شکل

خواره شوي دي - چې د تاریخي اهمیت سره سره د نوي لیکوالو او ادبي

جرګو د زده کړې د پاره هم د برخهٔ لري - د غسې د پښتو ټولنې له اړخه

هم یو شمار داسې کتابونه خواره شوي دي چې د پښتو ادب تنقیدي برخې

ته ئې وده ورکړې ده -

(۸) پښتو کښې یوه نمونه یک داسې دے چې د مستند و لیکونکیو

روشته تبصره نګارو له خوا د ځلو شاعرانو ادیبانو په کتابونو د تبصرو

په ډول لیکلے شوې وي - د غه لیکونه یا خو د کتاب سره شامل وي یا

په ورځپاڼو او مجلو کښې چاپ شوي وي - د غه تبصرې اکثر فرسوده او

یو مخیزې وي - مستند و لیکونکیو هر قسمه مال په یوه ساه ستائلې وي

او د هرې دوایې په بوتل ئې یو رنګ او یو شان لیبل لګولے وي - هر کتاب

ئې د پښتو ادب په خزانه کښې معتبره اضافه ګڼلې وي. د ليکونکيو صلاحيتونه ئې ستائيلې وي، لوستونکو ته ئې د ليکوال د ښکلي حال او روښانه مستقبل زيرې ورکړے وي. په دغسې سلو ليکونو کښې پنځوس نوې جملې او پنځه نوې خبرې نشې موندې.

منم چې د پښتو ادب په کائناتو کښې دَ تحقيق او تنقيد دنيا د ګوتو د شمېر په يو څو کتابونو، يو څو ژباړنو، يو څو مضمونونو او مقالو ولاړه ده. نو په دغه ليکونو کښې هم دوه څلور د ستائنې چوګه دي. اکثر ليکونه يا خو دَ معلوماتو د لحاظه زاړهٔ وي. يا د اصطلاحاتو تعريفونه وي او يا د څو معتبرو عالمانو د هغه اقوالو چاپېره چورلي ګوم چې د اُردو ژبې ليکونکيو داسې مبتلي وي چې لکه د هغه معياري شعرونو غونډې پېکه پېکه لګي، ګوم چې په لبسونو، ترکونو او ډکشنو ليکلي شوي وي.

پښتو کښې هر څو د شمېر يو څو داسې استاذان لري چې د خپل علم مطالعې، پوهې او تجربې له برکته د تحقيق او تنقيد په ميدان کښې په زړهٔ پورې کارنامې ترسره کولے شي. خو د پښتو د بد قسمتې په خپل ځائے ده چې هغو کسانو هم خپلې دغه ذمه وارئ په پوره ډول نهٔ دي ترسره کړي. دَ نومونو، خطابونو او کتابونو د شمېر په حواله څو کښ کسان د تحقيق او تنقيد د مهارت او استاذئ شهرت لري. خو هغه د خوشحال بابا خبره.

؎ چې دستار لري هزار دي
د دستار سړي په شمار دي

او کهٔ په دغه شمار کښې هم سړے ديارئ دوستئ، د لې، پردي او شرئ، کشرئ خيال ونهٔ ساتي نو د دستار سړي به په ګوتو د شمېر لو شي. کهٔ دَ

وشلي، فرماشلي، راوي او روايت په حواله شوي تحقیقي ليکونه د ځني
معلوماتو تکرار او د ځني ضعيفو سندونو او فرسوده معلوماتو په حواله
شوې خپرې شوې دي ته کړے شي نو بیا خو به د دوه څلور کتابونو
څلور سوه مقالو او مضمونونو نه پرته نورو ليکونو ته تحقيق وئيل
ډېره ګرانه شي - د تنقید په هکله کي پوهه ې خو ددې نه هم کمه غوښته
ده - منم چې د تنقيد تقاضې ډېرې نادره دي - د نقاد نه غوښتنه کوي
چې د خپلې ټولنې د بدلون او پرمخ تګ د قوانينو او طاقتونو سره ځان
بلد کړي، د خپلو ادبي روایاتو نه دې ځان خبر کړي - د همعصرو مسئلو
او ادبي تحریکاتو سره سره دې د هغه اجتماعي شعور ادراک ولري په
کوم کښې چې د فنکار انفرادي شعور وده موندې وي - د فنپارې د هیئت
او موادو نوعیت او ارتقائي تاریخ دې په نظر کښې وساتي - خو که نور
خلق دا کار کولے شي نو په پښتو څه چل دے د انګریزي، فرانسیسي
او نورو ډېرو پرمخ تللو ژبو د ليکونکیو غونډې نه سهي د اردو د جمیل جالبي
غونډې ې هم نه شو کولے - چې د مغربي تنقیدي مضمونونو او مقالو
په ژباړنه او لیږیزي د "ارسطو سے ایلیٹ تک" غونډې یو کتاب پښتو
ته ورکړے وي - که دومره هم ګرانه ده نو د سجاد باقر د هغې خوارې هومره
خو به ې کړې وي - کومه چې هغه په "مغرب کے تنقیدي اصول" کړې ده -
په لنډه توګه به ې د پښتو ادب د هغه څه سره اشنا کړے وے د کوم
څه سره چې عبادت بریلوي په خپل کتاب "غزل اور مطالعه غزل" او
ډاکټر سليم اختر په "تنقید اور لاشعوري محرکات" اردو ادب اشنا کړے دے -
که چا د تنقید خپله نظریه نه شوه جوړولے نو دومره خو کېدے

شو چې لکه د پروفیسر احتشام حسین د "تنقیدي نظریات" په دول ې د مختلفو لیکوالو نیکو مقالې را غونډې کړې دي - په اُردو کښې د غه دول نور هم نور و کسانو هم کړي دي - د ډاکټر گوپي چند نارنگ د افسانې او خاص کر اُردو افسانې په حقله، د ډاکټر ایم سلطانه بخش د "اُردو میں اصولِ تحقیق" په نوم د تحقیق د یو شمیر عالمانو، فاضلانو لیکونه را غونډ کړي دي - د پښتنو لیکوالو دو سائکلو کمې او بیمکرتیا کانې په خپل ځائے نو ښکې قحط هم نهٔ دے کهٔ د ځنې غیر ضروري او غیر معیاري لیکونو د چاپ د پاره وسیلې پیدا کیدے شي نو معیاري او ضروري کتابونه به څنګه نهٔ چې و سیلې پاتې کیدهٔ - ما په دې وینا دې څو کرښو کښې د اُردو ژبې د لیکوالو او د هغوئ د لیکونو حوالې په دې ورکړې چې د غه زموږ د اکثرو مشهورو او نامتو لیکوالو نیکو همعصر او اکثر هم عمر دي -

کوم پښتنو لیکوالو چې په یو وخت دې کار ته لاس اچولے په هغوي کښې ځنې کسانو ابتدائي کامیابي موندې - خو ورستو د هغوي د نا راستې او بې پروائي نه خبره پاتې شوې ده - خو دا کار کار دے او کول غواړي - د دې نه بغیر نهٔ خو پښتانهٔ د پښتو ادب په ماهیت او اهمیت پوهیدے شي او نهٔ پښتو ادب د نوي نسل د ادبي ذوقه خبریدے شي - او بې د دې نه د ادبي ذوق او شوق قافله وړاندې بوتلل گرانه ده - لکه چې د انگریزي ادب نامتو استاد سکاټ جیمز په خپل ذرهٔ پوره کتاب "میکنګ او لټریچر" کښې یو ځائے په دې حقله خپله رائې داسې څرګندوي -

THE POEM OR PLAY MUSE FACE NEW TEST WITH EVERY GENERATION-

ترجمه :- شعر په هرځ زمانه د نوی سره نوي نوي امتحانونو ته مخامخ کیږي" - (۱۵)

تنقید کولے شي چې د نوي نسل خوځ بوځ او د فنکار تخلیقي صلاحیتونه د یو بل سره اشنا کړی او تحقیق کولے شي چې زموږ د تنقید دنیا د اوپره سرسري او هغه دغه خبرو په ځائے د معروفي حقیقتونو په بنیاد ودروي - تحقیق موږ د خپلو ادبي روایاتو او تاریخي نیمګړتیاګانو هم خبرولے شي او د هغې پوره کولو لارې چارې هم راسمولے شي -

د معیار او مقدار دواړو د نظره په پښتو ادب کښې د تحقیق او تنقید د کمي کښې وجې کیدے شي نو بنیادي وجه ئې د علم کمے دے - علم چې په قرآن پاک کښې بیا بیا ستائیلے شوے دے - علم د څه حاصلولو د پاره چې محمد صلی الله علیه وآله وسلم مسلمانانو ته په کوا تونو وئیلي دي - علم د څه زده کړې تلقین چې د افلاطون د وینا مطابق سقراط "کوښتو" ته په دې ډول کوي -

" عقل زده کړه - په دې سوچ مه کوه چې فلسفیان ښه دي که بد - د هغوي په وینا غور وکړه او کوشش وکړه چې ښه او دښتیائې وشیرې "

دلته د عقل نه مطلب علم دے - علم د انسان هغه ورکه ده چې په کاواکه موندے شي - نو موږ چې پښتانه هم یو او مسلمانان هم، خدائے رسول منو، په قرآن ایمان لرو او علم خپل وراثت کڼو - نو د علم د زده کړې د پاره هیڅ خوارې هم ضروري نه ګڼو، تجزیې، مشاهدې او مسافري نو بربره ده چې د کتب سرته پروت کتاب هم د بې

څوابې نه د ځان خلاصولو د پاره د ترنکولا نزد په دول استعمالوو او که

چرته څوک دوه څلور کتابونه ولولي نو بې د څه نورې خوارۍ پواځې

د دغه مطالعې په برکت څپل لس اته کتابونه پیکل غواړي او په دې سوچ

نهٔ کوي چې د غه یو یو کتاب په څومره وخت کښې په څومره خوارۍ لیکلے

شوے دے -

زهٔ د پاپښتون لیکوال په ایمانداري او شرافت شک نهٔ کوم

خو هر چا ته دا خواست کوم چې هغوي په دې غور وکړي چې مونږ خپل

شته وسائل څنګه بکار راوستي دي - د نورو ضروري کارونو ترسره

کولو د پاره د وسائلو پیدا کولو په غرض څهٔ منصوبې لرو - د هغه

منصوبو عملي کولو د پاره موږ څه کړي دي - ددې هر څهٔ نه پس مونږ د

ځانونو نه څوڅله تپوس کړے دے چې زمونږ د پښتو ژبې او ادب سره

څومره مینه ده ؟ د لیکوال په حیثیت مونږ خپلې ذمه وارۍ څومره پوره

کړي دي -

د انسان د کړو وړو او د هغه نه د نورو انسانانو د طمعو توقعاتو

په حقله د انسان د ټولنیز ژوند دوه نامتو امریکني استاذانو

د RAYMOND W. MACK او KIM BALLYOUNCY د خپل دېر

لوے تحقیقي زیار SOCIOLOGY AND SOCIAL LIFE په اتم مخ خپله

شریکه رائې څهٔ داسې ښکاره کړې ده

ترجمه :- هر یو بنیادم په یو توکي کښي پېد اکېږي او خپل ټول ژوند د هغې اجتماعي تعلقاتو په بنیاد جوړ وي - هر کار چي هغه کوي دَ هغه د بل چا سره تړلي دي - چي هغه چا ددهٔ د پاره کوي ئ - يا ئ څوک ددهٔ نه طمع کوي "

منم چي مونږ له د پرخنځ لکه د بني اسرائیلو بخ کړي راځي - دَ کوکاکولا د فارمولې نه د سوزوکي پک اپ او تر پسکتو د پرزو پورې هیڅ هم زمونږ نه تحقیق نهٔ غواړي - د مودو مودو دغې ذهني تیارخورۍ به زمونږ تنقیدي او تحقیقي صلاحیّتونه فرور زنګ کول - دغه زنګ زمونږ د ملک د نورو ډېرو د لیکوالو په صلاحیّتونو هم حملې کړي دي - خو هغوي بیا هم کله کله د ځانونو نه دغه زنګونه د محنت په توکونو وکووي - ځکه چي بې ددغه خوارۍ نه عصري تقاضې نه پوره کېږي - انسان او انساني ژوند د زوړ والي او فرسودګۍ ښکار کېږي - دوخت په سموت د ځان سمولو په کوشش کښې د انسان ورې ورې خوارۍ هم د دېرې ستاښي ور ګرځي - دلاطیني ژبې نوموړي شاعر ورجل کهٔ په صدو صدو د "هومر" غوندې شاعر نه لوې ګڼلې کېدهٔ او د انګریزۍ ژبې د سپنسر غوندې شاعر ټول عمر د خپل ملک د ورجل جوړېدو ارمان لرو نو ځکه چي ورجل د خپل وخت د بادشاهت د پاره لیکل کړي وو -

زمونږ اکثرو لیکونکیو د خپل عصر او نوي نسل تقاضې یا خو پېژندلي نهٔ دي او یا ئ ترې د ورو ورو مصلحتونو د خاطره ډډه کړېده - زهٔ په دې یقین لرم چي ترڅو پښتنو لیکونکیو (د څوتنو نه په معذرت سره) په دې ځان نهٔ وي پوې کړې چي زمونږ دنیا د غوائي د ښکره سائنسي

صداقتونو ته اوړېدلې ده - دغه معروضي حقيقتونو په برکت ودا نه آباده ده - ځوزيږي، بدلېږي - دغه ځوزېده او بدلېده ځانګړي اصول او قوانين لري، ځانګړي اثرات او تاثرات لري - په ټولنيزو رشتو، تعلقاتو غوښتنو، اخلاقو، روايا تو او انساني طبيعت کښې فرق راولي - تر هغې دوي دا سې ليکونه نه کولے شي چې د دوي د پښتو په زور او تعلقاتو په برکت چرته په يو کتاب، چرته په بل کتاب کښې ځائے وموږي - د يو څو پېښه ورو مدح خوانو داد واخلي - ولې نه نني ذهن مطمئن کولے شي - نه د سبا نظر دوکه کولے شي او نه د پښتو ادب علمي پسګه درنولے شي -

نه ځو زما کا د يا عمر د نصيحتونو دے او نه دا ته څوک دا سې نبکاري چې زما غوندې کم علمه او نا تجربه کاره سړي نصيحت ته به محتاج وي - ځو د موقعې په مناسبت خپلو ليکونکيو دوستو ته د فرانس د مشهور شاعر او نقاد "بولو" د هغه نصيحت يوه ټوټه وړاندې کوم - کوم چې هغه د خپل وخت شاعر ته کړے دے - ځو غالباً چې په جزوي ډول د هر وخت د هر ليکونکي د پاره مناسب دے - په دغه ټوټه کښې هغه وائي چې " د ټول عمري شهرت د پاره ليکه او دولت د شاعرۍ مقصد مه ګرځوه - که په زړه کښې دې د مال او دولت مينه وي نو بيا دې بې ګټې کاره لوې تنبسته - آيا انسان په شهرت ژوندے نشي پاتې کېدے او په لوې کار زندګی نه شي تېرولے (١٧)

بې شکه چې ليکونکي انسان وي - انساني تقاضې او ضرورتونه لري ځو که د خپل ليک سره ځواري وکړي نو شهرت به هم وموږي او د ګټې امکان به يې هم وي - ځنې پښتانه ليکونکي په خپل علمي توان تر هغه ځايه رسېدلي دي چې شهرت او دولت دواړه يې نصيب شوي وي - دا نه

ده چې ګڼې دې خاورې د غه دوه څلورتنه زیږولي دي او بیا شنډ شوي
دي - هر پښتون لیکوال د دغه کسانو همسري کولے شي - بلکې په ځینې میدانونو
کښې د هغوي نه مخکښې تلے شي - خو هله که د علمي زده کړې خوارېږ ښته
ځان ونیسي خپل لیکونه په علمي توګه د مروڅو اوپښتو ادب د پتکے ودې
دپاره دخپلې مطالعې، مشاهدې او تجربې سره سره د نورو پرمخ تللو ژبو
نه استفاده هم کول پکار دي - خو د غه استفاده دې زمونږ د مثبتو
روایاتو او تهذیب په چوکاټ د ننه او زمونږ دادبي ضرورتونو مطابق
وي زمونږ په تخلیقي صلاحیتونو، ثقافتي قدرونو، ادبي روایاتو او
علمي صلاحیتونو دې زمونږ یقین ورک نه کړي - داو ټپل به مناسب نه
وي چې پښتانه عالمان دې دخپلو خیالاتو او معلوماتو د اظهار دپاره بله
یوه ژبه پکار نه راولي خو هغه داند ښش صاحب خبره -

م د چاچې خپل کلی د مینې یو نظر پسې مري
محبتونه هغوي نه وړي د ربګزار په طرف

داوخت پښتو ته دخپلو عالمانو ډېر ضرورت دے که څوک پښتون
هرڅومره لوی شي خو د پښتو نه لښي لوئېږدے او نه څوک په خپله ژبه
کښې په اظهار بدي سنکاري - لاطیني ژبه په صدو صدو د ټول یورپ
داسې علمي او ادبي ژبه وه چې " روجرشام " په انګریزې کښې او
" ډوبېلي " د فرانسیسي ژبې په حقله په فرانسیسې کتابونه ولیکل نو
ډېر و معتبرو انګریزانو او مخورېزو فرانسیسیانو دا د دوي کم علمي او
پوهاوتیا وګنهله - خو نن دغه دواړه ژبې د علمي او هنري معلوماتو په
لحاظ د ټولې دنیا دپاره د رڼا منارې ګڼلے شي او پښتو خو پښتو ده - د

هر علمي کوشش د هغو ملو توان لري. د هیڅ انځوريز نهٔ هیروي. کهٔ پښتنو یوکونکیو په خپل همت، سنجیده کوششونو او لیوتو منډو د پښتو علمي پانګه د پرمخ تللو زبو د سیالو نو هغه کړه نو پښتو به يُ هیڅ کله هم د سیالانو د قطاره ویستلو ورنهٔ کړي.

تاریخ ګواه دے چې پښتو ژبې او پښتني غاورې په هر څنګه حالاتو کښې د خپل هر مېړني سره لکه د پښتنې محبوبې وا لوظ کړے او پوره کړے. چې:

په غر مېیدي لي سپو را تېر شه
په ځونرو چېرو به زهٔ درتېره شمه

پښتو ادب کښې

تحقیق او تنقید

۲

د فلسفې، سیاست، تاریخ، جغرافیه او فیزیکل سائنس په حقله لیکلې کتابونه په خالص ادب کښې نه شي شمیرلې - خو په ادبي تحقیق کښې لاس لرلې شي.

د علمي نثر سره د لوستونکو د ناآشنائیې او لیکونکو د مطالعې د کمې په سبب په پښتو کښې د فلسفې په تاریخ او فلسفیانه موضوعاتو د شوي لیکونو شمیر ډېر کم دي - په دغسې لیکونو کښې د ارباب سکندر "فلسفه ذره نورے" (پېښور چاپ) د ګل باچا الفت "منطق" (افغانستان چاپ) د حمزه شنواري "تسخیر د کائنات" "انساني انا او پوهه" "ژوند ژور فکرونه" (پېښور چاپ) د شیرعلي باچا "فلسفه څه ته وائي" (پېښور چاپ) د عابد جان "فلسفه د جنون او جانان" (مردان چاپ) د پروفیسر محمد نثار ملغلرې په مرمر (مردان چاپ) په دې لړ کښې د یادونې وړ دي.

د منطق د چاڼ نه چې شوې بیان د منلو وړ ګڼلې شي - په پخواني یونان او وروستي یورپ کښې فلسفیانو د منطق په حقله ډېر څه لیکلي دي - د منځنۍ ایشیا او عربو مسلمانانو د ځپل عروج په زمانه کښې د یوناني فلسفې

او منطق نه پوره پوره استفاده کړې ده .

ابونصر فارابي ، يعقوب الکندي او بوعلي سينا د ارسطو د منطق شرحې ليکلي دي . د خپلو نظرياتو په سمون او ترتيب کښې يې د يوناني فلسفې او منطق نه استفاده کړې ده . د امام غزالي ، جلال الدين رومي ، عمر خيام ، سهروردي او نورو روحاني شخصيتونو په افکارو او اثارو د دغه اثراتو ډوره غلبه ده .

د الفت صاحب ياد شوې اثر هم د دغه مسلمانانو عالمانو د ليکونو د اثراتو په رڼا کښې د پخواني يونان د منطقي دوړې په رنګ کښې رنګ دې .

حمزه بابا د شلمې پيړۍ پښتون پوهاند دې خو د هغه ياد شوي اثار د علمي درونوالي لرلو باوجود د نولسمې او شلمې پيړۍ (عيسوي) د سائنس او فلسفې د اثر او تاثر د دائرې نه بهر پاتې شوي دي .

د شيرعلي باچا ياد شوې يک د هغه کتاب ژباړنه ده کوم چې په اردو کښې "مارکسي فلسفه" په نوم ليکلي شوي دي . دغه يک د فلسفيانه نوم لرلو باوجود سياسي او معاشي موضوعات او غرضونه لري .

د عابد جان کتاب پخپله موضوع نوې او په ذره پورې يک دې . په دغه يک کښې د غني خان د شاعرانه فکر تجزيه او تحليل شوي دي .

د ژوند ، جانان ، خالق او تخليق په حقله د هغه د ځانګړو فلسفيانه تصوراتو د ابرسېره کولو سره سره عابد جان د زوړ يونان او نوي يورپ د فلسفيانه تصوراتو او د دغه پښتون شاعر د خيالاتو ترمنځه په اشتراک او اختلاف خبره کړې ده .

دغه يک نه يواځې د غني خان د شاعرۍ په حقله نوې او معياري دې بلکې په پښتو نثر کښې هم د نوې انداز او نوي معيار نمونه ده .

په تازه، نوو، خوږو او روانو جملو کښې د نوي فکر پېرل د دغه کتاب امتيازي شان دے. د ډيکوال د ناتجربه کارۍ په سبب کله کله جملې په ګرامري لحاظ غلطۍ شي خو په زړو، سستو، بې خونده او بې رنګه جملو کښې د فرسوده خيالاتو بيانولو نه د نوي فکر څرونکې نوې، تازه، خوږې او خونده ورې جملې د لږې غلطۍ باوجود هم د ستائيلو وړ دي.

پروفيسر نثار په خپل کتاب کښې د مختلفو سرخطونو لاندې په مختلفو موضوعاتو د شاعرانو، فلسفيانو او پوهانو شعرونه او وېناګانې رانقل کړي دي د نورو په څنګ کښې ئې خپل خيالات هم په شعر او نثر کښې بيان کړي دي په پښتو کښې د منفرد انداز دغه خوږ او معلوماتي کتاب د ستائنې جوګه دے خو د وېنا کونکو د نومونو او حوالو د نشتوالي له کبله د مختلفو وېناګانو ترمنځه فرق کول هم ګران دي. د نورو عالمانو او ډيکوال پخپلو خيالاتو کښې فرق کول هم ګران دي.

په پښتو کښې د فلسفې په موضوع او تاريخ تر ټولو زيات په زړه پورې نيک د ارباب سکندر ياد شوې اثر دې

په کال ۱۹۶۶ئ کښې د دارالتصنيف پېښور له خوا خور شوے دغه کتاب د فلسفې د تاريخ په موضوع يوازې د فلسفيانو نومونه، د زمانو تعين او د خيالاتو نموني نه لري بلکې ډيکوال ځائے په ځائے د دغه معلوماتو تحليل او تجزيه هم کوي.

په ډېرو ځايونو کښې د دغه د اخذ کړو نتيجو سره د اختلاف باوجود د دغه طريقه د ستائيلو ده.

امکان دے چې د پښتو ادب لوستونکي ما سره اتفاق او لري چې اول خو

په پښتو کښې د فلسفې په موضوع ليکونه ډېر کم دي او چې څه دي د هغې لويه برخه د اردو او فارسۍ نه اخذ ، ماخوذ او ژباړنې وي کوم چې دغه ژبو د انګريزي او نورو ژبو اخستي دي .

خو ! تر کاله ۱۹۶۶ء پورې په اردو ، فارسۍ او نورو ګاونډي مشرقي ژبو کښې په دغه موضوع هيڅ يو داسې کتاب نشته چې په تاريخي ترتيب او معلوماتي توازن کښې د ارباب صاحب د کتاب برابري اوکړي .

په دغه کتاب کښې د پخواني يونان نه واخله د اوسني يورپ د فلسفيانه رجحاناتو او فکري رويو سره د هند ، چين ، ايران ، عربو او منځني ايشيا د پخوانو پوهانو په خيالاتو هم خبره شوې ده .

ليکوال د کتاب په وړومبو څونو کښې د فلسفې په پېژندګلو ، په قومي ژوند کښې د فلسفې په اهميت او په پښتو کښې د علمي ليکونو په کمي خبرې کړېدي .

په ورپسې څونو کښې يې د يونان د وړومبي لوی پوهان تهيلس خيالات راوړي دي بيا يې د فيثاغورث او زينو فين په هغه فکر خبره کړې ده کوم چې د بت پرستۍ خلاف د وحدانيت په حقله دې . په دوي پسې يې د حکيم هرکليدس او انکساغورث حياتي نظريه بيان کړې ده د اميډوکليس خبرې يې رانقل کړي دي .

ديوسپوس او د هغه شاګرد وليما کريطوس اېټمي نظريه يې ياده کړې ده . د سو فسطائي پوهانو فکر او علمي خدمات يې بيان کړي دي . د رواقيانو او اپيقوريانو د نظرياتو ذکر يې کړې دے .

په عمومي ډول د فلسفې په تاريخ او تذکره کښې د يونان د لويو فلسفيانو ذکر کيږي خو د ارباب صاحب د ياده کړې شوو کسانو د پېژندګلو نه بغير د دغه

لویو عالمانو په خیالاتو پوهیده کړان دي - ددغه پوهانو فکری رویو او علمي

خدماتو د لویو عالمانو پیدا کیدو د پاره حالات سازګار کړي دي - ډېرو مېي

نامتو نابغه سقراط د نظریاتو بیانولو په لړ کښې نیکوال دهغه جمهوریت ضد

رویه غندلې ده - وسقراط نه وروستو یې د یونان نور لوئ عالمان او

فلسفیان یاد کړې دهغوئ په خیالاتو او نظریاتو یې خبره کړې ده - د یونان

نه پس نیکوال په خپل یاد شوي اثر کښې دپخواني هند چیني فلسفه، بدهٔ مذهب

ویشکا فلسفه، سانکمیه فلسفه، یوګ فلسفه د ویدانیت فلسفه، دشنکرا

چاریه فلسفه او د رامانوج د فلسفې بنیادي خدوخال ښکاره کړي دي -

"دچین فلسفه" تر سرخط لاندې یې دچین د فکری مکتبونو په لنډه

ذکر کښې د زور ستر فلسفه (څوک چې د زرتشت په نامه یادیږي او د قطبي

افغانستان د بلخ نو بې علاقې شاوخوا پیدا شوی) د مسلمانانو فلسفیانو او

مفکرینو لکه یعقوب الکندي، ابن رشد ابونصر فارابي، بوعلی سینا، امام غزالي

او نورو خیالات یې رانقل کړي دي - د مادیت د سرخط لاندې یې د اوسني یورپ

د ورمبي وخت د سائنسي پرمخ تګ او فلسفیانه خیالاتو په حقله خبره کړې ده-

د ارتقا په نظریه یې خبره کړې ده او په وروستو وختونو کښې یې د شوپنهار

نطشے او نورو په حقله معلومات راوړي دي - د نولسمې پیړۍ په ذکر کښې

یې د سائنسي او خاصکر فزکی پرمخ تګ یادولو په څنګ کښې د فښتے،

سلنګ او هیګل یادونه کړي دي - ارباب صاحب خدائے خبر چې د کومو معلوماتو

په رڼا کښې د زرتشت فلسفه چیني یاده کړې ده - ځکه چې نهٔ خو دغه

عالم چیني وو او نهٔ یې اثرات په لویه پیمانه چین ته رسیدلي دی. البته

د منځني ایشیا سره د تعلق لرلو په وجه دچین په سنکیانګ او خاصکر

کاشغر کښې چرته چرته د زرتشت د اثراتو اثار موندې شي .

په مسلمانانو فلسفیانو کښې سهروردي او مولانا جلال الدین رومي یادوي چې روحاني شخصیتونه دي خو د عمر خیام ذکر نهٔ کوي ځوک چې د بشپړ تخلیقي شخصیت سره سره سائنسدان او فلسفي هم دے . کېدے شي چې دغسې سهواً شوي وي ځکه چې نهٔ خو عمر خیام د نظر انداز کولو دې او نهٔ ورسره د ارباب صاحب د څهٔ اختلاف امکان ښکاري . البته دیورپ د اکثرو معتبرو فلسفیانو او سائنسدانانو د ذکر باوجود یې هم د کارل مارکس ذکر نهٔ دې کړې حالانکه د نولسمې صدۍ تر سرخط لاندې یې د دغه پېړۍ د طبعي او کیمیائي ترقي په څنګ کښې د فښتې ، سلنګ ، هیګل او نورو فلسفیانو ذکر کړې دے . حالانکې ارباب صاحب د دغه نوم او فلسفي سره ناآشنا نهٔ دے . په خپل کتاب د " اقتصادیاتو خلاصه " کښې د هغهٔ په قدر زاید خبره کړے ده . دیادو شوو سهواً یا قصداً راغلو کمو نه علاوه په دغه کتاب کښې ډېر یاد شوي فلسفي او پوهان ذکر او فکر نیمګړې دے شاید چې د ډېر اوږد تاریخ رانغاړلو او ډېرو فکرونو رایوځائے کولو له کبله دغه نیمګړتیا راغلي وي .

خو! د دغه کمو او نیمګړتیاکانو باوجود هم د خپلې موضوع او معلوماتو په حواله دغه کتاب په پښتو کښې د ستائنې وړ ییک دے .

د اقتصادیاتو په موضوع په پښتو کښې د کتابونو شمیر ډېر کم دے . اګرچې په افغانستان کښې په دغه حقله یو شمیر لیکونه شوي دي .

خو! هغه اکثر د مختلفو جماتونو د طالبعلمانو د زده کړې په غرض لیکلي شوي دي . په دغسې کتابونو کښې د موادو د تحقیق په ځائے د ترتیب

خیال ساتلی شوي وي . زما د معلوماتو ترمخه په پښتو کښي په دغه موضوع د یادوني وړ اثار څه داسي دي .

د محمد نادر ایوبي "اقتصادي نظریات" د دري ټوکه . افغانستان چاپ)

د ارباب سکندرخان خلیل "د اقتصادیاتو خلاصه (۱۹۸۰ ، پېښور چاپ)

د جلات خان حکمتي په زیار او سریزه "د پښتنو ټولنیز اقتصادي جوړښت د ثور تر انقلابه" افغانستان چاپ)

د محمد ابراهیم عطایي " خیل او وېش" د افغانستان چاپ)

اګرچي په نظریاتي لحاظ د محمد نادر ایوبي یاد شوی اثر هم ډېر مهم وي خو د دغه نظره د ارباب سکندرخان ټیک د ډېري یادوني وړ دے . ضروري اختصار جامعیت ، د ژبي رواني او د موادو په زړه پوري ترتیب هغه صفتونه دي چي دغه کتاب یي د ستاینې جوګه کړي دے . بنیادي خبره یې په سرمایه داره سوشلزم ، قدر او زاید قدر کړي ده خو د موضوعاتو د وضاحت او تاریخي پس منظر ښکاره کولو د پاره یې په مختلفو اقتصادي نظامونو او معشیتونو خبره کړې ده .

د پخواني هند او یونان معیشتونه یې یاد کړي دي . په تاریخي ترتیب یې د یو شمېر شخصیاتو په اقتصادي نظریاتو خبره کړي ده . د قدر د نظرے تعریف او تاریخ یې رابرسېره کړي دے . د دغه مهمي موضوع د سرچينې یادولو سره سره یې د دې کمي په ګڼنه کړي دي .

د ادم سمتھ او ریکارډو د اقتصادي نظریاتو ګڼ اړخونه یې رابرسېره کړي دي . د کارل مارکس په "قدر زاید" د خبري کولو نه وړاندې یې د هیګل جدلیات څېړلي دي او په اخره کښې یې د نوي اقتصادي نظام

خبره کړې ده . دغه نوي نظام د نوي سائنسي معلوماتو او تکنیکي بدلونونو اغېزه
چپله کړې ده . په دغه کتاب کښې د اقتصادیاتو د پوهانو د رانقل کړې شوې
نظریاتو د اندازِ بیان سره اختلاف کېدې شي خو په دې کښې شک نهٔ شي
کیدې چې لیکوال په ډېره خوبۍ او روانه ژبه کښې ډېرګران موضوعات په
ډېره اسانه طریقه او جامع ډول بیان کړي دي .

د پښتنو د ټولنیز ژوند د اقتصادي حالت په حواله د جلات خان
یادشوې اثر د یادونې جوګه کتاب دے .

دیوې ټولنې د اقتصادي جوړښت په حقله د څهٔ لیکلو په وخت د
هغې ټولنې د پېداواري قوتونو، پېداواري آلاتو، پېداواري رشتو، پېداوار
مارکېټونو او خلقو کښې د څیزونو د اخستو توان په نظر کښې نیوې شي .

خو! په دغه کتاب کښې زیات ځائے د پښتنو دودونو، دستورونو
عبادتونو او دغه رنګ نورو خبرو له ورکړې شوې دې .

د اقتصاد په حقله سرسري او عمومي خبرې شوې دي . د ایشیائي ژوند
او حالت په حقله د کارل مارکس د لیکونو حوالې راوړې شوې دي .

خو! په دې خبره نهٔ ده شوې چې دغه لیکونه د نننۍ ایشیائي ژوند
سره څومره سمون خوري او نهٔ دا په تخینه کړې شوې دي چې دهغه وخت د
نورو ایشیائي قومونو او وګړو او پښتنو ترمنځه کوم کوم اقتصادي فرقونه
وو او یا دا چې دهغه وخت اوس ترمنځه د پښتنو اقتصاد څومره سفر کړې
دے . د دغه سفر شکل او ماهیت څهٔ دے .

د اقتصاد او سیاست ترمنځه تړون په تخینه کول ښهٔ خبره ده .

خو! د اقتصاد په حقله شوې لیک اول د اقتصاد د اصولو، ضابطو

او قوانینو پابند پکار دے او بیا ئې په بل ترون او تعلق خبره پکار ده - دغسې

د مارکس په نوم اخستو یا د هغه ډیکونو په حوالو رانقل کولو هیڅ ډیک مارکسي

کېدې نهٔ شي - د مارکسي نقطه نظره پېداواري آلاتو، تعلقاتو او قوتونو

ته په جدلیاتي نظر کتے شي - خو په دغه کتاب کښې د دغه نظر رښانه

ښکاري - د پښتنو قبیلو او مختلفو علاقو د اقتصادي جوړښت او ژوند ژواک

ترمنځه ډېر فرقونه دي خو لیکونکي په دغه هر څهٔ ډېر زغلند تېر شوے دے.

په لوړو ژورو او غرونو سمونو کښې هیڅ فرق نهٔ دې کړے -

نو! بیا هم د تحقیق هغه طالبعلمان د دغه کتاب نه ډېر څهٔ ترلاسه

کولے شي څوک چې په پښتو ادب کښې د پښتنو د دود دستور، سیاست او اقتصاد

اغېزه لټوي -

ابراهیم عطائي په خپل یاد شوي ډیک کښې بنیادي خبره په شیخ مِلّي

دفتر کښې کړي ده - هغه عوامل ئې څېړلي دي چې کومو د دغه وېش د منځه وړے

دے - د شیخ مِلّي دفتر په لیکلي صورت کښې تر اوسه نهٔ دے ترلاسه شوے - خو

په عملي ژوند کښې تر مودو مودو ځینو پښتنو قبیلو خپل کړے وو - او په ځینو

ځایونو کښې تر اوسه اثرات لري -

د اقتصاد سره سره یو شمېر کسانو په سیاسي موضوعاتو هم په پښتو

کښې کتابونه لیکلي دي چې په هغې کښې د محمّد نادر ایوبي سیاسي نظریات

(د ده تهوکه) د حفیظ الله امین "انقلابي لار" " د کارګرے طبقے ګوند" د ببرک کارمل

"د ځوانانو سیاسي زده کړه" او د افضل بنګش ژباړنه " ریاست"

د نمونې په ډول یاد ولے شي - خو په دغه کتابونو کښې د سیاست په

حقله د علمي بحث یا د پښتنو د سیاسي تاریخ په ځائے د خپلې ډلې سیاسي

نقطه نظر وړاندې کړے شوے دے -

حفیظ امین او ببرک کارمل پخپلو کتابونو کښې دخپلې تجربې په ځائے خپله مشرې په نظر کښې نیولې ده . د مختلفو سرخطونو لاندې شوې یکونه اکثر د نورو ژبو د مارکسي دانشورو د یکونو پښتو ژباړنه ده .

نو! په ادبی اصنافو کښې دسیاسي ژوند او بدلونونو اثر او تاثر لټونکي ددغه کتابونو استفاده کولے شي .

د پښتنو د خاورے اصل نسل او سیاسي غورزو پرزو په حقله ددې یک په ورمبۍ برخه کښې د یادو شوو اثارو نه علاوه د عبدالحي حبیبی د افغانستان لنډ تاریخ د دپښتو ژباړنه - افغانستان چاپ؛ د احمد علی کهزاد او محمد عثمان صدقي تالیف د افغانستان پخوانی تاریخ ر د محمد یونس مژاړ، عتیق الله معروف ، غلام جیلاني جلالي او قیام الدین خادم پښتو ژباړنه افغانستان چاپ) د صدیق الله رشتین تالیف نوې څېړنه (پېښور چاپ) د حسین بخش کوثر " طوفان " د کانکو فسکي او پولنکایا " د پاکستان تاریخ " (د جمعه خان صوفي ژباړنه - افغانستان چاپ) د محمد ابراهیم عطائي . "د پښتو قبیلو اصطلاحي قاموس " (افغانستان چاپ) د ولي خان بیک "رښتیا رښتیا وي " (افغانستان چاپ) د احمد "خدائي خدمتګار تحریک (پېښور چاپ) د اکبرشاه " د ازادۍ تلاش " د عبدالاکبرخان اکبر " د روسی ترکستان او افغانستان سفرنامه " پېښور چاپ) د دوست شنواري "پښتانه کوچیان " افغانستان چاپ) د ستائنے وړ یکونه دي -

د افغانستان اکثرو پوهانو او د پښتونخوا د ځینو عالمانو دا خیال دے چې پښتانه په نسلي لحاظ اریا دي . دوئ د زرګونو کلونو راسې په دې خاوره

مشته پاتې شوي او د دوئ خاوره دلويو تهذيبونو نيکون او مسکن پاتې شوې دے - عبدالحی حبيبي ددغه فکرې دلې سرخيل دګغه په خپل تاليف " دپښتو ادبياتو تاريخ " کښې هم دغه رائې ښکاره کړې ده او په فارسي ژبه ليکلے ياد شوے تاريخ ئې هم ددغه محوره چاپېر چورلي - ددغه دلې ځينې عالمان خو ددنيا نور تهذيبونه هم دپښتنو د تهذيب په رنګ کښې رنګ يادوي او ددنيا نورې اکثرې سترګورې پرګنې هم ددې خاورې کوچيدلې بلې په دوئ کښې رښتين تر ټولو وړاندې وړاندې دے - دهغه د ياد شوي تاليف ليکونه " د تمدن زانګو " " ايلايي " " ديونان تمدن " دهغه دغه دعوې دي -

اګرچې د هغه دعوې پاخه دليلونه نه لري خو ځينو نورو پوهانو هم دغسې دعوې لرلې دي -

لکه حسين بخش کوثر په خپل ياد شوي تاليف کښې د نورو لويو لويو دعوو سره دا دعوی هم لرلے ده چې سومريان دا پښتيا ځمکه کوچيدلي دي - او د دوئ ژبه پښتو لغات لري بلکې سوميري د پښتو لغاتو " سا " او " مير " جوړه ده - سا د روح او مير د بلوونکي په معنی نن هم په پښتو کښې مستعمل دي - خو په دغه حقله بشپړ تاريخ د کهزاد ياد شوې کتاب دے - ددغه کتاب د پنځم فصل څه برخه دعثمان صدقي تاليف کړې شوې ده - په دغه کتاب کښې ددې خاورې د زړو اوسېدونکو د تاريخ ، جغرافيه معاش او ثقافت په حقله دستاسنې ور معلومات دي -

ددغه معلوماتو ترمخه د " اريا " معنی عبادت کونکي ، عقيده لرونکي او قرباني ورکونکي دي - خو په اصطلاحي ډول دغه کلمې د نجيب ، شريف بادار ، مشر ، مالک او واکمن دپاره مستعمل راغلې ده [1] -

"اوستا" دغه باختري اریاؤ کتاب دے چاچې دهند او پارس خواته مهاجرت نهٔ دے کړے او پهٔ خپل وطن کښې پاتې شوي ـ

د آریانه حدود ، وېدي سرودونه ، اوستا او ورومبي اریائي تهذيب يئې دبحث لاندی نیولي دي ـ

پهٔ معلوماتی لحاظ ددغه کتاب ټول معلومات داهمیت وړ دي ـ خو ! د ادبي نظره د"سوما" پهٔ حقله بحث ډېر مهم دے ـ پهٔ پښتو ادب کښې یوشمېر داسې اشار او اشارے موندې شي چې پوهان يې د سوما سره تړي ـ

پهٔ دې لړ کښې ددغه پښتوټپې تعبیر څهٔ داسې کیږي ـ

٥

سپوږمیه کړنگ وهه راخـــتږه

یار مې دگلو لوکوي کوتې ریبینه

دځینو پوهانو پهٔ خیال دغه "لو" د سومه دبوټي دے چې دسپوږمۍ پهٔ رڼا کښې بهٔ کېده او دغه ټپـه دهغه وخت ده چې کله بهٔ پښتنو ددغه بوټي نه مشروب جوړوو دغسې دپښتو ادب ډېر لرغوني یادیږي ـ

ددی نه علاوه پهٔ نورو موقعو هم دفوکلوري ادب ځینې اشارې دسومه پهٔ لور کښلي دي ـ

دوېدونو او اوېستا دمعلوماتو پهٔ رڼا کښې کهزاد پخپل کتاب کښې لیکي چې

" سومه یو مشروب وو چې دغرني گیاه لهٔ شیرې اوشاتو جوړېـدو بدن ته بهٔ يې حرارت ورکوو او اکثر بـهٔ د انډرانو مې رب پـهٔ نوم ورکولې شو."

پهٔ وروستو وختونو کښې دغه مشروب دوجود او روح دقوی کولو

سره سره د شړو او بلاګانو د مخ نیوي دپاره هم په کار راوستي شوي.

د دغه مشروب اصل "ګیاه" هم د "سومه" په نوم یادیده - اریایي ښځو او جینکو به د دې ګیاه سپینه یا زیړ بخنه شیره د سپوږمۍ په رڼا او وړانګو کښې د غرو په لمنو کښې ټولوله -

د اوبو، شاتو او شودو سره په ګډون به ئې ورځنې یو مفرح او خوشحالي ورکونکي او صحت خوښونکي مشروب جوړ وو - د مذهبي رسمونو د اجراء کولو په وخت کښې به ئې د ارباب و انواعو په نامه نذرکول. زیاتره به د شریفې طبقې سړو دغه مشروب څښنه.

په اریائي خدایانو کښې یو "رب" هم د سومه په نوم یادیږي. دغه رب په اریائي ژوندون او آئین کښې مهم رول لوبولے دے - دغسې د وخت سره سره دغه مشروب "رب" شوے دے - په اوستائي وخت سومه ته هوما ویلې شي.

په اوستا کښې یو کامل پښت "دهوم پښت" په نوم دې ته سپارلے شوے دے د ریګوید په سرودونو کښې نهم جز د سومه د مناقبو او ستائنې دپاره وقف دے - د دغه کتابونو د یوې قیصې مطابق دغه ګیاه سینا نومې مارغه د آسمان نه راوړې وه او د دغه علاقې په لوړو غرونو کښې غوږزولې ده - دغلته به شنه کېدله - په اوستا کښې د دغه ګیاه د شنه کېدو ځایونه مفصل خودلې شوي دي - سر اورل او ډارمستېټر پخپلو مقالو کښې دغه لوړ غرونه د هندوکش غرونه، سپین غر، د پروان او تیراه غرونه یاد کړي دي.

دغسې په دغه کتاب کښې د دغه ګیاه او مشروب په حقله اوږده

بحثونه شوي دي او کهٔ څوک د کومې پښتو ټپې، سندرې یا ادبي اثر کښې شوې اشاره په دغه لور کښې - نو دغه معلومات زه په نظر کښې اولري -

د پښتنو قبیلو په حقله د تحقیق په لړ کښې د عطائی یاد شوي اثر هم دیادونې وړ دې. نو په دغه حقله د دوست شنواري "پښتانهٔ کوچیان" زیات مهم اثر دې -

په دغه وړوکي کتاب کښې د پښتنو کوچیانو د ژوند ژواک د مختلفو اړخونو په حقله د قدر وړ معلومات راغونډ کړې شوي دي - د دغه معلوماتو ترمخه د کوچیانو دوه لوئ څانګې "دراني کوچیان" او "غلزي کوچیان" دي. دده د شمېر، سیمو، تګلارو، دودونو، دستورونو، معیشت او معاشرتي ژوند په حقله ئې بحثونه کړي دي - دده په څنګ کښې ئې د کوجرو او بلوچو کوچیانو یادونه هم کړي دي -

د کتاب په وروستو څو کښې ئې د کوچیتوب په اصطلاح او ډولونو خبره کړې ده - د پښتنو کوچیانو د مختلفو ډلو حالت او چلوې ئې بیان کړي دي - د افغانستان په اقتصادي ژوند ئې د دوی اثرات را برسیره کړي دي - د دوی د موسمي بازارونو په رنګونو او ډولونو ئې خبره کړې ده - د دوی د جغرافیائي شرائطو سره سره ئې د هغه اړیکو ذکر کړي دي کومې چې د دوی او نورو کلیوالو ترمنځه دي - د دوی د غم ښادۍ په دستورونو، دود رواج او توهماتو ئې معلومات راغونډ کړي دي -

د پښتو اولسي ادب په څورونه کښې ئې د دوی برخه یاده کړې ده - د ادب د نظره دغه د کتاب د ټولو نه مهمه موضوع ده خو د دغه کتاب ترټولو کمزورې نیک هم دغه ده - بناغلي محقق نهٔ خو د هغه سندرو نمونې

رانقل کړي دي کومې چې دديّ ديو ځائ نه بل ته رسولي دي بلکې د دوئ ځانګړې سندرې يې هم نظر انداز کړي دي او هغه سندرې يې هم نهٔ دي يادې کړي کومې چې د دوئ په ژوند پورې غېر کوچيانو جوړې کړې دي. يکوال داخبره هم هېره کړې ده چې د اولسي ادب نه علاوه د پښتو په نورو اصنافو لکه ناول، افسانه او ډرامه هم د دوئ ژوند ژور اثرات غورزولي حتی چې پښتو ژبه يې هم ډېره متاثره کړې ده - ډېر تکې، محاورې اړونه، دوړې او قصې دوي ديو ځائ نه بل ځائ ته اوړي دي.

د پښتنو په علاقه د ه‍‍ېښو شوُو واقعاتو او پاکستان جوړېدو بحقله کنکوفسکي په خپل ياد شوي اثرکښې د کانګرس پارټۍ نقطه نظرخپل کړې دې کهٔ هغه د تحريک خلافت په حقله وي او کهٔ د خدٔ بلې واقعې په حقله حتیٰ چې کوم ځائ مارکسي نقطه نظر خپلوي نو هلته هم ټړوځي -

دهندوستان دمسلمانانو د سوداګرو اوکاروباري خلقو ډله ورسته د

مسلمانانو لويه بورژوازی ښکاري.

پهٔ دغه موضوع ولی خان پهٔ خپل اثر (انګريزي ژبه) کښې دواقعاتو دځرنګوالي او پهٔ هغې د مختلفو کسانو د رايو اوروپو پهٔ حقله دستاويزي ثبوتونه راوړي دي دهغهٔ دسياسي مقصدونو او نقطه نظرسره هرڅوک د اتفاق او اختلاف کولو حق لري خو دهغهٔ رانقل کړي دستاويزي ثبوتونه د واقعاتو دځرنګوالي پهٔ حقله معلومات وړاندې کوي - ديونيورسټي بک ايجنسي پېښور لهٔ اړخه خور شوي داحمد ياد شوي اثرهم پهٔ ځينو واقعاتو ډېره ښهٔ رڼا اچوي -احمد نهٔ محقق دې ، نهٔ مورخ او نهٔ سياسي مبصر خو پهٔ دغه واقعاتو کښې دعملي ګډون پهٔ حواله دتحقيق کونکو دپاره باوري سند کېدې

شي -

د هندوستان او پاکستان دجوړېدو نه وړاندې چې د پښتونو په علاقه کښې کوم واقعات شوي دي د هغې په حقله په پښتو او نورو ژبو کښې لیکونه شوي دي څو په دغه لیکونو کښې تر ټولو زیات اهمیت د بدرشو د اکبر شاه یاد شوې کتاب لري - دغه سیاسي سفرنامه ده - د سفرنامې لیکوال په کال ۱۹۱۹ء کښې دافغانستان د استقلال په جنګ کښې د برخې اخستو په غرض د کالج د څو نورو ملګرو سره افغانستان ته تللے وو - د هغه ځایه بلخ ، بخارا ، سمرقند ، تاشقند ، ماسکو ، باکو ، قفقاز او ایران ته د تلو نه پس په ۱۹۲۲ء کښې وطن ته واپس راغلے وے - په دغه کتاب کښې د افغانستان ایران ، ترکي او پخواني سویت یونین د مهمو سیاسي واقعاتو او حالاتو بیان د خبره ښکاره کوي . چې د هغه وخت لوئې استعماري طاقت انګریز د دې علاقې د ملکونو او قومونو په حقله څه پالیسي لرله او په پښتون پوهان هغې ته څنګ کتل - د پښتنو د وطن د ښېښو ذکر ئې هم د دې خاورې او خلقو په حقله د انګریز پالیسۍ او رویه په ډاګه کوي -

په دغه حقله د هغه د یو بل ملګري عبدالاکبرخان یاد شوې لیک هم مهم حیثیت لري - هغه هم په جهاد کښې د برخې اخستو په غرض د کوره وتے وو خود انور پاشا سره په غزا کښې د شاملېدو د پاره روسي ترکستان ته لاړ - په دغه سفر کښې ئې د هندوستان د آزادۍ د مشهورو مشرانو اېم - این - رائے مولانا برکت الله او عبدالرب برق سره ناسته پاسته اوشوه - د هغه ځایه واپس د هرات او قندهار په لار کابل ته راغلو هلته د مولانا عبیدالله سندهي سره د لیدو کتو نه پس په ۱۹۲۲ء کښې د

پښتون مبارز او مجاهد حاجي صاحب ترنګزو خواله د مومندو غازي آباد ته ورسېدو او دخپل وطن د آزادۍ دپاره ئې په مبارزه کښې پوره پوره برخه واخسته - ددغه تجربې په بنیاد هغه په ورستو وختونو کښې دانجمن اصلاح افاغنه او خدائي خدمتګار تحریک دمشرۍ پګړۍ په سر کړه -

ددغه دواړو سفرنامو لیکونکي مبارزین نامتو پښتانه پوهان او لیکوال وو - دوئ ددغه سفر د تجربو نه ډېر څه زده کړه - دغه زده کړې د پښتنو سیاسي او اصلاحي تحریکونو او پښتو ادب ته ډېر څه او بخښل - د پښتو ادب په مختلفو اصنافو کښې تر دې وخته ددغه زده کړې اغېزه لیدے او محسوسیدے شي -

***

د پښتو پیاوړو ، قهرمانانو لیکوالو او شاعرانو په حقله د ځینو لیکلې
ژباړلې او ترتیب شوې کتابونو پېژندګلو څه داسې ده -

د عبدالروف بېنوا " پښتو روزنه " (کابل چاپ) دامیر کوروړنه تر
امان الله خان پورې د پښتنو پیاوړو قهرمانانو یادونه لري -

"د افغانستان نومیالي" (څلور ټوکه کابل چاپ) دګڼ شمېر افغانانه
مشرانو لیکوالو او شاعرانو په حقله سرسري معلومات لري -

"اوسني لیکوال" (درې ټوکه کابل چاپ) د روان دور د پښتنو لیکوالو
تذکره لري -

د بناغلي بېنوا دغه درې واړه اثار په تذکراتي ډول لیکلي شوي او
معلومات یې سرسري دي خو د دومره ګڼو کسانو یو ځای یادونه سرسري
کېدې شي - په دغه بېلو بېلو اثارو کښې د ځینو شخصیتونو په حقله
تکرار هم مناسب نه ښکاري خو د دغه کمزورو باوجود د دومره ګڼو
کسانو په حقله معلومات راغونډول ، یو ځای کول او محفوظول د ډېرو لو
خواري نه ده -

د همېش خلیل " ورکه خزانه " (پېښور چاپ) د یو شمېر داسې
پښتنو شاعرانو او ادبي اثارو په حقله تذکره لري چې تر دغه وخته
په عمومي ډول نه شو پېژندل -

د حبیب الله رفیع " ادبي ستوري " (کابل چاپ) د ځینو لرغونو

پښتنو شاعرانو او ليکوالو په حقله تذکرې لري . په دغه ياد و شوو کسانو کښې څه نومونه همېش خليل پخپله "ورکه خزانه" او عبدالحليم اثر په "شپږ سوه شاعران" کښې ياد کړي وو .

د کبرئ مظهري "پښتنے ليکوالے او شاعرانے" ديوشمېر پښتنو ليکوالو او شاعرانو په حقله معلومات لري چې په هغوئ کښې د ځينو تذکره تردې وړاندې نه ده شوې .

د عبداللطف طالبي ژباړنه "خوشحال خان خټک" (کابل چاپ) د خوشحال خان خټک په حقله دغه اثر دوست محمد خان کامل په اردو ژبه ليکلے او د پښتو اکېډمۍ پېښور له خوا خور شوے دے طالبي دغه اثر په پښتو ژباړلے دے .

د مولانا عبدالرحيم "جمال الدين افغاني" د افغان مشر او مذهبي عالم جمال الدين افغاني د فکري رجحاناتو او مذهبي خدماتو په حقله ليکلے شوے دے .

د ظاهر شاه خان ژباړنه " د چترال معرکه " د نامتو پښتون مشر او جرنيل عمرا خان په حقله دغه کتاب - ايچ - سي - تهامس په کال ۱۹۸۵ء (THE) په نوم ليکلے او ظاهر شاه خان په پښتو ژباړلے دے .

د غني خټک ژباړنه "حضرت باچا خان" د پښتون مشر، اصلاحي شخصيت او سياسي رهبر خان عبدالغفار خان د خدماتو د اعتراف په توګه د امريکې او سيد ونکي ايکناف سواران " د مېن ته ميچ هزما ونهتنر " په نوم کتاب ليکلے - غني خټک په پښتو ژباړلے او د پښتو ادبي سوسائټي

اِسلام آباد لهٔ اړخه خور شوې .

د عبدالرحمٰن لوګي " ذهٔ او حمزه " د حمزه سره د خپل تړون او تعلق په وجه لوګي د هغهٔ پهٔ ژوند د هغهٔ پهٔ حقله کتاب چاپ کړو. پهٔ دغه کتاب د لوګي د خپل ليک سره سره هغه د نورو داسې يو شمير کسانو ليکونه راغونډ کړي دي . چاچې د ياد شوي شخصيت سره پېژندګلو لرله .

د ذدين انځور " د ذخيرونو شاعر " د لرغونې پښتون شاعر اشرف خان هجري د شعرونو مجموعه چې بناغلي انځور پرې علمي ليک کړې.

د اکبر کرکر " غني د شکو پهٔ محل کښې " (کابل چاپ) پهٔ دغه کتاب کښې کرکر د غني خان پهٔ حقله د خپل ليک سره د هغه د شعرونو نمونې او نورو څو پښتنو ليکوالو ليکونه پهٔ ګډه چاپ کړي دي . د کاکړ د خپلې وينا مطابق هغه د دغه کتاب څهٔ نيمګړتيا کانې پهٔ خپل هغه ليک کښې پوره کړي دي کوم چې د " څو ادبي يادونې " پهٔ نوم د کابل نه خور شوې دي . د دغه کتاب کومه برخه چې پهٔ معلوماتي لحاظ کمزورې او د موضوع نه خوښېدلې ښکاري . هغه د کوکړ خپل ليک دې . د دغه د ورستي کتاب ورستي يادونې دي . کرکر عالم دې ، خوارى کښ دې او د غني خان سره مينه لري .

خو ! پهٔ دغه موضوع د هغهٔ ليکونو ښکارې چې د هغهٔ د شاعرۍ موضوعاتي رنګ او فني خوند ته نهٔ دې رسېدلې .

د زبير حسرت پهٔ ترتيب " د داکټر آمين ژوند او فن " (د مردان نه خور شوى) پهٔ دغه کتاب کښې هغه مقالې او مضمونونه ترتيب کړې

شوي دي څهٔ چه دهغهٔ پهٔ حقله دهغه یو شمیر دوستانو لیکلی دي - دیو تن دوو نه علاوه نورو ټولو لیکوالو پخپلو لیکونو کښې دتحقیق خواری نهٔ ده کړې - پهٔ خصوصي دول دنورو ژبو حوالې غلطې رانقل کړې شوې دي.

دډاکټر اقبال نسیم خټک "دردانې" او "د رنګ او بو قافله"

دردانې دهغه مقالو مجموعه ده کومې چې داوسني دور دیو څو نامتو شاعرانو په حقله لیکلي شوي دي.

"د رنګ او بو قافله" دځلورو لرغونو پښتنو شاعرانو د ژوند او فن پهٔ باب بحثونه لري.

د م ر شفق په ترتیب د قلندر مومند فن اوشخصیت" (دپښتو ادبي سوسائټي اسلام آباد له اړخه) پهٔ دغه یادشوي اثر کښې د قلندر مومند دلیکونو او خدماتو پهٔ حقله مقالې، مضمونونه او نور لیکونه دي او پهٔ اخري مخونو د قلندر مومند لهٔ اړخه دغني خټک دسوالونو جوابونه دي.

داسماعیل یون "استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری" (لاهور چاپ) دعلامه سید جمال الدین افغاني فرهنګي ټولنې له خوا خور شوې دغه کتاب دپښتون ژب پوهان ډاکټر مجاور زیار دادبي خدماتو او لیکونو په حقله لیکلي شوي دي.

دتحقیقاتي زیار لهٔ کمي او تذکراتي اندازلهٔ کبله یادشوي اکثر کتابونه بحث غواړي - خو کهٔ دغسې اوشي نو دموضوع دیووالي لهٔ کبله به پهٔ بحث کښې دیکرنګي او بې ځایه اوږدوالي امکان پیدا کیږي. لهذا دغه څو کتابونه به دنمونې پهٔ ډول اخستل مناسب وي.

د ډاکټر اقبال نسيم خټک " دردانې " هم د بحث ډېر ګنجائش لري نو د هغوی د رنګ او بو قافله " ذيات مهم اثر دے . په دغه کتاب کښې د نامتو لرغونو شاعرانو عبدالحميد ، کامګار خټک ، کاظم خان شيدا او علي خان په حقله څلور مقالې دي .

د ليکوال په خپل خيال " په دې مقالو کښې تحقيق تنقيد هم شته ، تدريسي ضرورتونه هم او د ليک معيار هم شته " .

د کتاب د نوم دپاره د کاظم خان شيدا د شعر يو اصطلاح غوره کړې شوې ده . شعر څه داسې دې . ـه

دغنچې د رباط وريـه واکيـدۀ دے
قافله د رنګ وبُو دروې صبا شـه

ليکوال د خپله ارخه ديو " ل " په ورزياتولو دغه اصطلاح د خپله طرفه پښتو کړې ده . د دغه مقالو دپاره په موادو راغونډولو کښې خوارې شوې ده - خو د کهنو او اوږدو اقتباساتو رانقل کولو ، د شاعرانو د زيات شمير شعرونو رانقل کولو ، د هغوی د شاعرۍ په مختلفو اړخونو کښې شمېره صنعتونو او اصطلاحاتو د استعمال په حقله بحثونو او شعري حوالو د دغه ليکونو رنګ وبو کمزورې کړې ده .

د پښتو شاعرۍ په تاريخ کښې د لوی نوم ناموس د خاوندانو په حيثيت ديادو شوو کسانو په حقله کښو کسانو ليکل کړی دي نو د دوی په حقله د څه ليکلو په وخت د هغه ټولو ليکونو نومونې رانقل کول ضروري نهٔ دی - هر څوک د خپلې موضوع مطابق د ضروري ليکونو نمونې يادوی . خاصکر هغه چې يا د ليکوال رائے درنوی او يا ورسره اختلاف کولے شي . زمونږ

د ټولو لرغونو شاعرانو موضوعات روماني ، اخلاقي ، مذهبي او صوفيانه دي

خو د چا په کلام کښې ديوې موضوع غلبه ده او د چا په کلام کښې بله موضوع

زياته راغلې ده. دغسې هر شاعر زلفې ، مژګان ، رخسار .... صبر ، قناعت

همت ستائيلي دي . که د هغوئ په حقله ليکونو کښې په دغه حقله د هغوئ

ټول ليکونه رانقل کولې شي . يا د دغه ټولو اصطلاحاتو ذکر کيږي يا د

هغوئ ټول راوړي شوي شعري صنعتونه يادولې شي نو بيا خو به د هغوئ

غونډ غونډ ديوانونه رانقل کيږي .

ډاکټر صاحب زما استاد دې . ډېر زيات خواري کښ او تجربه کار ليکونکې

دې . ما د پاره د هغوئ ليکونه او وينا ګانې د زده کړې باعث وي خو که

هغوئ ديو ځانګړي سرخط لاندې د دغه ټولو وارو شاعرانو په موضوعاتو

شريک ليک کړې وې او د بل سرخط لاندې ئې د هغوئ د شعري محاسنو په حقله

ليکلي وې . او داې ښکاره کړې وې چې په دوئ کښې کوم شاعر دغه موضوع

څنګ شعر کړې ده . او دغه صنعت ئې څنګ استعمال کړې دې په دغه حقله

ئې د هغوئ منتخب شعرونه رانقل کړي وي نو د بې ځايه اوږدوالي او تکرار

مخ نيوې به ئې کړې وې .

د عبدالحميد ماشووال د ژوند په حقله د ډېر راوړتي ، عبدالحي حبيبي

رښتين او افضل خان حوالې اوږدې دي . خو د اوږدو حوالو باوجود په دغه

حقله څه نوې خبره نشته . دومره ويئل د حساب ډېر اسان سوال دې چې د

سنه ۱۰۸۰هـ او سنه ۱۱۵۰هـ ترمينځه به د دغه عمر شاو خوا اويا کاله وو.

دغه رنګ دادعوې هم د حميد د شاعرۍ او علم د تاريخ سره سمون نه خوري.

چې په ۱۱۲۳هـ کښې به هغه د پنځوسو کالو په عمر کښې وو ځکه چې د جمال خان

او عیسیٰ خان د تاریخي واقعې ذکر یې په جامع ډول کړی دی او دغسې جامع او پوخ بیان د کم عمره شاعر کار نهٔ شي کیدی[9]۔

کهٔ د حمید دیوان په غور اوکتے شي نو په دغه واقعه لیکلی شعرونه د دغه په منتخبو شعرونو کښې نهٔ شي شمېرلې کیدی اوکهٔ فرض کړه څوک یې اوشماري ۔ نو د علم د تاریخ نه ثابته ده چې اکثرو عالمانو د څلوېښتو کالو په عمر کښې لوی علمي کارنامې ترسره کړي دي ۔ دغه وخت د انساني ذهن د کارکولو صلاحیت په عروج کښې وي ۔

د علي خان د ژوند او قبیلوی شناخت په حقله د مختلفو لیکوالو د متضادو رایو او رویو رانقل کولو باوجود د هغې تحلیل او تجزیه نهٔ ده شوې حالانکې په دغسې حالاتو کښې لیکوال دیوې حتمي رائے څرګندولو یا نوې رائے جوړولو په خاطر د تحلیل او تجزئے نه کار اخلي ۔

د علي خان قبیلوي شناخت متنازع دی لیکوال په دغه حقله د مخالفو ډلو د لیکونو او ږدو اقتباسونه رانقل کوي ۔ د یوے ډلے د سرخیل عقاب خټک دلیل لاجوابه ، منطقي او وزني بللے[10]۔

خپله دیو شعر په تشریح کښې دا شک ښکاره کوي چې کیدی شي شاعر دا د خټکو د علاقې نه د خیل هجرت په حواله لیکلي وي[11]۔

دغه شک د هغه د لیکلو مرثیو په باره کښې هم ښکاره کوي چې کیدی شي دائے د سهیلي سیمو د خټکو د نوابانو سعادت خان او رسول خان په حقله لیکلي وي څوک چې د سنه ۱۱۸۰ھ او ۱۲۰۰ھ ترمنځه تېرشوي او په جنګونو کښې مړه دي[12]۔

د تحقیق د اصولو د رویه وزني ، منطقي او لاجوابه دلیل د منلو وړ دي۔

د عقاب خټک دلیل دیکوال په وینا دغه مقام ته رسید لے دے او هغه
په دې کلک ولاړ دے چې علی خان خټک دے ۔ دیکوال خپل شکونه هم په
دغه لوړ کاږه دي ۔ خو په آخر کښې د څهٔ بحث نه بغیر دیکې یو خارجي
دلیل په بنیاد هغه نه ممنزے وائي او دلیل هم د قنبرعلي یو شعر دے ۔
زهٔ خپله علي خان د هشنغر او سید وښکي منم په دغه حقله د عقاب خټک دلیل
او د اقبال نسیم خټک شکونه وزني او منطقي نهٔ منم ۔ خو په دو مره
مهمه موضوع یو شعر کله هم د اعتماد بوګه دلیل نهٔ ګڼم او بیا د دغه
شعر وجود خپله هم شکمن دے ۔

عبدالحلیم آثر د مردان په مجله " قند " کښې په خپل یو کښې د
علی خان د زیګون کال ۱۱۸۰ھ یادوي ۔ دخپلې رائے په دلیل کښې د هغه دغه
مصرعه وړاندې کوي ۔

" سن د هجر غرو و سر د کاڼي ترے کمند وو "

د عالمانو په خیال د ابجد و په حساب غر په ۱۲۰۰ او ک په شلو
حسابیږي ۔ هر کله چې د غر یعنی ۱۲۰۰ نه د کاڼي سر یعنی ک = ۲۰ کم شي نو ۱۱۸۰ھ
شي ۔ خو قلندر مومند د صاحبزاده محمدي په دیوان لیکلې مقدمه کښې دغه
شل ورجمع کوي او دا وائي چې دغه شعر د صاحبزاده د مړینې په کال ۱۲۲۰ھ
د هغه د مړینې په مناسبت سره لیکلې دې[13] ۔

نسیم صاحب دغه تحویل په ځائے بلي ۔ سړی نهٔ پوهیږي چې قلندر صاحب
دغه منفي څنګه په جمع بدلوی او یکوال یې ولے په ځائے تحویل مني ۔ او
که دغه په ځائے مني نو بیا یې د علی خان د زیګون د کال په حقله څهٔ خیال دې؟
د علی خان یو بل غزل هم متنازع دې ۔ د دغه غزل په حقله هغه بخپله

یوه مصرعه کښې وائي .

" چې په نیت دصاحبانو د زیارت لاړ "

نوصاحبان ئې نهٔ دي ښودلي . دربښتین صاحب په خیال ئې دغه شیخ رحکارسره د عقیدت په خاطر زیارت کاکا صاحب ته لیږلي وو . دمیان تقویم الحق کاکاخیل په وینا ئې صاحبزاده محمدي ته لیږلي دي .

نو: بیکوال د دواړو رایو رانقل کولو باوجود په دغه حقله هیڅ نهٔ وائي. حالانکې د علي خان د قبیلوي شناخت په لړکښې دغهٔ دپیرخانے تعین ډیر ضروري دي ځکه چې خټک خاص کر د خوشحال خان خټک دکورنۍ غړي د شیخ رحمکار عقیدتمند پاتې شوي دي او د هشتنغر اوسید ونکي خاصکر محمدزي د ټوکنو د میاں عمرصاحب دکورنۍ عقیدتمند راغلي دي . البته د میاں تسنیم الحق د دغه رائے سره اختلاف ښکاره کوي چې کښې علي خان دغه د صاحبزاده محمدي په غزل تضمین کړې دې . بیکوال د علي خان د مرثیو چیل تحویل هم کړې دې په دغه حقله ئې د سویلي خټکو د نوابانو ذکر کړې دې نو دعبدالحلیم اثر دعویٰ هم رانقل کوي . دکومې ترمخه چې سعادتمند ، حبیب الله ، رسول خان او فیض الله خان د تنګي او شیرپاؤ د اولس ترمنځه د زمکې د تنازعے په جنګونو کښې شهیدان شوي دي . او د ټوکنو د میاں عمرصاحب په مریدۍ کښې د شراکت په وجه ئې علي خان مرثیے لیکلي دي که د اثر صاحب دعویٰ درسته وي نو بیا د بیکوال شکونه بےځایه دي او که دغه دعویٰ کمزوري وي نو بیا ئې په کمزورتیا خبره پکار وه .

دغسې ښاغلي بیکوال د میاں صاحب داخبره ډیره اهمه ګڼي چې هوس خان د سوات د خوزي خیلو د قبیلے سردار وو او په جنګ کښې شهید شوې وو .

علي خان يې مرثيه ليکلې ده ځکه چې که دغه جنګ تعين اوشي نو دعلي خان دزمانې تعين هم په اسانه کېدې شي .

خدائے خبر چې ياد شوې سردار به په کومه غزا کښې شهيد شوي وي. تقويم صاحب ياد کړې خو تعين يې نه دې کړې . نسيم صاحب مهمه واقعه بللې خو په دومره اوږدۀ مقاله کښې متعين کړې نه ده . دغه ذمه واري په کله اوڅوک تر سره کوي او بيا دعلي خان دزمانې په تعين کښې به څه لاس اولري . دهغه دزمانې دتعين دپاره خو دهغۀ ددیوان دننې او کن شمېرۀ خارجي شهادتونه پوره دي . دغه تعين به دهغه په حقله کېدونکي ليکونو کښې دومره خبره زياته کړې چې دغه وخت هغه يو عاقل بالغ شاعر وو .

په دغه کتاب کښې دکاظم خان شيدا اوکامګار خټک په حقله ليکونه دمعلوماتو اوبحث په حقله دقدر وړ دي . دکامګار خټک دشاعرۍ د موضوعاتو ، مضامينو او محاسنو اوږدې حوالې او نمونې که يو خوا ته کړې شي نو دهغۀ په ژوند اوفن شوي بحث دستائنې وړ دې په دغه ليک کښې دليکوال نظر او انداز ديو بالغ اوتجربه کار محقق دے .

دقلندر مومند په حقله دشفق دترتيب شوي کتاب څه مواد هم دبحث وړ دي . په دغه کتاب کښې دقمر راهي رانقل کړې شوې وړوکې غونډې يک دواقعتي تجزيے بهترينه نمونه ده .

دتقويم صاحب يک دتجربے او دوستۍ دوارو په خوږو خوږ دې .

قاسم مظهر پخپل يک کښې لوستونکي دشلمې صدۍ ددې لوې واقعې نه خبر کړي دي . چې ډېر پخوا قلندر مومند دهغوئ دکلي زيارت کاکا صاحب په يوه

مشاعره کښې معیاري نظم اوروڼي وو -

ایاز داوودزی د "قلندر ګجرې" تر سرخط لاندې دغه په یاده شوي افسانوي مجموعه او په هغې د دوست محمد کامل په یک خبره کړې ده - د خپلې موضوع نه چاپېر چورلیدلي او خپل موقف يې بیان کړې دی -

دم - ر شفق یک د موضوع په حقله د معلوماتو دکمي د احساس باوجود دیک رنګ او د ژبې خوند لري - یکوال په ډېر ښه او مهذبه لهجه کښې د قلندرمومند صاحب د املاء د بنیادی توکی "ه" سره خپل اختلاف ښکاره کړې دی -

یار محمد مغموم او سلطان صابر پخپلو موضوعاتو ډېر سرسری تېر شوي دي - د سید محمود ظفر مقاله د عقیدت په رنګ کښې رنګ ده -

د وزیر محمد حسرت "ښېرانه قلندر" ټول عقیدت عقیدت دی

د رومان ساغر " د خیبر و د اقلیم باچا " د ایوب صابر او قلندر مومند سره د خپل تعلق او تړ راتړ ذکر دی -

غني خټک د قلندر مومند سره پخپله مرکه کښې اکثر تپوسونه د املاء په لړکښې د بارهٔ کلن د سیمینار په حقله دي چې تپوسونه کمزوري دي او که جوابونه - خو په دغه مرکه کښې د املاء په حقله هیڅ واضح موقف نه جوړیږي -

عبدالهادي ماياړ په خپل یک " قلندر مومند د پښتو ژبې ستر محسن " کښې د هغهٔ ټول احسانات په ځاې پرېږدي او د هغهٔ په متنازع احسان متنازع خبرې کوي - د هغهٔ د املاء اصول د پښتو رسم الخط او املاء د صحیح کولو دپاره په سائنسي حقائقو بنا کښې - خپل اتفاق ورسره اعلانوي.

او نور خبروي چې انکار ترې نهٔ شي کېدې. خو د نور بحث او تحقیق ضرورت پرې محسوسوي. د دغه املا د خپلو او نهٔ خپلو په معامله کښې د نورو غوندې ما یار هم د خپلې مرضۍ خاوند دې.

خو! د دغه یېک لوستونکي د هغه نه د دې تپوس کولو حق لري چې کهٔ تا ته دغه سائنسي حقائق معلوم وو او د دغه املا منکرې هم وي نو د خپلو لوستونکو نه دې ولې پټ ساتلي دي؟ په دغه حقائقو رابرسېره کولو به ستا په یېک کښې درناوې هم پېدا شوې وې او د املا د مرستیالو شمېر به هم زیات شوې وې.

او بیا ترې د اتپوس هم کېدے شي چې کهٔ تا ورسره اتفاق لرلې دې او انکار ترې نهٔ شي کېدې نو د نور بحث پرې څهٔ ضرورت دې.

د دغه کتاب د ټولو نه ناشوني یېک د پروفېسر اسرائیل اشنا "قلندر مومند د افسانه نګار په حېثیت" دے.

پهٔ دغه یېک کښې د موضوع پهٔ حقله هېڅ نشته. جملې بې جوړه ترتیب وران او دعوې بې دلیله دي.

د موضوع پهٔ حقله د څهٔ یېکلو په ځاې اشنا د څهٔ تمهید او ضرورت نه بغېر د املا خبره کړې ده او د استاد په حېثیت ئې د هغې سره خپل مکمل اتفاق اعلان کړې دې.

اول خو د هغهٔ د موضوع د املاء سره څهٔ تعلق جوړېږي. د هغهٔ خبره خو د قلندر مومند پهٔ افسانو ده او دغه افسانې په هغه املاء کښې نهٔ دي چاپ شوي د کومې بسره چې اشنا خپل اتفاق اعلانوي. کهٔ فرض کړه څهٔ تعلق جوړېدهٔ نو پکار ده چې جوړ کړې ئې وې. د دې پهٔ جوړښت

ترکیب، اهمیت او افادیت یې علمي بحث کړي وي او بیا د اشنا نه و لے دومره زړه پړ شوي دي چې هغه په بارهٔ کلي کښې د پښتو اکېډیمي له اړخه د اِملاء په حقله شوي سمینار کښې د استاد په حېثیت شریک وو - په دغه سمینار کښې باقاعده غونډې کېدې - په دغو غونډو کښې بحثونه کېدهٔ خو دغه استاد یو ځل هم د دغه اِملاء په حقله هیڅ نهٔ دي ویلي د کومې سره چې په څلور یاد شوي یېک کښې اتفاق اعلانوي[١٩] - بلکې دغه ټولو فېصلو سره یې اتفاق لرلې دي کومې چې په یاد شوي سمینار کښې شوې دي -

استاذان خو د ټول قام او خاصکر شاګردانو د پاره نمونې وي - دوئ ته خو د ځلو فېصلو احترام پکار دي - د اشنا غونډې محترم استاذ سره نهٔ ښائي چې په بارهٔ کلي کښې د ځوې اِملاء سره اتفاق کوي او په اسلام اباد کښې د بلې سره اتفاق اعلانوي - او کهٔ فرض کړه هغوئ د بارهٔ کلي په فېصلو کښې څهٔ علمي کمزوري لیدلي وي او دغه فېصلې د پښتو ژبې د پاره کمزورې نهٔ ګڼې نو پکار ده چې د سمینار نور مبصرین او مندوبین یې هم په غوږ وهلي وې -

د څلور یاد شوي یېک په منځ منځ کښې اشنا ته نور پښتانهٔ افسانه نګار یاد شوي دي په دغه حقله یې یو داسې اوږد فهرست جوړ کړي دي چې په هغوئ کښې ډېر نوموړه د افسانې د نوم سره نا اشنا دي او اکثریې داسې کسان یاد کړي چې چرته یې یوه دوه غېر معیاري افسانې لیکلې دي - د پښتو د معیاري افسانه نګارو په قطار کښې دغسې کسان اودرول د پښتو د معیاري افسانې او افسانه نګارو سره بې انصافي ده -

د دغه فهرست نه پس د څهٔ کړنو نه بغیر اشنا د قلندر افسانوله
راغلي دي او خدائے خبر د کوم کتاب د منځه ئې دا تصوّر راوړي دي چې
ښځې تصوّر په اساسي ډول لاشعوري وي [۲۱] - او قلندر مومند په لاشعوري
طور د ژوند محبوبې ته د حقیقت تصوّر ورکوي - د ښځې د لاشعور تصوّر او
ژوند د محبوبې د حقیقت تر منځه څهٔ تعلق جوړیږي - او د روزلي، ویښ
بیدار شعور ښځینتې قلندر مومند څنګه د لاشعوري تصوّر پابند شوې
دې - د یاد شوي لیک دهرې خبرې د خندا دي -

نو ! د اخري کرښو په لوستو ئې سړی حیران شي چې د قلندر مومند
عقیدتمند پروفیسر اسرائیل اشنا د هغهٔ د "فن او شخصیت" څومره نااشنا
او بوګنونکي پیژندګلو کوي - دغه کرښې څهٔ داسې دي -

> "د پښتو دالویه خوش قسمتي ده چې قلندر مومند د چا
> هم نهٔ مني او قلندر تر دې پورې چې د وخت او حالاتو هم
> نهٔ مني [۲۲] -"

زهٔ د قلندر مومند احترام کوم د هغهٔ خدماتو ته د قدر په نظر ګورم
د هغهٔ د فن او شخصیت په حقله یو خو څه چې څو کتابونه هم نیمګړي
ګڼم خو د یاد شوي کتاب اکثر لیکونه د چاپ قابل نهٔ ښکاري - د
هغهٔ د فن او شخصیت سره هم او د پښتو ادب سره هم د انصاف کولو په
خاطر دغه لیکونه چنوول پکار وو څهٔ نه څهٔ معیار لرونکو لیکونو ته
کتابي شکل ورکول پکار وو - د لیکوالو د نومونو او کتاب د محتوٰنو په ځای
د معیار خیال ساتل پکار وو - دغسې چې د پښتو سوسائټۍ سره کوم
وسائل بچ شوي وو په هغې به ئې بل څهٔ ګټور ادبي خدمت ترسره

کړې وې - کهٔ نور څه نهٔ وې نو هم د قلندر مومند د لیکونو مجموعه به یې چاپ کړې وې -

د اسماعیل یون یاد شوې لیک د هغو لیکوالو د پاره نمونه کېدې شي څکه چې هغه د کوم شخصیت پهٔ حقله لیکي نو د هغهٔ د لیکونو نمونه موضوعات او د ولونه هم وړاندې کوي -

د لیکوال پهٔ حېثیت د ډاکټر زیار شخصیت کښې اړخونه لري هغهٔ پهٔ کښې شمېره موضوعاتو لیکل کړي دي - د دغه کبله یون هغهٔ پهٔ مختلفو برخو کښې وېشلې دې - لکه ژورنالسټ زیار، شاعر زیار، څېړونوال زیار داستان لیکونکې زیار، ژبپوهان زیار، سریزه لیکونکې زیار، مترجم زیار نقاد زیار، د دغه هر زیار سره یې د هغهٔ د لیکونو نمونه، شمېر او د چاپ د ولونه یاد کړي دي - چې پهٔ هغې کښې د څادر، کبړي، ورزش، لوبو او انځور کړي یا رنګونو نه واخله تر سیاسي بیانونو، ډپلومېټک لیکونو او تر ژب پوهنې او وې پوهنې پورې پهٔ هر څهٔ چې هغهٔ څهٔ لیکلي نو د هٔ یاد کړي -

د خپل استاذ سره د یون عقیدت پهٔ خپل ځای خو د دې خبرې سره اتفاق نهٔ شي کېدې چې د زیار د ژورنالستي ژوند پوره وجه اقتصادي ستونزې وې - بېشکه چې زیار پهٔ ډېر زیاد لوې شوې دې - خو د کومو بیانونو حوالې چې اسماعیل راوړي - هغه د یو ژورنالسټ نه بلکې د یو سیاسي مبصر وېناګانې دي - د دغه وېناګانو ورځې هغه دي چې کله هغه د یو نامور دانشور پهٔ حېثیت د لوی نوم ناموس او اثر رسوخ څښتن وو او اقتصادي ستونزې یې نهٔ لرلې -

د پښتو ژبې د طالب علم پهٔ حېثیت زهٔ د ډاکټر زیار د ژب پوهنې

قدر کوم - د هغهٔ علمي وجود د پښتو ژبې او ادب لويه سرمايه او افتخار گڼم.
خو! دا ضروري نهٔ گڼم چې هغه دې پهٔ هر څهٔ ليک اوکړي بلکې پهٔ ډېرو موضوعاتو د "هله داد" "انځورگري" کيږو، ورزش "جامو او څادر" مقاله ډېر کسان ليکلې شي - ډېر ليکلې شي او ښهٔ ليکلې شي.

"د شوروي اتحاد پهٔ شپېتهٔ کلن پيړکې دافغان شوروي د دوستۍ پرمختيا" هغه موضوع ده چې کړن کسانو پرې ليک کولې شي - حتیٰ چې د غسې اناد نظمونه او قطعي هم بېخي ډېر پښتانهٔ ليکلې شي کوم چې موصوف ليکلي دي.

خو! "گرد ودي" "ليکلار" "غږ پوهنه" "وس پوهنه" او "پښتو پښويه" ډېر کسان نهٔ شي ليکلې دغه د ډاکټر مجاور زيار د کولو کار دې.

د دربعې دنيا عالم چې د خپل نوم سره د شاعر، افسانه نگار، مترجم نقاد، محقق او دغسې د نورو خطابونو، القابونو اوږد فهرست نهٔ ويني نو ځان ورته سپک سپک اوکمزوري ښکاري.

خو! د ډاکټر صاحب نوم د ژبپوهان په حيثيت هم ډېر درونډ دے.
پهٔ پښتو کښې د ژبپوهانو ډېر زيات کمې دے او بيا داسې عالمان خو د نشت برابر دي څوک چې د ژبپوهنې د جديدو اصولو او علمي لارو چارو خبر وي - زيار دغه پوهه او معلومات لري - پکار ده چې د پښتو ژبې د تند پرمختګ پهٔ خاطر پهٔ دغه موضوع خپلو زيارونو ته دوام ورکړي او کهٔ کولے شي نو چې خپله ژبه لږه ساده کړي - ځکه چې د هغوئ اکثر نااشنا او ناشوني لغتونه د هغوئ د معلوماتو تعبير ته بندونه وهي.

★

د

پهٔ پښتو ادب کښې د تحقیق پهٔ حقله دهمېش خلیل "تول پارسنګ"
د همایون هما "د تحقیق فن" د زلمي هېوادمل "د متن څېړنې میتودولوژي"
"د پښتو د ادبي تاریخ خطي منابع" "د هند د کتابخانو خطي نسخې" د
حبیب الله رفیع "د پښتو کتاب ښود"
د صدیق الله رښتین "نوې څېړنه" "ادبي او تاریخي سموني"
د عبدالباري اشنا "ادبیات" د عبدالحسیب حلیمي "پښتو څېړنې (دوه جلده)
د هېمرمانزي جارج راورټي "ګلشن روه" د دار مستېټر پښتو څېړنې.
د پادري هیوز "کلید افغاني" پهٔ ذره پورې اثار دي. پهٔ جدون پرنټنګ
پرېس پېښور کښې چاپ شوې او د عبدالحی خان حبیبي په نوم ترلې شوې
دهمېش خلیل صاحب ذکر شوې کتاب د خپلې موضوع او متن پهٔ حواله یو
مهم تحقیقي اثر دے.

دغه اثر د قلندر صاحب دغه نیک پهٔ جواب کښې وجود موندے کوم
چې هغوئ د "پټه خزانه في المیزان" په نوم د پټې خزانې پهٔ رد کښې
لیکلے دے.

قلندر صاحب چې د کومو دلائلو پهٔ بنیاد د دغه مشهور تاریخي او ادبي
اثر د ردولو هڅه کړې ده. همېش صاحب هغه دلائل رد کړي دي. پهٔ
"پټه خزانه" د قلندر صاحب زیات اعتراضات ژبني او منطقي دي او د
همېش صاحب جوابونه واقعیتي او تاریخي دي. همېش خلیل پخپلو کلکو

مدللو جوابونو د قلندر کمزوري ثبتي اعتراضات رد کړي دي . البته دغه د اعتراضاتو منطقي اړخ يې په پوره ډول نه دي مسترد کړے شوے، بشکله چې منطق خپل وزن لري خو ضروري نه ده چې په منطقي ډول درسته خبره په واقعيتي او تاريخي ډول هم درسته وي . د منطق د دغه کمزورۍ نه د منطق استاذان هم خبر دي . کېدے شي چې همېش هم د قلندر د اعتراضاتو په دغه کمزورۍ پوهه وو او خپل جوابونه يې د تاريخ او واقعيت په حوالو جوړ کړي دي . دۀ په خپل ذکر شوي اثر کښې دا ته ويشتم څخ نه واخله تر دوه څلوېښتم څخ پورے د قلندر د ثبتي او اصطلاحاتي اعتراضاتو[42] په ذره پورې جوابونه کړي دي . دغسې يې د رحمٰن بابا د مړينې د نېټې په باب له هم د منلو وړ جواب کړے دے . اګر چې د دغه د جوابونو د پاره لږ دلائل هم پوره وو خو همېش خاخا د سخاوت نه کار اخستے دے او په اکثرو ځايونو کښې د حوالو او دلائلو شمېر ډېر زيات کړے دے .

خو: د تاريخي پس منظر او ځينو نورو سوالونو په جواب کښې په کمزورو دلائلو راوړو ، غېر متعلقه او عمومي خبرو کولو خپل علمي او اخلاقي شان برقرار نه دې ساتلے شوے .

لکه قلندر اعتراض لري چې

جيبي صاحب د دغه اثر (د پټے خزانے) د ترلاسه کولو ذريعے په بشپړ ډول نه دي خودلي .

خو په جواب کښې همېش وائي چې پښتو اکېډيمي پېښور هم په معقول رقم د ترلاسه کړي کتابونو ذريعے نه دي په ګوته کړي .[43]

قلندر سوال را پورته کوي چې

په افغانستان کښې د علامه عبدالعلي د پېژندګلو باوجود د هغه د مرګ خبر ولې خور نه شو او د هغه په مرګ يو دوه کرښې هم ولې اونه ليکلې شوې ؟

خو! په جواب کښې همېش دخپل کتاب په ۱۴۰ - ۱۳۹ مخونو وائي چې "بناغلي همعصر (مطلب قلندر مومند) خو داسې انسان په مرګ په يوه ساه درې مرثيې ليکلې شي - چې د پښتونخوا د خپلو سياسي غورزو پرزو نه پس خپله سياسي نظريه په اباسين لاهو کړي - ديو بهترين دشمن خلاف خو سياسي جهاد شروع کړي ولې د يو بل ډېر ظالم بهرني دشمن جارحيت ته هر کلې وائي - قوم د ده د وړاندې حلالولې شي - د ملت د وينو د کور د دړانډې ديالې بهېږي خو دا من د هغه فرشته هيڅ نه وائي ولې بلخه ئې خپل يو ملګرے راهنما او محسن له مرګه پس مرثيه خو ډېره لويه خبره ده - د نفرت په دوه کرښو ليکلو هم اونه ارزېده و"

مولف (د پټې خزانې مولف محمد هوتک) د هغه وخت د پنځه ډېر شرکت باوجود هم د د هغه ملي تحريک راوي خپل پلار (داودخان) کرزوي - دے په دغه ملي جنګ کښې پخپله ولې نه شامل ده و.

خو په جواب کښې همېش خليل دخپل اثر په ۲۳۱ - ۲۳۲ مخونو وائي چې . "د نبغ په نبغه شرکت په وجه ې پلار د حالاتو او واقعاتو قوي راوي وو - او ورنيا توي چې که په افغانستان د روسي جارحيت د افغان مجاهدينو او روسي فوځونو تر منځه د جنګ حالات کوم افغان مورخ د افغان مجاهدينو د کوم کماندر نه يا کوم بل شريک

شوي رهنما په روایت اوبیکي نو دے کبنې به د اِعتراض کولو آخر کومه . . . . -

قلندر دا رائے لري چې -

" داودخان (د محمد هوتک پلار) د ۹۱ کالو په عمر کبنې د میرویس غونډې هوښیار جرنېل د جنوبي لښکرو خلاف جرنېل نهٔ شي کېدے.

خو : په جواب کبنې همېش په ۲۲۱ مخ وائي چې -

" اول خو میرویس جرنېل نهٔ وو ځکه چې پیر روښان او پیر ایبي جرنېلان نهٔ شي منلي او ورزیاتوي چې یو امریکني جرنېل په دواړو لویو جنګونو او تر مرګه پورې جرنېل وو -

زهٔ ددغه دواړو پښتنو عالمانو د شاګرد په حیثیت هم نهٔ خو د قلندر صاحب دا رویه د تحقیق په اصولو درسته نهٔ منم چې د بل چا غلطي د بشریت د تقاضے له رویه جواز لري خو د محمد هوتک د غلطۍ جواز نهٔ شي کیدے او نهٔ د همېش صاحب ذاتي حملے او عمومي دعوې مناسب ګڼم -

زما په خیال د قلندر ددغه سوالونو او اعتراضونو د بر جوابونه کېدے شي خو دغه نهٔ شي کېدے کوم چې همېش کړي دي -

که فرض کړه پښتو اکېډیمي په معقول رقم د چا نه کتابونه تر لاسه کړي وي او په خپل ریکارډ کې ضروري تفصیلات نهٔ وي ساتلي نو دا به هم ښهٔ نهٔ وي کړي ځکه چې دغسې د علمي او مالي بد دیانتۍ احتمال پیدا کیږي ولے چې اول خو به د بشپړو ذریعو د نشتوالي په وجه د کتاب د وجود سلامتي شکمنه شي او بله به دا معلومه نهٔ شي چې په دغه لړ کبنې په ریکارډ موجود خرڅ شوې رقم او متعلقه سړي ته ورکړے شوے

رقم خپلو کښې څهٔ کمے زیاتے خو نهٔ لري . دا کېدای شي رقم د ټول قوم دے

دهغې د حساب کتاب نه ځان خبرول د هر پښتون فرض دي .

د علامه عبدالعلي د مرګ پهٔ لړ کښې د افغانانو د ردِ عمل پهٔ حقله

د قلندر د اعتراض پهٔ جواب کښې د همېش وینا غیر متعلقه او عمومي ده .

د یو قلندر یوه نا درسته رویه د ټولو لیکوالو او ادبي ادارو د غلطۍ جواز

نهٔ شي کېدے .

دا هم معلومه نهٔ ده چې قلندر د خپل کوم محسن او راهنما په حقله

مرثیه نهٔ ده لیکلې . همېش پهٔ دغه حقله خپله لیکلې مرثیه یا بل څه

یادداشت هم نهٔ دي رانقل کړي چې لوستونکي ترینه اندازه اولګوي کنې هغوی

خو به پهٔ دغه حقله ضرور څهٔ کړي وي . ځکه چې پهٔ ماضي قریب کښې د

دوئ د وارو محسنان او راهنمایان شریک پاتې شوي دي . حتّیٰ چې هغه انسان

هم په شلګونو کلونو د دوئ شریک پیر و مرشد پاتې شوې د چا په مرګ

چې په مرثیو لیکلو همېش قلندر ته پېغور ورکوي او چا چې د همېش

پهٔ خیال د شېبتهٔ کاله غورزو پرزو نه پس خپله نظریه پهٔ آباسین

لاهو کړې ده .

زهٔ د هغه انسان مرید یم او نهٔ د هغه زیات معتقد خو د یو باشعوره

او باخبره پښتون پهٔ حیث دا خبره پهٔ وثوق سره کوم چې هغه تر مرګه

پخپلو سیاسي او اصلاحي نظریاتو کلک ولاړ وو . کهٔ پهٔ یو دشمن ئې ایله

نهٔ ده کړې نو پهٔ بل دښمن ئې هم مخ نهٔ دی پرېښودے .

البته د دشمن شکل ، د جنګ نوعیت او د وخت نزاکت ئې پېژندو

د کوم جنګ او تباهئ پهٔ حقله چې د همېش صاحب پهٔ خیال د امن دغه

فرشته چپ پاتې شوې ده . په حقیقت کښې په دغه حقله هغه ډېرځه وئیلي . درست يې وئیلي . د روس او امریکې په دغه جنګ کښې د پښتون تباهئ ته هغهٔ بد وئیلي او قام ته يې د صلحې او روغې جوړې خواست کړې . نن چې روس په هغه ځائې نشته نو امریکه او د امریکې د لیز هغه جنګ ته څه نوم ورکوي . نن چې هغلته د ملّت وینې بهیږي . قوم حلالیږي نو د اڅوک کوي . په دغه تباهئ کښې به همېش خپلو ذمه وارو قبلولو ته څومره تیار شي .

ډېر داسې وجوهات کېدے شي چې محمد هوتک ته به خپل پلار د ځانه زیات مستند راوي ښکاریږدو . خوکهٔ د هغهٔ پلار په دغه ملّي جنګ کښې د قام مشری کوله نو هغه ترې څنګه یو خوا ته پاتې کېدې شو .

د پښتنې ټولنې د جوړښت ، پښتنې روایاتو ، انساني رشتو او هغې زمانې د حالاتو تقاضا وه چې هغه به د خپلې کورنۍ د نورو مشرانو او زلمو غونډې په دغه جنګ کښې پوره برخه اخستې وي خو د نامعلومو وجوهاتو له کبله يې ذکر نهٔ دې کړې او نهٔ يې بخپلو لیدو کتو د پلار د روایت د تصدیق ضرورت محسوس کړې دې .

تر څو چې د کوم افغان کماندر یا بل رهنما په حواله د ذکر شوي جنګ د تاریخ یکلو سوال دې نو نور څوک پرې ده چې دوئ به خپلو کښې هم دیو بل وړاندې منلو ته تیار نهٔ شي او بیا په نننۍ دنیا کښې هیڅ یو داسې ساده او تن اساني مورخ نشته چې د دومره مهمې واقعې تاریخ به دیوې ډلې د یو مشر په وینا اولیکي او کهٔ فرض کړه څوک داسې پیدا شي نو د هغهٔ په لیکونو بهٔ زرګونه اعتراضات اوشي . زما په

خیال په دې همېش خلیل ترمړه چا ښهٔ پوهېږي او زیات معلومات لري
خوخداۓ خبرچې دکوم مصلحت ترمخه دومره ګرانے خبرے داسې اسانوي.

خداۓ خبرچې د کوم مصلحت ترمخه به میرویس خان د ۹۱ کالو داودخا
دخېل ښکر د مشرۍ جوګه ګڼلي وي او هغه دکومې مجبورۍ لهٔ کبله پهٔ دغه
عمر کښې دغه مشرۍ ته غاړه اېښودې وي ځکه چې پهٔ دغه عمر کښې
انسان پهٔ ذهني او جسماني ډول ددغسې مشرۍ کولو جوګه پاتې نهٔ شي.

پهٔ دغه حقله د امریکني جرنېل دلیل راوړل هم درست نهٔ دې ځکه
چې هغه دیو منظم ریاست دیو باقاعده فوځ جرنېل دې خو داودخان
دیوې علاقې دیو قبائیلي ښکر مشر دې. میرویس خان ته پهٔ جرنېل
ویلو اعتراض کول هم بې ځایه ښکاري. دقبائیلي ډلو پرو مشران پهٔ
عمومي ډول د سیاسي تدبر سره سره دښکرو تنظیمولو او جنګولو دهنر
نه هم خبر وي او اکثرخېله هم پهٔ جنګونو کښې شریک پاتې شوي وي
پهٔ عمومي ډول دغسې مشرانو ته تجربه کار جرنېلان ویلے شي خو دغه
باقاعده جرنېلان نهٔ وي. پهٔ اوسني وخت کښې هم دبلوچوځینو سیاسي
مشرانو ته ددغه خوبیو په برکت جرنېلان ویلي شي. چې پهٔ هغوۍ
کښې دجرنل شېروف (خداۓ بخښلي شېر محمد مري) دنوم نه همېش صاحب
خپله پوره خبر دې.

دهمّا صاحب یاد شوې کتاب دمردان د ادارهٔ فکر وادب لهٔ اړخه
چېور شوې چې یو سل شوارلس[۱۱۴] عنونه لري. پهٔ دغه عنونو کښې دمختلفو
عنوانانو لاندې اته مقالې څه داسې خورې دي.

(۱) دتحقیق فن (۲) دمقاله نګارۍ رسمیات (۳) دموضوع تعیّن

(۴) بنیادي او ثانوي ماخذونه (۵) متن څۀ ته وائي (۶) حاشیې او اقتباسونه (۷) دتنقید مختلف قسمونه (۸) تخلیق و تنقید۔

پۀ دغه وړوکي غونډې کتاب د ژبارن پـه حیثیت د زبیرحسرت نوم لیکلې شوې دې او دهٔما د خپلو خبرو مطابق هغه چې د علامه اقبال اوپن یونیورسټي نه داېم فِل کولو پۀ لړکښې د خپلې تحقیقي مقالې پـه لړکښې د موادو پـه ترتیب او حاشیه نګارئ کښې د استاذانو او کتابونو(اردو انګریزي) نه د تحقیق د تکنیک او طریقو کومه زده کړه کړې ده او د کورس ورک پـهٔ دوران کښې ئې کوم مضمونونه لیکلي وو نو هغه ئې پـه پښتو کښې د اصول تحقیق پـهٔ حقله د بنیادي کتاب د نشتوالي پۀ سبب پۀ پښتو کښې خواره کړه د هغهٔ د وینا مطابق د رومبي مضمون نه سېوا ټول پـه اردو کښې وو۔

د تحقیق فن د محقق ډاکټر غلام مصطفٰی یو توسیعي لکچر دې چې د هغهٔ پـهٔ منه هٔما صاحب خپله ترجمه کړې ۔ دغسې تخلیق او تنقید د سجاد باقر رضوي مضمون دې چې د "مغرب کے تنقیدی اصول" نـه ترجمه کړې شوې دې۔

د هٔما دغه یکونـه پـهٔ اردو ژبـه کښې پـهٔ څهٔ یو کتاب یا مجله کښې نهٔ دي خواره شوي نو د اردو پـهٔ رنګ کښې د رنګ کېدو باوجود یـې د معیار پـهٔ حقله څـهٔ ویـل ګران دي ۔ کهٔ فرض کړه هٔما صاحب تر اوسه پورې پـهٔ دې خبره ولاړ وي چې دغـه ژبارنـه هغهٔ خپله کړې ده نو هسې ئې پرې د بل چا نوم اچولې دے ۔ نو د مصلحت نه خدائے خبر نو پۀ پښتو کښې د تحقیق د لوئې علمبردار د لاسه بـه د تحقیق سره بې انصافي شوې وي ۔

اوکهٔ فرض کړه هم دغه خبره په مختلفو محفلونو کښې هسې د خپې جذباتي حادثې لهٔ کبله کړي وي او پهٔ حقیقت کښې هم زبېرحسرت دغه ژباړنه کړي وي نو بیا هم هم صاحب ما ته د مردان د نامتو لیکوالو ډاکټر اسرار او اندړېنتی شمس القمر پهٔ مخکښې وئیلي (دغه وخت د هم مشرزوئ هم موجود وو) چې دغه کتاب مه پخپله ترجمه کړي خوصسې مې پرې د زبېرحسرت نوم کړي دې او اوس پهٔ دغه فیصله پښیمانه یم . دغه خبره هغوئ نورڅو ځایه هم کړې ده .

د ژباړنکو نومونه دوه پکار وو . ځکه چې د هم د خپلي وینا مطابق هغه د دغه کتاب پهٔ اتو مقالو کښې دوه خپله ژباړلي دي - دغه دواړه مقالي چې د کتاب پهٔ څو مخونو خورې دي د هغې شمېر د نورو ټولو مقالو د مجموعي مخونو سره لږ فرق لري .

د هم دغه مضمونونه چې کوم سرخطونه اوحوالي لري پهٔ دغه سرخطونو اوحوالو د اردو ژبې د ځینو نامتو لیکوالو مقالي زما د نظره څهٔ داسې تېرې شوې دي - پروفیسر سعیدالدین احمد ډار "تحقیق میں حواشی ، حوالہ جات اور اقتباسات" عبدالرزاق قریشی ."فن تحقیق" مقالہ کی تسوید[25] "موضوع کی چانچ پرکھ[26]" ډاکټر تنویر احمد علوي "متن روایت متن[27]" "تنقید متن"

د دې نه علاوه د اعجاز راهي او سلطانه بخش پهٔ راغونډو کړي شوو کتابونو کښې یو شمیر نور د غسې لیکونه شته دي چې د موضوع پهٔ لحاظ د هم د لیکونو سره ډېر نزدیکت لري .

خو! د سرخطونو او حوالو یو شان والی دومره لوئ فرق نهٔ غورزوي البته پهٔ چاپي شکل کښې د نشتوالي پهٔ سبب نهٔ شي وئیلي کېدے چې د هم دغه

اردو ليکونه د ذکر شوي ليکونو سره د ژبې متن او موادو په حواله څه نږدېکت لري او کنــه ؟

د متن څېړنه د تحقيق يو مهم اړخ دے - دغه مهم کار خپل هنر او خپله طريقه لري - په دغه حقله د نظمي هېوادمل ذکر شوي کتاب د ستائنے وړ دي - د افغانستان د علومو د اکاډيمي له خوا خور شوي دغه اثر د اکاډيمشن محمد صديق روهي په خيال " په دغه موضوع روښې ځانګړې کتاب دے - د متن څېړنګو د پاره يو لارښود دے[۲۸] ... "

اود ســر محقق اکبر معتمد جنتي شينواری د رائے مطابق " د خپل فن په ټولو مطالبو حاوي دے او مربوط جزووي موادي په خپل بطن کښې ځائې کړي دي[۲۹] . "

دغه کتاب ټولې دولس[۱۲] مقالې لري چې دړې پکښې د پښتو متن د تاريخي پس منظر د برو او روښونو په حقله هېوادمل خپلې ليکلي دي او نورې ژباړنے دي - چې د متن څېړنې په مختلفو اړخونو رميتو دونه د تحقيق اصول ، تحقيق و تدوين ، تصحيح او تحقيق ، مخطوطات ، نسخه پوهنه اصلي متن ، د متن نقد ، د تصحيح طريقې ، اصلي منشا) حاوي دي -

په دغه کتاب د ليکوال او ژباړن د خپلې سرينے مطابق هغه ته دغه کار د ترسره کولو احساس په هند کښې شوې وو - هلته ئې د ډاکټر خليق انجم او ډاکټر تنوير احمد علوى مستقل اثار د نظره تېر شوي او دوه داسې کتابونه ئې هم لوستي دي چې د هندوستان د نامتو محققانو او متن پوهانو مقالې پکښې را ټولې کړي شوي وي -

اګرچې محقق په ډېره ايمانداری سره خپلو ژباړنو ته ژباړنے ويلي

دي نورهغه کتابونو نومونه چې نهٔ دي رانقل کړي کوم چې هغه پهٔ هندکښې لوستي وو او نهٔ چې د مقالو نومونه او ځايونه ياد کړي دي نو نهٔ شي ويلې کيدے چې دغه ژباړے اصل ته څومره ورته دی خو بيا هم دغه کار پهٔ پښتو کښې بنيادي حيثيت لري او پهٔ دغه حقله نورو کارکوونکو ته ئې اسانئې پيدا کړي دي -

د پښتو دادبي تاريخ د خطي منابعو پهٔ حقله د افغانستان د علوم د اکاډمي لهٔ خوا د هيواد مل ياد شوې اثرهم د ستائنے وړ دي - ديکوال د څپـلې سرينې د معلوماتو پهٔ رڼا کښې دغه اثر د هغه پښتو قلمي نسخو پهٔ اساس ترسره شوې کوم چې هغوئې د پخواني سوويت يونين د مختلفو ښارونو پـه لائبرېرو کښې لوستي - هغه د دغه هرې نسخې د ديکوټو شمېر، انداز او شرح ياده کړي ده - د دغـه نسخو د متون او لوستو پهٔ حقله د هغهٔ خوارې د هغه د دغه سفر ملګرو ميرحسن شاه او جنتي شينواري پخپلو هغه ليکونو کښې ستائلې ده کوم چې ئې پهٔ دغه کتاب کړي دي - پهٔ دومره خوارې او مينه شوي کار يقيناً چې د ستائنے وړ دي -

پهٔ دغه حقله د هيواد مل يو بل اثر " د هند د کتابخانو خطي نسخې" هم د يادولو دي - دغه پهٔ اصل کښې يو فهرست دے خو محقق د هرې نسخې ځانګړي خصوصيات هم پهٔ ځنبنه کړي دي - دغسې دغه زلمي محقق

" د پښتو د ادبي تاريخ لهٔ منابعو څخه ځنې اشارو ته کره کتنـه "

" د پښتو د ادبي تاريخ د منابعو پېژندنـه " د ادبي تاريخ ميتودولوژئ او د دغه ډول پهٔ نورو ورو لويو اشارو راځي تـه کولو او موضوعاتو څېړلو د پښتو ادب تحقيقي پـنګې ته د پرڅـهٔ بخښلي دي - د ادبي تـاريخ د منابعو

او ښتودولوژي په حقله د هیوادمل سره د نورو محققینو او ادبي تاریخ لیکونکو اختلاف کېدے شي خو د مغوئ د اشارو د بنیادي نوعیت او ادبي اهمیت نه به هیڅوک هم انکار اونهٔ کړي شي .

د پښتو د کړي شمېره کتابونو ، مجلو او نورو اشارو نور وور ذکر په مختلفو کتابونو مجلو او ورځپاڼو کښې موندې شي خو په یو کتاب کښې د راغونډولو خواري ئې بناغلي حبیب الله رفیع کړې ده . د هغهٔ په یاد شوي کتاب کښې د حروف تهجي په ترتیب د لیکوالو او د مغوئ د اشارو نوموته راغونډ کړې شوي دي .

اګرچې په دغه کتاب کښې دیو شمېر کتابونو ، مجلو او لیکوالو نوموته نشته او دځینو لیکوالو د اشارو ذکر نیمګړې دې خو بیا هم د یادونے وړ خواري ده او د تحقیق کونکو د پاره ئې یو شمېر اسانتیاګانے پیدا کړي دي .

د پښتنو په خاوره د زیګیدلي تهذیبونه او پښتو ژبې د لرغتوب په حقله د صدیق الله رښتین یاد شوې اثر (دوې ځیړنه) د یادونې او ځیړنے وړ مواد لري . د یونیورسټي بک ایجنسي پېښور له خوا خور شوي دغه کتاب د مختلفو سرخطونو لاندې یو شمېر ځیړنې لري . د دغه ځیړنو ترمخه د دنیا اکثر لرغوني تهذیبونه ، اکثرې سترګه ورې قبیلي او زړې ژبې د پښتنې خاورې او پښتو ژبې په رنګ کښې رنګ دي .

"د تمدن زانګو" تر سرخط لاندې ځیړنه د زوړ عراق سومریان او پخواني مصر قبطیان د موجوده افغانستان د مختلفو علاقو نه کوچیدلي یادوي .

په "یوناني تهذیب" کښې یوناني مدنیت له اېشیا اخستې شوي کڼي او د

بحث نه پس په مبهمه لهجه کښې یونانیان د افغانستان د نورستان او بلخ نوې ځایونو ته تلونکي یادوي - د "بودایي مدنیت" تر سرخط لاندې بحث بودا (بدها) دهغه ساکیا قبیلې د کشتري طبقې ته یادوي کومه چې د افغانستان د شمالي برخو نه د همالې لمنو ته کوچیدلې وه - د دغه بحث تر مخه د بودا نوم "راهولا" وو - او د ساکیا موني لقب ورکړې شوې وو - چې معنا ئې د ساکیا قوم پرهېزګار کیږي - موني په پښتو ژبه کښې دیښې لري - دمن د کلمې نه جوړه شوې - من زړه ته وائې او موني د زړه خاوند - دغسې ورسره د بودائې مذهب د ژبې "پالی" او پښتو کښې د نومونو نږدیوالې یادوي .

د ایلالي تر سرخط لاندې څېړنه د عراق په پخواني تاریخ کښې یاده - ایلالي پرګنه د پښتونخوا د "ایلم" نومې غرنه کوچیدلې یادوي او ځان سره ئې د دغه ځایه د تمدن په ورنګو شغلو د دجلې او فرات غاړې رڼې کړې دي

"د پښتو لرغتوب" هغه څېړنه ده چې کومه د ژبو د وېش په حقله د علمي بحث په څنګ کښې د باختري ژبو د یو ځانګړې بناخ پښتیکه دعوئ لري - په دغه بناخ کښې پښتو ، بلوچي ، اورمړي ، پراچي او د کوه هندوکش دخواوشاه نورې ژبې حسابوي مګر پښتو ته پکښې د دوې مور ځاې ورکوي .

د ژبو په پېژندګلو کښې پښتو ، اویستا او سنسکرت مهمې ژبې ګڼې څو په دوئې کښې یوه پښتو ژوندۍ یادوي - د علاقې د نورو زړو ژبو او پښتو د نږدیکتونو په بحث کښې د پښتو او ګیلکي د نږدیکت په خبره

ډېر زور راوړي شي ځکه چې دغه دما زندران په سيمه کښې ګيلک خلق واي او داوسني پارسي په نسبت ډېره زړه ده .

" دعربي اوشرقي ژبو نزديوالي" په دغه کتاب کښې هغه څېړنه ده چې څوکلمې لکه "نيل" "اتنا" اوکوپاسوس (کپاس) پکښې دپښتانه څخه يونان او اروپا ته تللي يادوي .

" دالبېروني په اثاروکښې دپښتولغات" ترسرخط لاندې يک يو شمېر داسې کلمې رانقل کوي چې دېکونکي په خيال اصلاً پښتو دي .

د"ادب دکلمې څېړنه" د ادب داصل دب ، دپ ، داب اوداپ رېښې په پښتوکښې په نخښه کوي .

دغسې د"کاول اوکابل" " پښتون او افغان " "مورپلار" او"دور" د سرخطونو لاندې ددغه کلمو په څېړنه دپښتو اوپښتنو لرغتوب ياد شوي دي . لکه کابل يې دګ ومل کوبهه کوبها کلمه يادکړې . دغسې يې ورله څلور زره کاله تاريخ يادکړي دي .

دښتين صاحب لوی پښتون عالم او ذمه وار ليکونکی دی . دهغه ليکونه د قدر وړ دي .

خو! زه په ډېر احترام سره دهغوی ددغه څېړنو سره اختلاف لرم ځکه چې هغوی کومې قبيلې اوېرګنې ددې ځايه کوچيدلې ګڼي دهغوی داصلي ټاټوبو اوکوچونو په حقله دتاريخ استاذان نورې رائې لري خوهغوی پخپلو څېړنو کښې دهغوی ذکر نه دی کړې . بيا نه خو دغه څېړنې ددغه کوچونو په حقله کوټلې معلومات لري . او نه هغه حالات بيانوي دکومو ترمخه چې دغه مهذبې ېرګنې دخپلو ټاټوبو

نه پهٔ دومره لږې کوچ مجبوږې شوې . هسې هم ددغه څېړنو بېلګې او حوالې لغات او کلمې دي .

اول خو دغه راوړې شوې کلمو کښې پهٔ اکثر د نورو ژبو دعویٰ هم کېدې شي لکه پهٔ بوداڼۍ مدنيت کښې "من" پهٔ ايـلالي کښې "ايلالي" د "غربي او شرقي ژبو نژدېوالي" کښې "اتنا" دالبېروني پهٔ اشارو کښې "برخ" "ډول" "چاکر" "خزدوک" "درزي" "کند" "کشف" "بيد" "وېـد" "ماشـه" "صت" "کروه" "پاتـال" وغـېره .

د ادب دکلمې څېړنه کښې "د ب" . "د پ" پهٔ کاول او کابـل کښې "کاول او کابـل" اوکهٔ فرض کړه دغـه لغات او کلمې پښتو او منـلې شي نو بيا هم پهٔ دغه بنياد د منلو وړ نظرئے نهٔ شي جوړېدې . کهٔ دغسې کېدې شي نو بيا خوبه د پکي او پوکي تر مېنځه ډېره جوخته رشته وي - مشين بهٔ د مېچن جوړ شوي وي . دغه مېچن بهٔ آرياڼۍ پړکنو دافغانستان نه جرمنۍ ته وړي وي او دهغه ځايه بهٔ ئې برطانيے ته رسولې وي .

"جر" "بر" او "امر" هغه کلمې دي چې پهٔ پښتو کښې رلينبي لري . جرمني ، برطانيـه او امريـکه ددنيا ياد ملکونـه دي او ددغـه کلمو د تعبير او تفسير مشتق او اشتياق پهٔ حوالو ې د پښتو او پښتنو سـره تعلق جوړېدے شي .

"فـراه" پـه افغانستان کښې تاريخي ځائے دے او "فرانس" پهٔ مغرب کښې يو مشهور ملک دے . ددغـه ډول تحقيق د مخه "ه" پـه "ن" اوړېدې شي او "س" ورسـره پهٔ يوه خاص تاريخي دوره کښې ورزياتے شي او "سپين" خو خالص پښتو کېدې شي ځکه چې "سپين" خالصـه

پښتو کلمه ده .

دغسې خو به د ټولو ژبو مور پښتو ، د ټولو قومونو پلار پښتون او د ټولو پرګنو اولنۍ ټاټوبې افغانستان شي .

خو دغسې نه ده نه کېدې شي او نه دغسې کول د پښتو او پښتنو په حېثیت ، حرمت او درناوي کښې څه فرق راوستې شي .

دغه هر قام او هره ژبه د خپل جوړښت ، حرکت او بدلون تاریخ لري . د دغه هر تاریخ په بېلګو را پېدا کولو او حوالو ټاکلو کښې ډېرے لوئې لوئې خوارۍ او زیار ونه شوي دي . هغه خواري او کړاونه ، بېلګې او دستاویزات د یو څو لغاتو او کلمو په ریښو د منځه نه شي وړې کیدای دغسې څه دعوې یو جل پښتو پوهان خدائې بخښلي حسن بخش کوش هم پخپل "طوفان" نومې اثر کښې لرلي دي .

خو ! هغه هم چا د باور جوګه نه دي ګڼلي .

اوسنۍ زمانه کښې د قومونو ، قبیلو او پرګنو د اصل نسل ټاکلو د ژبو د جوړښت ، ارتقا او اخستن ماخوذ معلومولو د پاره ګڼ شمېره " الات " " معلومات " دستاویزات او علمي څېړنې په کار راوستې شي .

د دغه ټولو په ذریعه چاڼ کړي او ترسره کړې شوي معلومات او په هغې جوړې نظرئې د باور جوګه ګڼلي شي .

خو ! د خپلو نیمګړتیاګانو باوجود هم د ربښتین صاحب "څېړنې" قدرمنې دي ځکه چې په دغه حقله د نورو څېړنو د پاره که باوري بنیاد نه وي نو رجحان او رویه خو پېدا کوي . لمسه خو کوئې . پښتو پیکونکو

ته دغسې لمسه کول . په پښتنه ټولنه کښې د ټېرنو رجحان او رویه پیدا کول هم د دېرې ستائنې ور خدمت دې .

د تحقیق او عملي تنقید په حقله دیونیورسټي یک ایجنسي پېښور له اړخه د رښتین صاحب دوېم خور شوې کتاب هم د یادونې ور دې . د دغه کتاب یو شمېر لیکونه لري چې په کتابي شکل کښې د خورېد و نه وړاندې په ځانګړي ډول د افغانستان په مختلفو پښتو مجلو کښې خواره شوي دي. په دغه لیکونو کښې د یو شمېر لیکونکو د چاپ شوي اثارو په ځینو ټېروتنو ګوته ایښودې شوې ده . او د هغې د سمون هڅه شوې ده .

لکه په "وږمې" نومې مجله کښې د بناغلي پالوال په هغه لیک تګونه شوې دې کوم چې د ډیپوهنې د نوي متود په رڼا کښې " د پښتو نوي مصدر" په نوم چاپ شوې دې .

" د خیرالبیان لغتنامې ته یوه کتنه " د ځینو لغاتو د هغه معنو سره اختلاف لري . کوم چې د خیرالبیان په پېښور چاپ او کابل چاپ کښې د مولانا عبدالقدوس او پوهان رشاد له خوا شوې دې .

" د تاریخ مرصع سریزې ته یوه کتنه " که یو خوا د کامل صاحب د سریزې ، مقدمې او نوټونو اوږدوالي مناسب نه ګڼې نو بل خوا ئې د عبدالقادرخان او افضل خان په باب ډېناګانے زیاتے ګڼلے دې .

" ټېر هېر شاعران ته یوه کتنه " د خدایي بخښلي عبدالحلیم اثر د ځینو ټېروتنو په نخښه کولو سره سره د هغې د سمون تابیا لري .

د دغه کتاب د ۱۹۹۳ء ا پډیشن پېښور)

په (۸۲ - ۸۳) مخونو د میاں کریمداد او کریمداد بنګش ټېرو بېر کول.

په مخ (۸۳) ـ بي بي نيک بخته او بي بي ګله يو ګڼل او په مخ (۸۴) انګو قاسم او شيخ قاسم افغان يو ګڼل هغه تېروتنې دي چې ښتين صاحب په نخښه کړي او سمې کړي دي .

" ادبي ستوري ته يوه کتنه " هغه يېک دی چې د پښتو ټولنې کابل له خوا خوره کړې شوې د حبيب الله رفيع " ادبي ستوري کښې شوې غلطۍ په نخښه کوي .

لکه د ميان علي محمد او علي محمد مخلص يو ګڼل ، د فقير نومي شاعر له خوا کيمياى سعادت پښتو کول ، مشهوره عربي قصيده برده په رومبي ځل پښتو کول د محب الدين کارنامه ګڼل . په څو نعتيه شعرونو روف جان ماما ته خوږ ژبي شاعر ويل د شاعرانو په ستائنه کښې مبالغه کول ـ د سمون په لړ کښې د يو شعر په حواله کيمياى سعادت د سعادت خان ولد عبدالرحمن خان کارنامه ثابتول .

قصيده برده په رومبي ځل د عبدالقادر خان ختک له خوا پښتو کول روف جان د درېمې درجې شاعر ګڼل او د شاعرانو په ستائنه کښې د مبالغې نه د اجتناب کولو تلقين شوې دی .

" د پښتو ځينو چاپي اثارو ته يوه کتنه " د دغه کتاب هغه ليکنه ده چې د ځينو کتابونو او مقالو د متنو ، معنو او معلوماتو غلطۍ پکښې په نخښه کړې شوي دي - په دغه کتابونو کښې د عبدالحئ حبيبي " پښتانه شعراء " د عبدالحليم اثر " پښتو ادب " د خيال بخاري " صرف ونحو " د همېش خليل له خوا " د سعيد ديوان "

د پښتو ټولنې کابل له خوا د دولت لواڼي چاپ شوې ديوان

د دارمستېتر "پښتو خېړنې" د پښتو خېړنو تړېوال سيمينار کښې د مارګن ستېر له خوا وړاندې شوې مقاله کښې د ځينو دعوو سره اختلاف کړې خاص کر د يکهت په حقله د هغه وينا چې د بېليو او ځينو نورو په وېناګانو رد کړې ده . او دغه سيمينار چې د څوتنو د کتو وسيله بللې ده .

" د پښتو د چاپي کتابونو سيمينار" تر سرخط لاندې ليکوال د دغه سيمينار د اکثرو ليکوالو په ليکونو د نورو اعتراضاتو سره د بې ځايــه اوږدوالي ، کمزورو ، نګو او بې خونده جملو او نادره تکرارونو تور هـم پورې کړې دی .

د راورتي " ګلشن روه " او د پادري هيوز " کليد افغاني " چاپ کول يې بې ځايه ياد کړي دي[35] . او د بېنوا له خوا د جيبي ليکلي " د افغانستان لنډ تاريخ (فارسی) پښتو ژباړنه يې په دې وجه غير ضروري ياده کړې چې د افغانستان اوسېدونکي په فارسي پوهيږي .

په تحقيق او تاليف کښې غلطي کيږي . د دغه غلطو وجه د محقق او مولف مطالعه هم کېدې شي . ناراستي هم کېدې شي . د کاتب غلطي هـم کېدې شي او سهوه هم . د دغه غلطو په نخښه کول او سمول په زړه پورې کار وي ځکه چې يو خو ليکونکي محتاط شي او بل د لوستونکي د معلوماتو اصلاح اوشي .

زموږ تذکره نګار په دې زمانه کښې هم غير محتاط دي او پخپلو ليکونو کښې په روايتي ډول مبالغې کوي . دغسې د ځينو ليکوالو ليکونه په معياري سيمينارونو کښې د اورولو قابل نه وي او نه د يوې ذمه وارې ادارې له اړخه د خورولو جوګه وي . خو هغه ليکونکي د خپلو تعلقاتـــو

دلې پرې او اثر رسوخ په برکت خپل دغه ليکونه په دغه موقعو اوروي او د دغه ځايونو له ارخه يې چاپ کوي . د دغسې ادبي خيانتونو او بد دیانتو مخنيوې پکار دے .

نو: په دغه حقله د انتهاپسندو ، ذاتياتو او نامناسبه رويو خپل ځان ساتل پکار دي. بېشکه چې په سمينارونو کښې ورې لوئې مالي او علمي بد ديانتي کيږي . د لې پرې ساتلے شي خپل پردي کولے شي ځينې اهل کسان نظرانداز کولے شي او ځنې نااهل کسان رابللي شي . کيدې شي چې په ذکر شوي سيمينار کښې داسې شوې وي خو ددې نه په وړاندې سيمينارونو کښې به هم دغسې شوې وي او بيا به هم کيږي . که د ښتين صاحب په هغې لږه خبره کړې وې نو په خبره کښې به توازن پيدا شوې وې .

د دغسې سيمينارونو څه مثبت ارخونه هم وي . په دغه حقله د څه رائے ورکولو په وخت هغه هم په نظر کښې ساتل پکار وي . دغسې که ماخذونه يې هر څو چاپ شوي دي خو د بنيادي کتابونو په حيثيت "گلشن روه" او "کليد افغاني" اهميت لري او خوروله يې هيڅ بده خبره نه ده .

د جيبې د کتاب پښتو کول هم بې ځايه نه دي ځکه چې د پښتو لوستونکي يوا ځې په کابل کښې نه اوسي او ددې حقيقت نه هم انکار نه شی کيدې چې د پښتونخواه اوسيدونکي په فارسي نه پوهيږي که د افغانستان په حقله ليکلي کتاب په پښتو کښې وي نو د دغه سيمې پښتانه به هم ترېنه په خلاص مټ استفاده اوکړې شي .

په پښتو کښې د معياري ليکونو رواج کولو په خاطر د غيرمعياري

لیکونو غندلنه پکار ده - خو که رښتین صاحب دخپلې راتې سره بیلګې وړاندې کړي وې نو ډېره به ښه وې - که صرف د هغه لیکوالو او مقالو نوموته ې اخستې وې نو هم به ښه وې په کوم چې د هغه د غیر معیاري کمان دې.

زما په خیال چې د کامل صاحب نه ګیله هم په ځای نه ده ځکه چې هغه په ذکر شوي لیک کښې د خپلو مشرانو او لرغونو پښتنو لیکوالو د احترام په ځای د تحقیق د روایاتو احترام کړې دې -

خو ! د دغه څینو وړو وړو تحفظاتو باوجود رښتین صاحب دغه لیکونه د قدر وړ دي ځکه چې لوستونکو ته د څه معلوماتو ورکولو سره سره د خبرې کولو او خبرې پېژندلو هنر هم ښائي.

د عبد الباري اشنا او "حلیمي" ذکر شوي اثار هم دستائنې وړ دي. په دغه کتابونو کښې د راغلو موضوعاتو او د هغې څېړنو د طریقې سره اختلاف لرونکي به هم په دې اتفاق لري چې دغه کتابونه په پښتو ادب کښې د تحقیق بنیاد جوړوي -

د نورو مشرقي ژبو غوندې په پښتو کښې هم د تحقیق د بنیاد وړومبي تیږې هغه مغربي محققانو او ژبپوهانو ایښې دي څوک چې په څه نه څه ډول د پښتو او پښتنو سره اشنا پاتې شوي دي -

په دوئ کښې میجر راورټي، پادري هیوز او دارمستیټر د ډېرې ستائنې وړ دي -

راورټي د پښتو ژبې د ګرامر، لغت او لرغونو پښتنو شاعرانو په حقله یو شمیر لیکونه کړي دي خو د تحقیق د نظره د هغه "ګلشن روه" خصوصي اهمیت لري -

دغه اثر د لرغونو پښتنو شاعرانو او لیکوالو د کلامونو د نمونو خوندي کولو سره سره د هغوئ د ژوند ژواک په حقله هم معلومات لري .

دغه اثر هغه وخت لیکل شوی چې کله لیکونکي د ایسټ انډیا کمپنی په فوځ کښې د کپتان په حیثیت ذمه واري تر سره کولې . هغه دغه کتاب په وړومبي ځل په کال ۱۸۶۰ء او دوهم ځل په ۱۸۶۷ء کښې په لندن کښې چاپ کړو .

د دغه لیکوالو او اثارو په حقله لیکونکي د ګڼ شمېر ادبي ، تاریخي او مذهبي اثارو د نسخو استفاده کړې ده .

اګرچې د دغه لیکونو د پاره لیکونکي اصلي ماخذ ونو ته درسېدو او د مختلفو اثارو د تقابلي جاج اخستو پوره پوره کوشش کړې دې . خو بیا هم ځینې ادبي او تاریخي تېروتنې لري . ولې خپل بنیادي او حواله جاتي حیثیت ېې نهٔ دې بائیللي . د پښتو ادب د تاریخ لیکونکو ، تذکره نګارو او تحقیق کوونکو د پاره تر ننه ورځې بنیادي او اعتباري ماخذ دې . د دغه اهمیت لهٔ کبله د افغانستان علمي او ادبي حلقو یو ځل بیا د ذلمي هېوادمل په اهتمام د پوهاند رشاد په سریزه سره خور کړې .

د پښتو ژبې او ادب په حقله د فرانس ژبپوهان او محقق دارمسټېټر هم ډېره خواري کړې ده . د هغه ځینې شېرنې سید قاسم رښتیا د فرانسي ژبې نه فارسي ته اړولي دي او د " دارمسټېټر پښتو څېړنې " په نوم عبد الحي حبیبي او ښتوا صاحب پښتو ته اړولي دي . د تحقیق په لړ کښې دغه څېړنې هم د بنیادي اهمیت وړ دي .

پادري هیوز د مغرب یو بل داسې عالم ، ژبپوهان او پښتو شناس

دي ـ چې د پښتو ژبې او ادب په حقله يې تاليفات او تصنيفات د قدر وړ گڼلي شي . د پښتو ادب په باره کښې د تحقيق په لړ کښې د هغــه " کليد افغاني" باوري بنيادي ماخذ گڼلي شي ـ د دغه اهميت له کبله د پښتو څېړنو د نړۍ وال سيمينار په مناسبت سره په افغانستان کښې يو ځل بيا په ډېر اهتمام سره چاپ او خور کړې شو .

ر

د پښتو ادب د مختلفو اصنافو په حقله شوي ليکونو کښې د استاد عبدالحى حبيبي " د پښتو ادب په تاريخ کښې قصيده" (د افغانستان د علومو اکېډيمي) او "پښتو نثر ته کره کتنې" رخورونه دعلومو اکېډيمي) د محمد دين ژواک " د پښتو نثرونه" رخورونه ـ پښتو ټولنه کابل) د ډاکټر مجاور زيار "پښتو شعر څنگه جوړېږي ر دافغانستان د اطلاعاتو او کلتور د وزارت له خوا) د گل باچا الفت "څه ليکل يا ليک پوهه" ر دننگرهار د اتحاد مشرقي ادارة له خوا) او "غوره نثرونه" ر پښتو ټولنه کابل) د سنگروال نيازي د ډرامې تنقيد و تحقيق" د دوست محمد دوست " د اولسى ادب لارې" پښتو ټولنه) د غوټي خاورې ـ د پښتو شفاهي ادبيات شکل او مضمون (پښتو ټولنه) د عبدالله بختاني " شعر و ادب" د عبد الرؤف نوشهروي " د پښتو نثر ارتقاء" (اکادمي سائنس اردو پشتو يونيورسټي تهاوُن) د ياد ونې وړ اثار دي ـ

د حبيبي صاحب ياد شوي اثار د هغه د استاذي د شان مناسب دي

کهٔ په پښتو ادب کښې د قصيدے تاريخ موږ پېټ نهٔ دے خوشحال خټک لا پخپل علم د مرولو هڅه کړې ده ـ پهٔ پښتو کښې د معياري نثر د رواج کولو د پاره د نثر کره کتنه لازمي ده ـ دغه اثر ليکونکي د يوې بنيادي ذمه وارۍ پهٔ ترسره کولو کښې لوئې لاس لرلې دي خو پخپله کتنه کښې د کره کتونکي نه زيات محقق ښکاري ـ د پښتو نثرونو پهٔ حقله د ژواک او کلا باچا اُلفت ياد شوي ليکونه په زړهٔ پورې دي ـ اګرچې پهٔ دغه حقله د نمونو راغونډولو او پهٔ هغې حقله د څه ويلو پهٔ لړ کښې د نورې خوارۍ ګنجائش هم وو خو شوې خوارې هم د ستائنې ده ـ

د يک د هنر پهٔ حقله د الفت ياد شوې ليک د هغه د کول او حالاتو پهٔ سمون دې او د پښتو نثر د تاريخ پهٔ حقله تحقيق کونکي ترې ډېر څهٔ زده کولې شي ـ د پښتو شعر د جوړښت، رنګ او آهنګ پهٔ باره کښې د مجبور زيات ياد شوې اثر بنيادي معلومات لري خو د نامانوسو اصطلاحاتو زياتوالې او مشيني رويے د معلوماتو خوند او تاثر پيکه کړې دې ـ

د ډرامې پهٔ حقله کهٔ څهٔ ليکل شوي هم دي د سنګروال ياد شوي کتاب د پښتو لوستونکو ته پهٔ دغه موضوع نوې تازه او خوندور معلومات ورکوي ـ

د پښتو د اولسي ادب پهٔ حقله کهٔ هر څو ډېر څهٔ ليکلې شوي دي او د ادب د دغه برخې څهٔ نمونې راغونډې کړې شوي دي خو دغه ادب د لوستې، پېژندنې، راغونډونې او خوندي کونې پهٔ لارو چارو او طور طريقو د دوست او غوټي ياد شوي ليکونه د هغه بنيادي او اولنو کوششونو برخه ده ـ کوم چې پهٔ اوسني دور کښې د افغانستان د ځينو زلمو ليکونکو

له نوا پیل شوي دي او لا تر اوسه په ابتدائي مرحلو کښې دي .

په دغه اشارو کښې د یادو شوو او ټاکلو لارو چارو سره اختلاف کونکي به هم د دغه زیاردونو د اهمیت او افادیت څخه انکار او نه کړی شي .

د شعر و ادب په حقله د بختاني لیک د پښتو ادب په زړه پورې خدمت دی کړی او رویه ئې روایتي ده . د دغه حال د نوشهروي د یاد شوي لیک دی . عبدالرؤف نوشهروي په پښتو کښې د سائنسي مضمونونو په نورولو کښې د یادونې ور خدمات لري . خو د دغه کتاب څلور واړه مقالې ئې د پښتو نثر د ارتقاء په حقله هیڅ نوي معلومات نه لري . د لیکوال ټاکلی دورونه هم د پښتو نثر د ارتقائي تاریخ سره سمون نه خوري او په دغه لیکونو کښې د یو دور د نثر ځانګړي خصوصیات ، تحلیل او تجزیه نشته . هرڅوک د خپلې مرضۍ مالک وي . خو سنه به داوې چې لیکونکي دغه موضوع دوی خپلو استاذانو ته پرېښودې وې . خپل وخت او صلاحیتونه ئې خپلې موضوع ته سپارلي وې نو د پښتو نثر په خزانه کښې به د سائنسي یو بل شاهکار جمع شوې وې . په پښتو کښې د نثر په ارتقاء او تاریخ نور هم ډېر کسان لیکلی شي خو د سائنسي مضمونونو او موضوعاتو پښتو کولو ذمه واري د هر لیکونکي نه شي تر سره کولی .

د ژبې د لغت ، لهجې او ګرامر په موضوعاتو لیک په خپل ځائې هم یو تحقیقي زیار دی خو دغه ډول لیکونه د ادب په نورو څانګو کښې د تحقیق د پاره پکارېږي . زما د معلوماتو تر څه چې د پښتو ژبې ، لغت ، لهجو او ګرامر په حقله کوم آثار وجود لري (زما معلومات نیمګړي هم کېدی شي) په هغې کښې د ېجر آر . لیچ ګرامر (۱۸۳۹ - کلکته چاپ)

د پروفیسر ډرون (جرمن) گرامر (۱۸۴۰ - پیترزبرګ چاپ)

د کپیتن واګهن ګرامر (۱۸۵۴ - لندن چاپ)

د میجر جارج هارټي راورټي (اے ګرامر آف پښتو/ پشتو (رومبی اېډیشن ۱۸۵۵ - کلکته دوهم اېډیشن ۱۸۶۰ - لندن)

د راورټي "پښتو بج آف دی افغانز" (دوهم اېډیشن ۱۸۶۷ - لندن)

د راورټي "اے ډکشنري آف پشتو/ پښتو" (دوهم اېډیشن ۱۸۶۷ - کلکته)

د راورټي "د مېنول آف پشتو" رومبی اېډیشن ۱۸۸۰ دوهم ۱۸۹۰)

د هربرټ پېنډل ګرامر چې محمدرحيم الهام "د پښتو ګرامر" په نوم ژباړلی دی -

د جاپاني ژب پوهان نواتا شیځوسن "پښتو جاپاني قاموس"

د نور محمد کندهاري ګرامر "تحفة الامير" د خيال بخاري "پښتو ژبه" (پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي) د خيال بخاري "صرف ونحو" پښتو (يونيورسټي بک اېجنسي)

د صاحبزاده حميدالله "د ليکلو او ويلو ژبه" د ګل باچا الفت.

"ليکوالي املاء او انشاء" دانش کتابخانه جنګي محله پېښور)

د پښتو څېړنو د بېن المللي مرکز د لسمې کاليزې په مناسبت د سيمينار د مقالو مجموعه پښتو څېړنې (دوه جلده . د افغانستان د علومو د اکاډمۍ له خوا) د حبيب الله رفيع "ژب پالنه" (دوه ټوکه) د ډاکټر مجاور زيار "ګردودي څېړنې"

"پښتو پښويه" (کابل پوهنتون خورونه) "پښتو ليکلار" (ننګرهار د پوهنتون خورونه) او "وي پوهنه"

په دغه اثاروکښې د راورټي ليکونه ډېر ياد او مهم دي. د هغه پښتو ګرامر درې سوه ۳۷۳ درې اويه مخونه لري - په دغه مخونوکښې تماکلی شوې اصول او يادې شوې قاعدې د پښتو ژبې د مزاج سره سمون خوري. په مقدمه کښې د پښتو ژبې، پښتو ادب او لرغونو پښتنو شاعرانو په حقله علمي او معلوماتي بحث شوې دې.

د پښتو ژبې په حقله د هغه ليکلي کتاب په دغه موضوع ترننه بنيادي کتاب منلې شي. د هغه په ډکشنرۍ کښې نژدې پنځه ويشت زره داسې لغتونه انګريزي ته اړولي شوي چې يا خو پښتو دی او يا په پښتو کښې دخيل دي.

د پښتو محاورو په حقله د هغه ميتول که هر څو وړوکي دي خو د بنيادي او واقعيتي حيثيت له کبله مهم ګڼلي شي.

د الفت په کتاب کښې د املاء انشاء او پښتو ګرامر په حقله د يو څو خبرو نه پس د املاء په حقله د هغه دوو فيصلو بيان دي کومې چې د پښتو ټولنې کابل په خوښه شوې دې، چې ومبې د پښتو ټولنې په غوښتنه د افغانستان ځنځيشت نمائنده پوهانو کړې وه او دوېمه هم د دغه ټولنې په غوښتنه او بلنه د بلوچستان، پښتون او افغانستان ليکوال په کال ۱۹۵۸ء کښې کړې وه. د دغه معلوماتو په رڼا کښې دوېمې فيصلې تر ځنه په ومبې فيصله کښې ځينې بدلونونه راوستې شوي دي.

په "پښتو څېړنې" کښې د يو شمېر عالمانو ژبني او ګرامري ليکونه راغونډ کړي شوي دي. چې پوهاند رشاد پکښې "د پښتو جاپاني قاموس په باب" تر سرخط لاندې د اسم، فعل، تذکير و تانيث او جمع واحد په حقله د "نوراتا" د قاموس ځينې غلطۍ په ګوته کړي دي.

ماګل سلیمان دوست په خپل لیک کښې د پښتو او واخي ژبو د فعل د جوړښت په څرنګوالي او مقایسه خبره کړې ده -

پوهندوني عبدالروف څېلواک پکښې د پروفېسر منفرلورنځ هغه مقاله په پښتو ژباړلې ده کومه چې د اینډو اروپائي ژبو تر منځ د پښتو د مقام په باره کښې ده -

په دغه موضوعاتو د ټولو پښتنو او غېر پښتنو خدمات د قدر وړ دي یاد شوي ټول اثار په ذړه پورې دي -

خو! په دغه حقله د ډاکټر مجاور زیار خواري تر هرچا ډېره ده - زیار باقاعده ژبه پوهان دې - په دغه حقله ې سپېشلائزېشن کړې دې - خو دغه بناغلي یواځې ډاکټرېټ نه دې کړې - د دغه سترې علمي ډګرې احترام ې هم زده کړې - بخپله موضوع قابو هم لري او حق ې هم ادا کوي -

د هغه د رایو او رویو سره بلا اختلافات کېدې شي خو د هغهٔ د علم او خدماتو انکار نه شي کېدې -

په یادو شوو موضوعاتو هغه کې شمېره مضمونونه او مقالې لیکلي دي خو یاد شوي اثار ې نمائنده او بشپړ دي -

هغه لهجې ته ګرد ود واڼې او ګرد ودې د هغه لهجوي څېړنې دي چې د پښتو لویه برخه لري او په دغه کړکېچنه مسئله د علمي بحثونو او تحقیقلارې پرانیزي -

"پښتو پښوپه" او "پښتو یکلار" په موضوعاتو او معلوماتو لحاظ یو بل ته ورته اثار دي - په دغه اثارو کښې د پښتو ګرامر، اصطلاحاتو او یک دود په حقله بحثونه شوي دي - اګر چې د ځینو خبرو تکرار، ځینو حوالو

(خاصکر په بیلابېلو کېښي) او بندوالی او دایو انتها پسندي د بحث رنګ پیکه کوي خواهمیت او افادیت يې نه ورکوي .

"وږی پوهنه" د لغت پیکلو، جوړولو، ساخت او ماهیت د اصولو او طریقو په حقله بنیادي معلومات لري .

په دې لیک کښي د موضوع په مختلفو اړخونو په حقله د روان بحث په لړ کښي د مختلفو ژباړلو شوو اثارو ذکر شوې دې لهذا د غیرضروري تکرار نه د بچ کېدو په غرض به بیواځې هغه ژباړنې یادول مناسب وي . کومې چې نه وي یادې شوې . چې څه په دې ډول دي .

اقبال او افغانستان (لیک - پروفیسر فتح محمد ملک) ژباړنه - سید وقار علي شاه کاکاخېل - د حاتم طائي سفرنامه - ژباړنه پروفیسر محمد نواز طائر .

آزادي (د کرسټوفر کاډوېل د کتاب سټډیز اِن ډِ ډائنګ کلچر د یو لیک لړ) ژباړنه اولس مل شیراني .

په افغانستان کښي د ژورنالیزم تاریخچه (محمد کاظم آهنګ)
ژباړنه - حبیب الله رفیع .

لوړ خیالونه او ژور فکرونه (د یو شمیر عالمانو د لیکونو انتخاب او ژباړنه) ګل باچا الفت .

دکوریکي ادبي لیکونه ژباړنه - حسن کاکړ

پښتانه او ورونه ملیتونه (د بور خازو - الماني)
ژباړنه - ډاکټر مجاور زیاړ

ز

په پښتو کښې به دداسې چاپ شوې کتابونو شمېر ډېر کم وي چې په هغې به دکتاب د مصنف/مولف نه سهوا دبل چا ليک نهٔ وي .

د درغونو شاعرانو او مولفينو په ديوانونو او تاليفونو د ورستنۍ زمانې ليکوالو مقدمې ليکلې دي . په دغه مقدمو کښې د يادو شوو شاعرانو او عالمانو د ژوند اوفن مسلې څېړلې شوې وي .

دنوې زمانې د ليکوالو په کتابونو د سريزو ، مقدمو ، تبصرو، تذکرو او يادونو په ډول دنوي وخت مشهورو عالمانو، شاعرانو او ليکوالانـــو ليکونه کړې وي .

دکلاسيکي استاذانو په شعري اونثري اثارو شوي ليکونه اکثر د مقدمو په شکل وي . په دغه مقدمو کښې دهغوئ په ژوند او فن خبره شوې وي .

په دغه مقدمه بازې کښې ګڼو کسانو برخه اخستې ده .

خو! په دغه مېدان کښې ډېرو کمو کسانو کاميابي موندې ده . ځکه چې دغه يو باقاعده تحقيقي زيار دې . دغه زيار په ځائې کول او ترسره کول دهر چا د وس خبره نهٔ ده . ددغه دورې هر شاعر داوچتې درجې شاعر بلل او دهغه کلام ته ساده ، ساهو ، روان اومېين ويئيل خو داکثرو ليکوالو عادت بوړ شوې دې . ولې ! کله کله ي دژوند سره هم تړوقې اوکړي. هسې خو دغه تړوقې ډېرو کسانو کړې دي . خو ! زهٔ د نمونې په ډول

د عالم فاضل ښېږنمل محمد عارف غروال هغه تموقه یادوم کومه چې هغهٔ
دغسې یو شاعر "حبیب الله سره " کړې ده - غروال د حبیب الله دیوان
د سرینځ ، سمون او فهرستونو ذمه واري تر سره کړې ده .

هغه په خپل نیک کښې دغه لوغوني شاعر د خېبره تر اټکله په لتوکښې
دیو ځای یاد کړې او دخپلې خبرې په دلیل کښې د هغه وینه رانقل
کړې دي . عم

چې تهٔ نهٔ یې پهٔ ماغم شي دخېبرٔ تر اټکله

او هغه ته یې د دولسمې هجري پېړۍ شاعر ویلې دې . یوه پېړۍ ډېر
لوی وخت دې - دیو سړي دپاره دومره لوی وخت یادول هیڅ مناسب
خبره نهٔ ده .

دغسې خېبر او اټک د پښتونخوا دوه تاریخي ځایونه دي . ددغه
ځایونو ترمینځه لویه علاقه پرته ده - یو سړې د دومره لوی علاقې
یادول د هیڅ تحقیق د هیڅ طریقې سره سمون نهٔ خوري او بیا پهٔ دغسې
بنیاد ولاړ تحقیق هم د باور جوګه نهٔ وي .

دیو بل لوغوني شاعر علي خان دیو مشهور غزل یوه مصرعه ځهٔ
داسې ده . عم

"یوه سترګه مې باړه شي بله کرمه"

نو دا معلومه خبره ده چې علي خان د هغه لتو نهٔ دې . کوم چې د باړې
او کرمې ترمینځه دي .

د حبیب الله دغه مصرعه د رحمٰن بابا ددې مصرعې تاثر هم کېدی شي.
" دخېبره تر اټکه الغیاث "

وړاندې ییکي چې دپخوانو شاعرانو دکلام ستره برخه وعظ ونصیحت ته وقف ده - حالانکې دغه بناغلي به لوستي دي چې دنامتو لرغونو شاعرانو عبدالحمید ماشوال ، علی خان ، کاظم خان شیدا او کامکار خټک په شاعرۍ کښې ډېره لږه برخه وعظ ونصیحت ته وقف کړې شوې ده -

بناغلي غروال دحبیب الله دکلام او شاعرانه صلاحیت ستاینلو په لړ کښې دهغه په شاعرۍ کښې دسادګۍ، روانۍ او سلاست دستاینلو سره سره دهغه په کلام کښې دمورنۍ ژبې پښتو سره په دري او اردو ژبه ییکلی شعرونه هم ستاینلي دي - او داسې حوالې یې هم راوړې دي چې شاعر په پښتو ، دري او اردو ژبه ګډ شعرونه ویلي دي - دمورنۍ ژبې سره په بله ژبه شاعري کول یې ګران کار یاد کړي او دغه یې ددې قوم څانګړي استعداد بللي دي -

اول خو د لرغونو پښتنو شاعرانو دیوانونو کښې دپښتو او نورو ژبو ګډ شعرونه ډېر کم شمېر لري - بیا دغه رنګ شعرونه بنه فني معیار هم نه لري حتیٰ چې دحبیب الله رانقل کړې شوې شعرونه هم دفني لحاظه ډېر کمزوري دي بلکې دهغه څانګړي دري او اردو شعرونه هم د ډېرې ستاینې وړ نه دي -

او بله دا چې د پښتنو شاعرانو څانګړې استعداد نه دی - د نورو ژبو خاصکر هندي او اردو شاعرانو هم دغسې کړي دي بلکې د اردو مشهور لرغوني شاعر "انشاءالله خان انشاء" خو د اردو سره سره په څو نورو ژبو کښې شاعري کړې ده -

د نوي وخت د شاعرانو او لیکوالو په اثارو د نوې زمانې اکثر

نیکونه زمونږ د اولسي شاعرۍ یو ډېر زوړ صنف ستائینې ته ډېر نـږدې ښکاري . کله په ستائنه کښې هر " هېرا غېرا نتوخېرا " د چند ږ لخته تاووي غوارې کوېژدنه " نو د مخصوص ماحول ، مزاج او معیار له کبله د اوریدو نکي طبیعت نهٔ درنو ي .

و لې په کتابونو کښې غیر ضروري او غیر معیاري صفتونه لوستونکي ته ذرهٔ خرابوي - په دغه حقله اکثر نیکونکو د صفت دغه لار اختیار کړې ده خو یو شمېر نیکونکي داسې هم دي چې نیکي نو معقول او محتاط نیکي لکه

ډ ادب د تیوري اساسونه " (دوست شنواري) په حقله د سر محقق صدیق روهي نیکنه - " د کره کتنې دولونه " (زلمي هېوادمل) په حقله د بریالي باجوړي نیکنه - د عبدالباري جهاني په کتاب " پائیکوب " د ډاکټر اسرار نیکنه .

په دغه کتاب د رحمت شاه سائل نیک هم معیاري دې خو د تیارهٔ صباوون / صبا کاذب په اِصطلاح بې ځایه او بې معنې بحث پیکه دې .

د غسې د امیر رزاق ساحل په شعري مجموعه " د خیالونو تصویرونه " هم سائل صاحب د خپلو خیالاتو اظهار کړې دې - د دغه اظهار ځهٔ برخه کهٔ نیکوال د خپل جذباتي طبیعت په دریاب نهٔ وې لاهو کړې نو په مجموعي ډول به ډېر معقول نیک وې - دغه یاده شوې برخه هغه ده په کومه کښې چې هغه په ټوله پښتونخوا کښې د ساحل د شاعرۍ د خوړېدو د قوي امکان په طمع د هغه شاعرۍ د قام د ټولو زخمونو علاج او هرې مسئلې حل ګڼلې دے .

د سائل غوندې هوښیار سړي سره د شاعرۍ په حقله دغسې غیر معقوله جذباتي رویه مناسب نهٔ ښکاري . شاید چې د شاعرۍ لوستونکي

په دې کښې اختلاف اونهٔ لري . چې د هيڅ يوې ژبې د هيڅ يو شاعر شاعري هم د قوم د ټولو زخمو ځپيکه او ضرورو مسئلو حل نهٔ وي . هم د غه جذباتيت اکرام الله ګران هغه وخت څپه کړې دې کله چې هغهٔ د اباسين يوسفزي په شعري مجموعه "غورزنګونه" خپله رائے ورکړې ده . ګران که هر څو معقول او متوازن انسان دې خو په جذباتو کښې د غه دواړه صفات د لاسه ورکړې دې . د جذباتو په ترنګ کښې ئې اباسين د ساقل نه پس د ملاکنډ دوېم لوئې شاعر يادکړې دې . يعني کهٔ اباسين يو کيچ بل واخستے نو د ملاکنډ د نمبر ون رحمت شاه ساقل برابر بهٔ شي : او ګران به د صوبې نمبر ون وي .

اول خو دا چې ساقل د ملاکنډ نه د ټولې پښتونخوا شاعر دې . پهٔ نن وخت کښې د پښتنو شاعرانو په وړومبې صف کښې ولاړ دې او پهٔ د غه صف کښې هم کهٔ د چا نه قدم وړاندې نهٔ وي نو وروستو بهٔ نهٔ وي . بله دا چې د ملاکنډ د شاعرانو پهٔ قطار کښې هم د ساقل او اباسين ترمينځه عبدالحکيم قادري ، محمد اسلام ارماني ، امير قاسم هاشمي ، ډاکټر خالق زيار محمد طاهر طاهر او نور ولاړ دي خو بيا هم اباسين ډېر ښهٔ شاعر دې او زلمې دې کهٔ د تخليق چينې ئې تاندې پاتې شوې . نو نورې کاميابۍ به ئې وموي . خو هغه ديوې علاقې پورې محدودول يا د چا سره پهٔ قطارونو کښې او درول مناسب نهٔ دي .

د پښتو ادب د طالب علم پهٔ حېثيت زما د نظره پهٔ سلونو د غسې ليکونه تېر شوي خو ما د بحث د پاره د نمونې پهٔ دول پهٔ څو نمائنده کتابونو د مشهورو ليکونکو ليکونه پهٔ دې غرض غوره کړل چې د صفت او ستائنې

دغه ذور او روایت ډېر زورآور هم غورزولی دی . دچه باتو په ترڼګ کښې دراتے پر ځای فتوې ورکړي دي او فتوې هم دخپلی فرقې د نظره . چونکې دد غسې مشهورو کسانو رائے د لوستونکو په رویو جوړولو کښې لوئي لاس لري لهذا نظرانداز کول یې مناسب نهٔ وي .

مطلب دا نهٔ دی چې کنی څوک پخپلو بیکونو کښې د کتابونو کمزوري ارخونه رابرسېره کړي یا دیکوالو سپکاوي اوکړي . دغسې کول د موضوع تقاضا هم نهٔ ده او دکتاب په مارکیټ هم خراب اثر غورزوي .

خو: دغسې بیکونه په دې غرض کیږي چې د ادب په تاریخ کښې ددغه کتاب په مقام او خپل دور دادبي رویو په نوعیت خبرې اوشي . دکتاب هغه ارخونه رابرسېره کړې شي چې کوموته د لوستونکي نظر په اسانه نهٔ شي رسید ے . دغسې دغه بیکونه د لوستونکي دمعلوماتو زیاتولو اودهڅائي په غرض کولې شي . دهغهٔ دټریستو اوتیندلک کولو دپاره نهٔ وي .

هسې خو په پښتو مجلو او ورځ پاڼو خاصکر "وږمه" "کابل" "جرس" "پښتو" "تماس" "لیکوال" "وحدت" او "هیواد" کښې وخت په وخت تنقیدي تبصرې چاپ کیږي . اګرچې ددغه بیکونو اکثریتي برخه سرسری تبصرې اوتذکرې وي یا د ذاتونو اوشخصیتونو د درناوي سپکاوي دپاره په مبالغاتي رنګ کښې رنګ وي خو کله کله څهٔ معیاري برخې هم ولري . دغه برخې د قدر وړ او دستاشنې جوګه دي . ددغه څو معیاري بیکونو په نورولو دغه مجلې اوورځپاڼې په پښتو ادب کښې د تنقید څونډرنګ زیاتوي .

په پښتو کښې د تنقید په حقله د وړاندې یاد شوي (د دوی یک په رومبي برخه کښې) اشارو نه علاوه په کتابي ډول چاپ شوي اثارو کښې

د ارباب سکندرخان خلیل "ژور فکرونه" (پښتو چاپ)

دګل باچا الفت "د زړه وینا" او ادبي بحثونه" (پښتو ټولنې

کابل خپرونه) نوي سبک او نوي ادب (کابل دمطبوعاتو دریاست خپرونه)

دمیان شرف "دپښتو عروض" (د پښتو ټولنې کابل خپرونه) د

محمد صدیق روهي - ادبي څېړنې (ننګرهار د پوهنتون خپرونه) د

عبدالروف بېنوا "ادبي فنون" (د پښتو ټولنې کابل خپرونه). داصغرلاله

"ژوند اوادب" (د مکتبه افکارنو پېښور خپرونه) د زلمي هیوادمل، د

"کره کتنې ډولونه" (د افغانستان د لیکوالو د انجمن خپرونه) ددوست

شینواري د ادب د تیوري اساسونه (د دولتي مطبعې کابل چاپ) د

اکبر کرګر "څو ادبي یادونې" (د افغانستان د لیکوالو د انجمن خپرونه)

د محمد رحیم الهام" ادبي مسائل (د افغانستان د لیکوالو د انجمن خپرونه)

د ډاکټر اسرار "تکل په تکل کښې" (د اولسي ادبي ټولنې مردان خپرونه)

په یاد شوي اثارو کښې د الفت صاحب درې واړه کتابونه، د میان شرف

کتاب او دمقالو مجموعه "شعر وادب" دځینو تحقیقي نمونو لرلو باوجود

په مجموعي ډول د تنقید په رنګ کښې رنګ دي - ددغه رنګ په برکت

دغه کتابونه په هغه اثارو کښې شمېرلے شي کوم چې په پښتو ادب کښې

د تنقیدي رجحان او رویو جوړولو کښې لاس لري.

د اصغرلاله یاد شوي ییک دظهیرکاشمیري د "ادب کے مادی نظریئے"

غونډې د نظرئې په رنګ کښې لیکلے شوي دي. دادب او نظرئے ترمنځه

تړون او تعلق به خبره ده خو په دغه ییک کښې نظرې دادب میدان

کښلې دي.

د بېنوا صاحب کتاب د معاني ، بيان ، بديع ، قافيې عروض او نورو دغسې موضوعاتو په حقله معلومات لري - دغه معلومات روايتي دي نو په شعر پوهنه او خاصکر د کلاسيکي شاعري په تنقيدي جاج اخستو کښې ترې په زړه پورې استفاده کېدې شي .

د روهي څېړنې د (ا) ادبي تيوري (ب) ادبي کره کتنه . (ج) ادبي ميتودونه . (د) ادبي تاريخ څلور برخې لري . اګرچې په دې کښې يوه برخه د تنقيد په حقله ده - خو دغه نورې برخې هم تنقيد ته ورته بحثونه لري . دغه بحثونه د لوستونکو ادبي شعور ته وده ورکوي او د تنقيد طالبعلمان په دې پوهوي . چې د ادب دنيا بې نظرې او بې طريقې نه ده . بلکې په دغه حقله خبره کول د سړي نه د څه لوستې ، پوهې ، سوچ فکر ، انداز او طريقې تقاضا کوي .

د ارباب سکندر "ژور فکرونه" کۀ د پښتو نقد بندو خدمتګارو د ياد جوګه ونۀ ګڼل خو په ژوروالي ې څه اثر نۀ دې پرېوتې - دغه کتاب (زۀ چې کومه نسخه لولم) د چاپ ځائے او نېټه نۀ لري - خو د چاپ د ډول نۀ ښکاري چې دغه د نورو کتابونو غونډې په پېښور کښې چاپ شوې .

د ليک ژبه ې هغسې روانه او اسانه نۀ ده کومه چې د هغه د نورو ليکونو ده . کېدې شي چې دا د هغه رومبي ليک وي او دا هم کېدې شي چې په دې موضوع ې هغه قدرت نه لرو کوم چې د فلسفې او اقتصاد په موضوع لرو .

خو ! د ژبې د کړکېچ باوجود دغه کتاب د هغه ټولو کتابونو نه په

علمي او معلوماتي دول درولد دي کوم چې په کوزه پښتونخوا کښې تراوسه پورې د ادبي تنقید په حقله لیکلي شوي او یاد شوي دي -

د پښتو ایم - اے ، ایم فل او پي - ایچ - ډي د طالبعلمانو د پاره په پښتو کښې د تنقیدي ادب د کمي باوجود دغه کتاب په یو کورس کښې نه دې شامل کړې شوې او کورسونه خوړېږي.ده چې د تنقیدي کتابونو په شمېر کښې نه دې راغلي حتّی چې د افغانستان هغه لیکونکو ې هم پخپلو اشارو کښې ذکر نه دې کړې څوک چې د تنقید کتابونه په ګوتو شمېري.

دغه کتاب بېخي غېر سیاسي او خالص ادبي رنګ لري -

د ادبي تنقید د تعریف او تاریخ په حقله معلومات لري - اګرچې ژبه ې ولاړه او ځینې جملې مبهمې دي -

د دغه کتاب په پېژندګلو کښې لیکونکي څل قام ته بیا بیا د تحقیق او تنقید اهمیت په ګوته کړې دې -

په دروېمي باب کښې ې د ادب پېژندګلو کړې ده او شاعرۍ ته ې د ادب روح وئیلې دې[۳۹] -

د ارسطو کتاب الشعر" تر سرخط لاندې ې د پو یټکس د پوره پېژندګلو سره سره د ارسطو او افلاطون د فکري اختلاف تفصيلي ذکر کړې دې -

د ارسطو د دغه اثر په حقله وائي چې د هغه (ارسطو) د نورو ترلاسه شوي ځینو نو غوندې د هغه دغه شعرونه هم مونږ ته د یو کتاب په شکل کښې ترکیب شوي نه دي ترلاسه شوي -

د ارسطو نه پس تر سرخط لاندې د ۶۵ ق م شاعر او نقاد هورېس

یونانی یادوي[۴۱] - او دهغه تنقیدي شاهکار د تنقید په موضوع د یو نظم نه سیوا هیڅ نه مني[۴۲] - ورپسې د آنتے او ځلپ سدني یادوي او بیا لانجائنس تنقیدي نیک "آن دی سبلائم" یوه خالصه تنقیدي کارنامه یادوي چې د ډېرو دوستو چاپ کېدو په وجه ئې د تنقید په تاریخ کښې اهمیت بالکل نوی یادوي[۴۳] -

ددې نه پس د "بن جانسن" "ډرائي ډن" "پوپ" "ورډزورتهـ" "لیسنگ" "کولـرج" "هیزلټ" منزاني او نورو د خدماتو لنډ غوندې ذکرکوي -

زهٔ په یوناني نهٔ پوهیږم خو ما چې د ارسطو د پوئټکس کومه انګریزي او پښتو ژباړې لوستي دي او یا مې په دغه حقله کوم نیکونه د نظره تېر شوي دي نو د هغې مطابق دغه نیک د شاعرۍ په حقله په نثر کښې لیکلي شوې دي - او ارباب صاحب دې ته په شعرونو ویـلو تېروتي دې -

زما په خیال هوریس یوناني ګڼل او د هغهٔ شاهکار د تنقید کارنامه نهٔ منل هم د ارباب صاحب تېروتنه ده . کېـدې شي چې دغه سهوا شوي وي . ځکه چې وړاندې هغه پخپله هم په هوریس د یونان اثرات د روم د کلتور د تاریخي حالت غوښتنه یادوي[۴۳] - او د تنقید په تاریخ کښې هغه د ارسطو نه پس دوېم لوې مفکر مني[۴۴] . د تنقید په تاریخ کښې د لونجائینس د نیک اهمیت هم نوې نهٔ دې . ځکه چې د هغهٔ دغه اثر په فرانسي ژبه کښې په سوونو کاله وړاندې ژباړلې شوې او خور شوې دې. دغه ژباړې د یورپ او په خصوصي ډول د فرانس د تنقید استاذانو ډېر

زيات متاثره کړي دي .

دغه لابجانټس که د رومبه پيړۍ او سيدونکي دي او که د دريمې پيړۍ خوپه دواړو حالتونو کښې د ديارلسمې پيړۍ د "دانتے" او شپاړسمې پيړۍ د "سرفلپ سدني" نه ډېر وړاندې تېر شوي دي اودنقاد په حيثيت هم ددغه دواړو نه ډېر لوئ دي ځکه مناسب نه ښکاري چې د هغه ذکر ددغه دواړو نه روستو وي .

نو ددغه څو تېروتنو باوجود هم د تنقيد په موضوع د ارباب صاحب دغه کتاب دهغه ډېرو کتابونو نه غوره اومهم دي په کوم کښې چې د تنقيد او څو ادبي اصنافو تعريفونه رانقل کړي شوي وي او هغه هم اکثر د نقل دنقل نقل وي .

د پښتو ادب ديو طالب علم په حيثيت ماته دعلم اوانصاف په اصولو دا مناسب نه ښکاري چې په پښتو کښې د تنقيد په حقله د شوي ليکونو او اشارو په ذکر کښې "ژورفکرونه" دبنيادي اثر په توګه ياد نه شي .

د متن څېړنو او خطي نسخو په حقله ذلمي هيوادمل په پښتو کښې ډېر څه کړي دي او چې ذلمي وي نو امکان دې چې نور خدمات به هم ترسره کړي . نو د تنقيد په حقله ئې ياد شوي يک دستانټې ور دې .

په دغه کتاب کښې "پښتو او ادبي کره کتنه" د هغه ځانګړې يک دې - نوري ئې د اردو د نامتو ليکوالو ژباړې کړي دي چې په هغې کښې د ناظر کاکوړ دي "تنقيد اوتنقيدي شعور" د پروفيسر سليم اختر

"تنقیدي دبستان" د سید مجتبی حسین "نقاد" او د سماجي تنقید
خو مې کتاب د یو یېک "عملي تنقید" لنډیز او ژباړنې دي . د دغه ژباړنې
ضروري او په زړه پورې دي . د لنډون او روانتیا باوجود د عبارتونو مطلب
او مفهوم په ځای دي .

خو ! د ځانګړي یېک سړۍ هغه خواري نه ده کړې د کومې په اهمیت
چې زلمي پخپله پوهیږي . په دغه یېک کښې د پښتنو شاعرانو او لیکوالو د
وېناګانو او بیانونو د نقلونو او بېلګو د نیمګړتیاګانو سره سره د لیکوال د خپلې
تجزیې او تحلیل کمي هم راغلې ده .

په تنقید کښې د تحقیق په اهمیت هېوادمل خبر دي خو "تنقید" د
قلندر مومند ځانګړي کارنامه یاد وي . د دغه یوه باقاعده تېروتنه ده ځکه
چې هم د دغه لیکوال د یو بل یېک "نظمیات" سره ترجمه لیکي . خو "تنقید"
سره د ترجمې لیکلو ضرورت نه محسوسوي . په دغه حقله د افغانستان نور
لیکونکي هم تېروتي دي . بناغلي حبیب الله رفیع په خپل اثر "د پښتو
کتاب ښود" (افغانستان چاپ) کښې هم د دغه اثر سره ترجمه نه ده
لیکلې حالانکې هم په دغه اثر کښې بناغلي لیکوال د یلې هرې ترجمې سره
ترجمه لیکلې ده . په دغه کتاب علامه عبدالحی حبیبي لنډه لیکنه هم
کړې ده . خو دغه تېروتنه ې نه ده په نخینه کړې . یادشوي کسان
ټول پښتانه عالمان دي او د تحقیق په لړ کښې د ستاینې وړ خدمات لري
نو کېدې شي دغه وړوکې غونډې کتاب ې په پوره ډول نه وي لوستې
او قلندر مومند د خپل دغه اثر په آخري مخونو وضاحت کړې دې چې د اما
د خپلو شاګردانو د زده کړې اسانونو د پاره د هېسن د مشهور تنقیدي اثر

.... دیو باب ترجمه کړې ده چې دځینو دوستانو په خواست یې چاپ کړه دلته دهیوادمل یوه بله سهواً تېروتنه هم په نخښه کول ضروري ګڼم.
اوهغه دا چې دعقاب خټک د "خوشحال نامې" ځای چې دجیبي صاحب اثر (د پښتو نثر ته کړه کتنې) ته ورکړې دې کوم چې هم دهیوادمل په زیار د افغانستان په دولتي مطبوعه کښې چاپ شوې دې.

دهغه خوارې دکمي باوجود دکوم طمع چې دهیوادمل نه کیږي. دغه ئیک دعلمي تنقید دځه نمونو سره سره دساهو تنقید دپاره په زړه پورې تجویزونه لري.

ددوست شنواري اکبر کرکر اورحیم الهام دیادو شوو اثارو دځانګړې پېژندګلو باوجود به دځینو شریکو صفاتو له کبله دغیر ضروري تکرار نه ډډه کیدو په خاطر دهغې شریک جاج مناسب وي. دوست شنواري په خپل دغه کتاب کښې دمختلفو سرخطونو لاندې مختلف ادبي موضوعات، رویې اورجحانات معرفي کړي دي. دمعلوماتو راغونډولو، ترتیبولو اوورلاندې کولو په لړکښې یې په زړه پورې خواري کړې ده د "ادب اوادبیات" د سرخط لاندې یې په دغه حقله دګڼ شمېره عالمانو وېناګانې رانقل کړي دي. دادب په تولنیزه بڼه اوادبي تیورۍ یې خبره کړې ده. دادبي تنقید دموضوع اواهمیت په حقله یې وېنا کړې ده.

دمغربي ادب تعریف یې کړې دې. دادب او انسان په تعلق یې ویل کړي دي. دمختلفو ادبي مسئلو، موضوعاتو اومکتبونو لنډه پېژندګلوې کړې ده. آزاد شعر، سپین شعر، پښتو شعر، اولسي شعرونه اوسندرې یې یادې کړي دي. د"پښتو لیکلي ادب" په حواله یې دمکتبونو، سبکونو او

میتودونو یادونه کړې ده . "د پښتو اوسني نظم ته یوه کتنه" یې کړې ده . په پښتو شعر کښې سوسالستي ریالیزم یې یادکړې دی .

د افضل ټکور په اهتمام خور شوې د اکبر کرکر کتاب د هغه د مقالو او مضمونونو مجموعه ده . په دغه لیکونو کښې د نامتو جرمن شاعر او ډرامه نګار بریښت د هنر کاردنه او د هغه د مشهورې ډرامې "د کالیله دکلیلو) ژوند" د چلي د منلي شاعر "پابلو نرودا " د پاکستان د انقلابي شاعر فیض احمد فیض او د مشهور لیکوال رومن رولان د ژوند او اثارو د پېژندګلو سره سره د پښتو شعر وادب په حقله هم څه خبرې شوي دي . لکه

" د لرې پښتونخوا په ادبیاتو کښې د سترسوسالستي انقلاب اغېزه "

د اولسي شاعرۍ په خصوصي ډول د لنډۍ په حقله " د پرګنو د روان څخه" د موسیقي په حقله " د موسیقي په هنر څو یادونې " د غني خان په حقله د خپل تالیف " غني د شکو په محل کښې " د راغلو کمو د پوره کېدو په خاطر " غني د شکو په محل کښې د اثر په باب څو نور یادښتونه " :

" د نوي یا آزاد شعر په باب څو خبرې " د پښتو شعر وادب او پښتو لیکوالو په حقله څه معلومات لري .

د طاهر په اهتمام خور شوې د محمد رحیم الهام یادشوې اثر اووه مقالې لري چې پنځه د مولف خپلې لیکلې او دوه د نورو ژبارلې شوي دي .

په "ادبپوهنه" کښې د ادب د کلمې او ادبي اثارو د جوړښت او اهمیت په حقله د یادونې ور معلومات راغونډ کړې شوي دي .

" د فرهنګ په عمومي جوړښت کښې د ادبپوهنې دریځ " تر سرخط لاندې

د روسي ژبې نه هغه مصاحبه ژباړلې ده کومه چې دکتور کانديدي د ليديا کينز يورک سره کړې ده .

په "ادبي کره کتنه" کښې دکره کتنې او ادبياتو په حقله په زړه پورې بحث شوې دې . دکره کتنې موضوع او ميدان يې دبحث لاندې راوستي دي .

داشرف خان هجري تخيل او "د پښتو خزانې په سبک يو ځغلند نظر" دذکرشوي کتاب هغه ليکونه دي چې د پښتو کلاسيکي ادب او ځينو اثارو په حقله معلومات لري " زمونږ د دوران د ادبي کره کتنې مسائل" يوه روانه او اسانه ژباړه ده .

هسې خو دغه درې واړه اثارو د پښتو ادب نثري برخې خاصکر تنقيد ته په زړه پورې درناوي بخښلي .

خو ! د دوست شنواري اثر (د ادب د پيژندنې اساسونه) په موضوعاتي او معلوماتي لحاظ ډېر درونه دي خو د دغه درونوالي باوجود هغه کمي او کمزوري لري کوم چې نور دوه اثار لري . لکه دا چې دمترقي ادبياتو او اديبانو په معرفي کولو کښې د غيرضروري انتها پسندۍ ښکار شوي دي .

د دوست په خيال

" مترقي ادب د اولس دکلتور د ښکلې ايښوونکي د اخلاقو سموونکي او هنداره ، په اولس کښې معقول نهضت لار ښوونکي او د نامعقولو سره د مبارزې اغيزه ناکه وسيله ده ."

دالهام د نظره "غير مترقي ليکوال د خپل تولنيز ليد دود په برخه

کښې د ماشوم په شان دي . او د ابتدائي فکرونو ولرلو له امله د ټولنیز ژوند د قوانینو په تحلیل کښې سترې غلطۍ کوي او د نوي جوړونې د اساساتو په پوهېدو کښې پاتې وي .»

اکبرګر «د موسیقۍ په هنر ښوونه» تر سرخط لاندې یک کښې فنکارانو ته د ګوندي کېدو او د انقلاب د سپاهیانو جوړېدو تلقین کوي . د ټولنیز ژوند په حرکت او بدلون کښې د مترقي ادب اهمیت په خپل ځای . خو که دومره بنیادي او هر اړخیزه ذمه واري ورو سپارو . د کومو دپاره چې دوست وسیلې دي نو بیا خو به په ټولنه کښې د سیاسي ګوند جوړولو کوم ضرورت نه وي . لوی مترقي ادیب به لوی لیډر او غټه ادبي جرګه به لویه سیاسي پارټي وي . دغسې الهام خپله خبره کړې ده او که د بل چا وینا یې رانقل کړې ده . خو د مترقي نقطه نظر لرلو باوجود زه د دغه فتوې سره اتفاق نه لرم . د ارسطو او لا نجائنس نه واخله تر ټالسټائي او ټي . ایس . ایلیټ پورې او د ابوالکلام آزاد نه تر حسن عسکري ، پروفیسر کلیم احمد ، عبدالحي حبیبي ، حمزه شنواري او غني خان پورې یو هم په هغه معنو کښې مترقي نه دی کومه معنا چې د الهام د ذکر شوي اثر نه څرګندیږي . خو دغه ټول لیکوال یخپلو لیکونو کښې د ټولنیز لید دود په حوالو بالغان دي . د ټولنیز ژوند د قوانینو په تحلیل کښې یې د ډېرو مترقي لیکوالو په مقابله کښې د غلطیو شمېر کم دی .

د لیکوالو او فنکارانو د ګوندي کولو او د هغوئي نه د انقلاب د سپاهیانو جوړولو رویه د سټالن په امر نه دوره کښې د مترقي لیکوالو

یوې برخې خپله کړې وه خو په ټوله دنیا کښې مترقي لیکوالو ددې خلاف بغاوت اوکړو - ځکه چې دتخلیقي فنکارانو فطري صلاحیتونو اومترقي رویو ته خطره وه خو ښکاري چې "کړکړ" دخپل اثر ترتیبولو تر وخته د روسي او نورو مشرقي لیکوالو ددغه نوې خپلې کړې رویې په حقله معلومات نه لرل -

مترقي ادب ټول عمر دانساني ټولنو په وده کښې بنیادي کــردار اداکړې دې خو بې ځایه اومنفي انتها پسندي همېشه مترقي ادب تاواني کړې دې -

د ټولنیزو عملونو په توګه ادب اوسیاست همېشه یوبل متاثره کړي دي - دادب په مملکت کښې دسیاست په ذکر پابندي لګول دادب بې ادبي ده -

خو ادب دسیاسي مصلحتونو په ځولۍ کښې رانغاړل ادب دښمني ده - ولې دخپلو کټو وټو خوندي کولو او خپلو نوکرو پخولو په خاطر ځینو لیکوالو دغه دواړه عملونه کړي دي -

دتورخم دزنځیر نه دې غاړې ته ځینو لیکوالو په سیاسي ذکر د پابندۍ تائید کړې دې او بلې غاړې ته اوسید ونکو اکثرو لیکوالو دادب په ژبه سیاسي تبلیغ کړې دې - او چې چا په دغه حقله دتوازن نه کار اخستې نو هغه په دواړو غاړو خوار دې - دافغانستان دګڼ شمېره لیکونکو په لیکونو کښې سرکاري سیاسي تبلیغات راغلي دي خو په دغه درې واړو اثارو کښې ډېره غلبه موندې ده -

دوست په خپل یاد شوي اثر کښې دانقلابي نظم په کتنه کښې د

ثور د انقلاب نه پس د ملک وسائل دغتې خېمتو بدو ایانو په ځای د خوارانو غریبانو ژوند ته سپارلي کېږي او هغوی د انقلابي شعریه مرکز کښې ځای شوي یادوي .

د نوی دوری" تر سرخط لاندې غیر ضروري او سپور سیاسي بحث کوي . دغه حال "د ادب نوي پړاو" کښې دي . او هم دغه څه يې "په پښتو ادب کښې د سوسیالي رپالیزم پېدا ښت" سره کړي دي .

دغه رنګ په نورو څو ځایو کښې د خپلو نظریاتو څرګندونه څه داسې کوي .

" د مارکس او انګلس نه پس د اکتوبر د ستر انقلاب ستر لار ښود لېنن د ادب تیوري په خپلو نا بغانه نظریاتو بدایه کړه ."[۵۱]

" زموږ د ټولنې زیارکښان چې د انقلاب نه د مخه د ټولنې د داسې عناصرو په توګه ژوند کاوه چې له نظره لویدلي او غتې خېمتو بدو ایانو د استثمار او ملنډو مورد وو . د انقلاب په راتګ سره د ټولنې د حقیقي زامنو په توګه او پېژندل شول ."[۵۲]

" د ثور د پرستمین انقلاب نه د مخه او وروسته د پښتو ادب د نورو انواعو په څیر د پښتو نظم د میتود په لحاظ سره ډېر توپیر لري ."[۵۳]

" د انقلاب نه د مخه په افغاني فیودالي ټولنه کښې اجتماعي بې عدالتي ، استثمار ، سود ، رشوت ، د خپلواکو

انسانانو (خوبندو اولوستو) پلورل، بې سوادي او نور مفاسد دستر کوړ او خواخوږي هنرمند له پاره د زغم وړ نه وو .[۵۳] "

اکبر کرکړ د خپل اثر په څو ځایونو "د لرې پښتونخوا په ادیبانو کښې دستر سوسالستي انقلاب اغېزه" " دانقلاب تر بري وروسته د پښتو کیسو د محتوي په باب څفلنده نظر ". "د موسیقۍ د هنر څو یادونې" کښې هم د غني غیرضروري اوږدې سیاسي تبصرې او تبلیغات کړي دي .

د غني خان په حقله یادونو کښې ې د اوږدې سیاسي تبصرې نه پس فیوډال غني د فیوډالي مناسباتو وړاندې کرکه ښکاره کونکې یاد کړې او د بېلګو په ډول ې د شاعر هغه شعرونه رانقل کړي دي کوم چې نه یواځې د هغه د شاعرۍ کمزورې برخه ده . بلکې په هغې کښې یا خو هغه د پښتون خان په حیثیت د خپل طبقاتي دور کمزورې غندلې او یا ې د ملا په هغه عادتونو بد ویئلي دي کوم چې د هغه د خانۍ په نشه کښې خاراچوي .

د الهام د اثر اکثریکونه هم لکه د هغه نورو ملګرو د سیاسي پروپګنډې تر اغېزې لاندې راغلې دي . په هر قدم طبقاتي مبارزه ده په هره ساه د زیاد کینانو د بریالیتوب دعویٰ ده خو د نمونې په ډول د غه څو کرښې رانقل کوم .

"دا په غوځه توګه ویئلې شو چې اوس زمونږ د ټولنې د ژوندانه واقعیتونه انقلابي دي او نور ټول واقعیتونه په هم دې مرحله په هم دې شرائطو کښې له هم دې انقلابي ژوندانه څخه زیګېدلي دي - او رازېږي - زمونږ شاعران او لیکوالان او د شاعرانو او لیکوالانو روزنکې یعنې کره کتونکې

هم باید خامخا انقلابي وي . انقلابي ادبیات د هر انقلاب
لهٔ هدفه سره سمون او تطابق لري . زمونږ د انقلاب هدف په
هیواد کښې د نوې ټولنې جوړونه ده . دداسې نوې ټولنې جوړونه
چې ټول اقتصادي ټولنیز او فرهنګي روابط په کښې مترقي او
انساني یعنې عادلانه وي . که اوس یو انقلابي شاعر او لیکوال
او نهٔ شي کولای یا ونهٔ غواړي چې دخپل چاپېریال تولوپیدیدو
او حقائقو ارتباط په عیني توګه احساس او بیان کړي انقلابي
کېدې نهٔ شي . »

داوږد اقتباس رانقل کول دتحقیق اصولو سره سمون نهٔ خوري خو
ددغه نقل نه بغیر به د الهام د دویمې څرګندونه نیمګړې وه . او په دغه
حقله به راځو دده شکارېده .

کېدې شي چې د ثور د انقلاب راوستو دپاره ذکر شوي لیکوالو ډېرې
خوارۍ او تاوانونه کړي وي . ددغه انقلاب سره ددوئ ډېر ارمانونه تړلي
کېدې شي . خو په تقریر او ادب کښې فرق وي که دوارهٔ دیو سیاسي کارکن یا
رهنما ولې نهٔ وي .

دغه فرق د اجمل خټک او سلمان لائق په لیکونو کښې لیدې کېدې شي .
بېشکه چې سیاسي او معاشي بدلونونه په ادب اثرات غورزوي خو
په ادب کښې ناڅاپه بدلون نهٔ راځي . ځکه چې نهٔ خو ادب په مشین کښې
تخلیق کېږي او نهٔ په ډیمانډ جوړېږي . دیادو شوو بناغلو لیکونکو سیاسي
تبصرې که بې ځایه ، اوږدې ، سپورې او غیر معیاري دي نو په دغه
حقله دعوې یې هم غلطي دي .

دکوم انقلاب نه پس چې دوئ ته دپښتو نظم توپیر خوروونکي ښکاري
او کوم خواري کښ ورته په دغه نظم کښې مرکزي حیثیت اخستونکي ښکاري
هغه توپیر او خواري کښ په دغه ټیکونو کښې په نظر نهٔ راځي. دسلیمان لائق
رانقل کړي شوي نظم " دزمکو غل " دانقلاب نه مخکښې لیکلي شوي
او خور شوي دي. دورونو ملتونو داتفاق په حقله رانقل کړي شوي
نظم "افغان" نېټه نهٔ لري او هسې هم په دغه موضوع دانقلاب
نه وړاندې کښ شمیره نظمونه لیکلي شوي دي. دانقلاب په دفاع کښې
دبیلګې په دول راوړونکي نظم هیڅ معیار نهٔ لري بلکې دغه دورېمې
درجې د شاعرۍ معیار هم نهٔ لري.

په ادبي اثارو کښې دموضوع او فورم دلحاظه توپیر دیو مسلسل
ارتقائي عمل په نتیجه کښې راځي. په پښتو نظم کښې دغه توپیر څپل
ارتقائي تاریخ لري.

دظلم خلاف دبغاوت جذبه اودخوارکښ داهمیت احساس په
پښتو شاعرۍ کښې دیوې اوږدې زمانې راهسې جوت دي.
دغسې ښاغلي ټیکوالان په پښتو شعر کښې دسوسالستي ریالیزم
په پېژندنه کښې هم تېروتي دي. دافراط وتفریط سره په ترتیب او
انتخاب کښې هم غلط شوي دي.

په دغه اثارو کښې دسیاسي ډله بازۍ سره سره ادبي ډله بازي
هم شوي ده. دوست دازاد نظم په حواله کښې یو ځنې نظم دلائق
"پیغام" یادوي او دا اوسني انقلابي نظم په حقله دلائق او الفت
نظمونه رانقل کوي.

دغسې اکبر کرکر " د نوي يا ازاد شعر په باب ځوځبرې" تر سرخط لاندې په خپل يوک کتاب کښې په دغه حقله په افغانستان کښې د سلیمان لائق د چونفر ځینې نظمونه یاد وي او وروسته ې کاروان توفاني ، اسحاق ننګیال او عارف خزان یاد کړي دي .

بیشکه چې لائق د پښتو ډیر لوی شاعر دی خو په افغانستان کښې نورو شاعرانو هم آزاد او نوي شعرونه لیکلي دي او که نور څوک نظر انداز هم کړې شي نو په دغه حقله د "جهاني "خدمات داسې دي .

" چې منکر پرې اعتراض کولے نه شي "

نو بناغلو لیکونکو په دغه لړ کښې د هغه نوم اخستل هم مناسب نه دي ګڼلي . د دغه اثارو لیکونکي د احترام ور عالمان دي . د عالمي ادب په خصوصي ډول د روسي او جرمني ادب ژوره مطالعه لري خو د پښتو ادب په حقله معلومات ې نیمګړي دي .

دوست چې کله په نورو موضوعاتو لیکل کوي نو د خپلې خبرې د رنولو د پاره په یوه ساه د روسي او جرمني لیکوالو ګڼ شمیره حوالې راوړي خو چې کله د پښتو په آزاد شعر خبره کوي نو د حوالو د تحط سره مخامخ شي چې کله " د پښتو د لیکلي ادب " خبره راشي نو د مکتبونو ، سبکونو او میتودونو په حقله هیڅ کوټلے او بنیادي معلومات څرګند نه کړې شي . چې کله د یاد وني ورکتابونو فهرست رانقل کوي . نو د سید رسول رسا " ادبي تنقید " د پښتو اشعار په باب لیکلې یاد کړي او د سحر یوسفزي " ادب څه دے " ته " ادب څه شي دي " اووائي او د ناول ډرامې او افسانې په باب ځینې ې وبلي . حالانکې د رسا ذکر شوې اثر د تنقید د تعریف اهمیت او

ضرورت په حقله دي - د "سحر" یاد شوي ټیک د ادب ، تنقید ، ناول ، ډرامې او افسانې تعریفونه لري -

خو ! نه په دغه حقله او نه په بله څه موضوع څېړنه لري.

دغسې چې سوسالټي ریالېزم د پېژندګلو او پښتو شعر کښې په ځنبو ځنبو بحث کوي - نو د دغه مهمې موضوع د پېژندګلو او په دغه حقله مو ړ پېټ پښتو ادب کښې د ځنبو ځنبانو را برسېره کولو په ځای د ځېل کتاب ټکل ځونه او ته کرښې سیاسي تبصرې ، ادبي تاریخ د تنظیمونو او مجلو نومونو ته سپارې - او په اخري اتو کرښو کښې د لرو پښتنو په ادبیاتو کښې د استفادې ریالېزم تر څنګه سوسالټي ریالېزم پوره وده کونکي یادوي - د دغه ریالېزم مشهور اخوړکران سیف الرحمٰن سلیم ، سعدالله جان برق قلندر مومند ، فضل حق شیدا او رحمت شاه سائل کښي -

دغه نومونه په ځای خو په دغه حقله د قمر راهي ، اندېش شمس القمر ډاکټر امین الحق ، محمد اقبال اقبال ، عبدالواحد قلندر ، بشر نوید ، ډاکټر خالق زیار ، شېر علي باچا ، ډاکټر اسرار ، سلیم راز ، ودود مشنغرې او خېبر اپرېدي غوندې مشهور او ثقه ترقي پسند نه یادول د پښتو ادب په حقله د لیکوال د معلوماتو کمي په ځښه کوي -

زه یوځل بیا وایم چې دوست عالم فاضل لیکوال دے خو سرے څه وېلې شي چې هغوئ ځېل ذکر شوي ټیک چې د کتاب اخري ټیک هم دي په یو داسې شعر ختمول مناسب ګڼلې دي کوم چې نه درست رانقل شوي او نه دا هغه شاعر دي څوک چې دوست یاد کړې دي -

دوست ورته د سائل شعر وئیلې دي او څه داسې ئې رانقل

کړي دي. ؎

چې هر لوځ موړکښې پټ شي او هر وږي پکښې موړ شي
خدايه څه کفر به وشي که يو داسې جهان جوړ شي

نو دغه شعر د تجمل الحسن قائل تخليق دې او څه دا رنګ دي. ؎

چې هر تږي پکښې وځښي او هر وږي پکښې موړ شي
مُلا څه کفر به وشي که يو داسې نظام جوړ شي

په هم دغه رنګ يو مضمون " د لرې پښتونخوا په ادبياتو کښې د ستر سوسالستي انقلاب اغېزه" کښې د اکبر کرگر نه هم دغه رنګ تېر وتنې شوي دي.

په دغه حلقه کښې هغه کوم اثار او اشعار وړومبې اغېز من ياد وي. هغه د خدائي خدمتګارو ليکوالو او شاعرانو اصلاحي ليکونه دي.

د ماسټر کريم افسانے او افسانوي ليکونو د ذکر شوي اغېزے په ځائې د اصلاحي تحريک اغېزه ښېله کړې ده. ماسټر کريم د ميکسم ګورکي په ځائې د تهاسټائي رنګ اخستې دې. دغه بناغلې چې د ملّي ازادۍ سره طبقاتي درېځ دا يو ځائې کوي.

نو په دغه حلقه د هشنغر ادبي ټولنې خدمات د ستائنې وړ يادوي او د دغه ټولنې له خوا د تاج محمد خاموش خورشوي ديوان ستائې او هغه د تېز بېدار طبقاتي شعور ځبنتن يادوي.

د ذکر شوي ټولنې خدمات په ځل ځاې خو د پښتو ادبي ټولنو په تاريخ کښې تر ټولو مهم کردار اولسي ادبي جرګې ترسره کړې دې. د صنوبر حسېن کاکاجي په رهنمائې کښې د دغه اداري روزلي ليکوال په پښتو ادب کښې د تحقيق، تنقيد او مترقي قومي شاعري سرخېل دي.

دوست محمد خان کامل ، حمزه شنواري ، افضل بنګښ ، قلندر مومند ، قمر راهي سیف الرحمن سلیم ، ډاکټر محمد اعظم اعظم او نور د دغه جرګې په جرګو کښې مشران شوي دي . ددې نه پس نورې داسې جرګې او ټولنې جوړې شوي دي چې مترقي ادب ته ئې ډېر خدمت ورکړي دي . نو بناغلي ليکوال دغې هیڅ ذکر نهٔ دې کړي او د کومې ټولنې خدمات چې ئې ستائلي نو دغې هم صرف يو کتاب ياد کړې . حالانکې ياده شوې ټولنه نور اثار هم لري . هغه چې په کوم ديوان د ديوان د خالق شعوري بېداري ستائلې ده . دغسې کتابونه په پښتو کښې نور هم ډېر دي .

په دغسې کتابونو کښې د ډېرې ستائنې وړ د ابرار باچا "غريب انډم" دې . هسې کهٔ په دغه موضوع هر څوک ليکي او د اجمل خټک "دغېرت چغه" د قلندر مومند "ګجرے" "صباون" د رحمت شاه سائل " د وېرې چم کښې وار د نغمو دې " د سلېمان لائق کيب دي ، د نور محمد ترکی " د بنګ مسافرۍ" (ناول) او د مردان نه خورېدونکې " قند " مجله په نظر کښې اونهٔ لري . نو د دغه موضوع سره بهٔ انصاف اونهٔ کړې شي .

د کوکو د ياد شوي اثر يو بل يک " د پرګتو د روان تحفه " هم نيمګړے او سرسري يک دي . د اولسي شاعرۍ خاصکر " لنډۍ " په حقله دغه يک په دغه حقله د نوي معلوماتو د نشتوالي سره په زړو معلوماتو هم ناپوره دې .

دغسې " د نوي يا آزاد شعر په باب څو خبرې " هم نيمګړې او ناپوره دي . ليکونکي " د آزاد او نوي شعر ترمنځه تميز نهٔ دې کړې خو په افغانستان کښې يواځې د سلېمان لائق د چونغر څو نظمونه په دغه لړ کښې د شمير قابل

یا دوي نو څکه اندازه کېدې شي چې لیکوال د ازاد نظم په حقله غریږي.

په لره پښتونخوا کښې چې ددغه رنګ شعر د مخکښانو کوم فهرست هغه تیار کړي دې. په دوئ کښې د فضل محمود مخفي او عبدالمالک فدا نه تر عبدالله جان اسیر او فضل حق شیدا پورې یواځې سید رسول رسا څو آزاد نظمونه لیکلي دي. بلکې سمندرخان سمندر خو ډېر زیات پابند پاتې شوې دې.

په ورپسې نسل کښې چې کوم نومونه یاد شوي دي په دوئ کښې یواځې قلندرمومند یو نظم نیم ویلې دې او ایوب صابر په مستقله توګه څان آزاد ساتلې دې. په دغه حقله هاشم بابر ترې ځا زیات لیکونه کړي دي او چاپ اثار هم لري خو لیکوال یې ذکر نه دې کړې. او دا خو به لیکونکي ته معلومه وي چې په کوم دلیل مخفي، فدا، فضل احمد غر، محمد اکبرخادم، عبدالاکبرخان اکبر او عبدالخالق خلیق ددغه نوي شعر مخکښان دي خو ګل باچا الفت، بېنوا او رښتین په اخري صف کښې د وددېدو جوګه هم نه دي.

ددغه څېړنو کمو او کمزورو (که څه هم خپلې کم علمۍ تېرېستې نه یم) باوجود هم دغه درې واړه اثار دستائنې وړ دي.

د ډاکټر اسرار کتاب د خپل اسلوب او طرز بیان له کبله د پښتو تنقیدي اثارو کښې تر ټولو نوې اثر دې. ډاکټر اسرار یواځې د تکړ استاد نه دې عالم فاضل هم دې او د خبرې کولو په هنر هم پوهېږي. د تکړ په ژبه تنقید د هغه شناخت دې.

هغه د خپلو اولسو تکلونو کښې د پښتنو لیکوالو د څېړنو دوېو او چاپي اثارو جاج اخستې دې. په خندا خندا کښې یې د کار خبرې کړي دي په

ټوټو ټوټو کښې د مطلب ځایونه پۀ نخښه کړي دي ·

کۀ د چا د تخلیق یوه د ګاونډي پوړۍ ته اړمه شوې ده او کۀ چا پۀ خپل کند کښې پردی ټوټه لګولې وه نو ډاکټر پرې غږ کړې دی نو پۀ "جواب" کښې د سائل د آواز پۀ رعب کښې ښکاري ·

ببلګي

(۱) جمیل جالبی - ایلیٹ کے مضامین - سنگ میل پبلی کیشنز - لاهور - ص - ۱۳

(۲) پروفیسر کلیم احمد : تنقید اور ادبي تنقید ، مهه نیمروز ، کراچي ، اپریل مئی ۱۹۶۴ء

(۳) آل احمد سرور : تنقید کیا ہے ، تنقیدی نظریات ، مرتبه ، احتشام حسین
عشرت پبلشنگ هاوس لاهور ، ۱۹۶۵ء مخ ۲۰۵

(۴) سید محمد عبدالله : تحقیق و تنقید ، نیا دور ع ۵-۶ کراچي ۱۹۵۶ء

(۵) انټر نیشنل ډکشنري او انګلش لینګویج دویم ایډیشن -

(۶) سید رسول رسا : ارمغان خوشحال ، پښتو اکېډمي پېښور مخ ۵۹۶

(۷) ایضاً ———————————— مخ ۶۷

(۸) عبدالعظیم رانړيزی : دیوان عبدالعظیم (د ظفرالله خان ظفر په زیار)

(۹)

(۱۰) نکولا بولو : د فرانس نوموړی شاعر او طنز نګار تېر شوی - په کال ۱۶۷۴ کښې يې د "فن شاعری" په نوم يو منظوم تنقيدی شاهکار ليکلي دی - په دغه کتاب کښې ورانديې کړے شوي تصورات راوتي دی - نو ليکونکی په خپل علمي توان او مشاهده د خپل وخت د حالاتو په سمون کړي دي - په دغه ليک کښې هغه شاعری پېدا ئښی صلاحيت بللی دي - خو سره شاعری د پاره ئې د عقل شعور ، اعلی

خیالاتو، سوچ، فکرنوی او معیاري ژبې، سنجید ګی، احتیاط، صبر او تحمل صلاحیتونه ضروری ګڼل کیږي او دا د هم ورکړې ده چې شاعري هغه فن دے چې د سنځه او خراب تر منځه صلحه نه مني -
هغه دا هم وئیلی دي چې د شاعری مقصد د دولت په ځائے لافاني شهرت ګټل ګڼل کیږي -

(۱۱) نور دین : د نوره دین چاربیتې، د نصرالله خان نصر په زیار شاهین برقي پریس پېښور ۱۹۵۶ء

(۱۲) میاں تقویم الحق کاکاخیل : مقدمه د مخزن، پښتو اکیډیمي پېښور-

(۱۳) LEGOUIS AND CAZAMIANS هستری او انګلش لټریچر نولسم ایډیشن جے - ایم دونل اینډ سنز لیمټډ ۱۹۸۶ء
د دغه کتاب دویمه برخه فرانسیسي پوهاند EMILE LEGOUIS لیکلې ده او فرانسیسي نه انګریزي ته اړولې ده - ورستې برخه د کال ۱۶۶۰ نه تر کال ۱۹۷۰ پورې
RAMOND LAS VERG NAS او LOUIS CAZAMIAN لیک دي - د ګوشوي ایډیشن بیلوګراپي DONALD DAVIE لیکلې ده -
د انګریزي ادب د ارتقائي سفر او مختلفو دورو په حقله دغه کتاب په ټوله دنیا کښې مستند منلې شي -

(۱۴) میاں تقویم الحق کاکاخیل : مقدمه د دیوان علیخان - پېښور چاپ

(۱۵) خوشحال خان خټک : دستارنامه، پېښور، رومي مخ -

(۱۶) KIM BALL YOUNG RAY MOND W. MACK SOCIOLOGY AND SOCIAL LIFE AMERICAN BOOKS NEW YORK - P-8

(۱۷) جمیل جالبی : ارسطو سے ایلیٹ تک، نیشنل بک فاونډیشن - مخ ۲۶۴

بیلګې

(۱) احمد علی کهزاد : دافغانستان پخواني تاریخ ، ژباړنه ، محمد یونس مژاد
عتیق الله معروف ، غلام جیلاني جلالي . قیام الدین خادم
مخ ۲۵ ، ۴۲ ، ۴۴ ، ۱۷۷ ، ۱۷۸ ، ۱۹۴ ، ۸۱ - ۱۸۲ ، ۱۸۳ ، ۱۸۴ مخونه افغانستان .

(۲) ډاکټر اقبال نسیم خټک : د رنګ وبو قافله ، پښتون سریزه
۲۳ - ۲۲۷ - ۲۴۲ - ۳۴۲ - ۳۴۳ - ۳۴۲ - ۲۴۳ - ۳۴۳ - ۳۲۵ — مخونه

(۳) م - ر - شفق : د قلندر مومند فن او شخصیت ، پښتو ادبي سوسائټي اسلام آباد
۵۸ - ۹۰ - ۴۶ - ۴۹ - ۵۰ - ۵۱ - ۵۴ - ۲۷ مخونه

(۴) همیش خلیل :- تول پارسنګ پښتو ر

(۵) پروفیسر سعید الدین احمد ډار :- تحقیق میں حواشی ، حواله جات اور اقتباسات

(۶) تحقیق اور اصول وضع اصطلاحات پر منتخب مقالات ،
مرتبه اعجاز راهي
مقتدره قومي زبان اسلام آباد مخونه ۱۳۲ ، ۱۴۶

(۷) عبد الرازق قریشي ، فن تحقیق ، مقاله کی تسوید ، موضوع کی جانچ پرکھ -
اردو میں اصول - مرتبه ، ډاکټر سلطان بخش -
مقتدره قومي زبان اسلام آباد

(۸) ډاکټر تنویر احمد علوي . متن او روایت متن ، تنقید متن ،
مقتدره قومي زبان اسلام آباد .

(۹) زلمي هیوادمل :- دمتن دڅېړنې میتودولوژي (تالیف وترجمه) تقریظ[۱]

(۱۰) محمد صدیق روهي دافغانستان دعلومو اکاډیمي افغانستان
تقریظ[۲] معتمد جنتي شنواري .

(۱۱) صدیق الله رښتین :- ادبي او تاریخي سموني ، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور مخ ۶۹ - ۸۹ - ۹۵ - ۹۶ - ۱۰۰ - ۱۹۰ - ۱۹۱ - مخونه

(۱۲) حبیب الله :- دیوان حبیب - سریزه - سمون (د فهرستونه) عارف غروال دافغانستان دعلومو اکادمي - افغانستان -

(۱۳) ارباب سکندر خان خلیل :- ژوره سکرونه پېښور مخ ۳۴ - ۶۴ - ۹۸ - ۹۹ - ۱۰۰ - ۱۰۱ مخونه -

(۱۴) زلمي هېوادمل :- دکره کتنې دولونه (تالیف او ترجمه)

دافغانستان دیکوالو انجمن کابل مخ ۱۰

(۱۵) حبیب الله رفیع :- د پښتو کتاب بتود ، افغانستان

زلمي هېوادمل . یادشوی کتاب مخونه ۱۶ ، ۲۲ ، ۲۸

(۱۶) دوست شنواري :- دادب دتیوری اساسونه

دولتي مطبوعه کابل مخ ۲۰

(۱۷) محمد رحیم الهام :- ادبي مسائل (تالیف او ترجمه)

دافغانستان دیکوالو انجمن کابل مخ ۸۲

(۱۸) اکبر کرگر نحو ادبي یادوني (تالیف او ترجمه)

دافغانستان دیکوالو انجمن . کابل مخ

(۱۹) دوست شنواري :- یادشوی اثر مخ ۱۱

ایضاً مخ ۳۲

ایضاً مخ ۳۱۸

(۲۰) رحیم الهام :- یادشوی اثر مخونه ۶۷ - ۶۸

۲۱ دوست شنواري :- یادشوی اثر مخ ۳۲۷



د لیکوال پېژندګلو

نوم او تخلص : صاحب شاه صابرؔ

د زېږېدو نېټه : ۱۹۵۶ ۔ ۳ ۔ ۹

د زېږېدو ځای :- سخاکوټ ملاکنډ ایجنسي

تعلیم : ایم ، اے پښتو، ایم ، اے اُردو ، ایم
اے سیاسیات ، ایم ، فل
پی - ایچ - ډی ریسرچ فلو پښتو ډیپارټمنټ
پېښور پوهنتون -

د لیکوال آثار

۱- ټکل شاعري : چاپ
۲- واورې او ګلونه (افسانې) چاپ
۳- پښتو ادب کښې تحقیق او تنقید (هم دا اثر)
۴- خوبونه (شاعري) چاپ ته تیار -
۵- تنقید او د تنقید دولونه " "
۶- د تنقید تاریخ - " "
۷- پښتو ټپه او پښتانه " "
۸- رڼا او رنګونه (مقالې) " "
۹- په پښتو شاعرۍ کښې ټولنیز مافیت
(ایم ، فل مقاله) چاپ ته تیار -